



Download from: ketabton.com

بسم الله الرحمن الرحيم

Download from: ketabton.com

د کتاب پېژندنه

||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

د کـتـاب نـوم : ربیع الاول او میلاد نبوي

لیکوال :: علامه محمد معین الدین أبوالفضل

خـــپـرونـکـــی: بېنوا انټرنیټ پاڼه

د چاپ ټول حقوق له لیکوال او بېنوا پاڼې سره خوندي دي.

Download from: ketabton.com

# ربيع الاول او ميلاد النبي

نحمده ونصلي على رسوله الكريم.

امابعد: فأعوذبالله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم.

(ومٓاارسلناک الارحمة للعالمين) وايضاً قال الله تعالي( انک ميت وانهم ميِّتون) وايضاً قال الله تعالى (لقد جاء کم رسول من انفسکم عزيز عليه ماعنتم حريص عليکم باالمومنين رءوف رحيم )

محترمومسلمانانو! څرنګه چې دربيع الاول مبارکه ميا شت رابره سويده اوپه دغه مياشت کښی داسلام پيغمبرامام الانبياء رحمة للعالمين رسول حضرت محمدصلى الله عليه وسلم زيږيدلئ دئ اوپه همدغه مياشت کښی وفات سوئ دئ په همدغه مناسبت زه غواړم چي ومحترمو مسلمانانوته داسلام دپيغمبر دولادت اوله دنيا څخه دده مبارک درحلت اووفات بيان اوتفصيل په هغه ډول وکړم چي په شرعي لحاظ زيات مستند اومثبت وي اودمسلمانانو دزړونودپاره ډيرجالب اورقت وربخښونکئ وي اوهمدارنګه غواړم داسلام دپيغمبردميلاد اودو فات دورځي دلمانځني په باب واقعي اوسوچه شرعي معلومات عرض کړم اوپه دي اړه دافراط کونکو اودتفريط کونکو چهره څرګنده کړم.

محترمو وروڼو!يوځل بيادرته ذکرکوم چي په دغه لړئ کښي به وتاسي محترموته څلورقسمه مطالب په تفصيل سره بيان کړه سي.

اول داسلام دپيغمبر دولادت واقعه اودده مبارک دتولد په وخت کښي نااشنااونادره خارق العادته پيښي.

دوهم دده مبارک دوفات اوله دنيا څخه دده درحلت واقعه .

دريم دده مبارک دولادت اودوفات دورځي دلمانځني شرعي حکم اوپه دي اړه دافراط اودتفريط په باب شرعي حکم .

اوڅلورم داسلام دپيغمبر دعظمت دشان په باب ځني بيخي نادراومثبت اوصحيح معلوماتونه.

محترم وروڼه دي له دي څخه هم باخبره وي چي دغه بيانونه له ډيروعمده اومعتبروکتابوڅخه مأخوذدي لکه (البداية والنهاية ، سيرت ابن هشام ،تاريخ طبري ، محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم [تاليف،محمدرضا، روضة الشهداء [للواعظ الکاشفي] ، سخاوي ، مدارج النبوة [للمحدث دهلوي ] ، الحاوي [للامام السيوطي] ،وغيره(

له محترمو مسلمانانوڅخه هيله کوم چي دخپل محبوب پيغمبر په باره کښي دغه بيانونه په ډير غور سره مطالعه کړي اودشوق اوذوق اودمينى اومحبت اودجوش اوخروش په کتنه سره ددغو بيانو دخپل پيغمبر دولادت اودرحلت

Download from: ketabton.com

دورځي حق وراداء کړئ دااوله برخه تمهيدي بيان وو مقصودي بيانونه به انشاءالله پرلپسي ستاسي وحضورته تقديم کړه سي

Download from: ketabton.com

بسمه تعالی! !

محترمومسلمانانو ! اوس د رحمة اللعالمين پيغمبر (صلی الله علیه وسلم ) د تولد او د زوکړي په تفصيلاتو پيل کوم.

محترمو ورونو ! د حج مبارکي ورځي وې او د تشريق د ورځو مابين ؤ ، دجمعې مبارکي شپه وه چي د اسلام د پيغمبر د خلقت ماده دده د مبارک پلار عبدالله له وجود څخه ، دده د مبارکي مور حضرت بي بي آمنې ( رضي الله عنها ) و مبارک رحم ته ورنقل سوه .

حضرت امام أحمد بن حنبل فرمايلي دي چي د جمعې مبارکه شپه د ليلة القدر تر شپې بهتره ده ؛ ځکه چي کومي ښيګڼي ، برکتونه ، کرامتونه او نيکبختۍ چي په جنس کښي د جمعې د مبارکي شپې پر عالميانو باندي راتوې سوي او نازل سويدي په هيڅ بله شپه کښي نه راتوې سويدي او نه به د قيامت تر ورځي پوري راتوې سي ، نو که په دغه وجه د إسلام د پيغمبر ( صلی الله علیه وسلم ) د ميلاد شپه د � شب قدر � تر شپې أفضله او بهتره وګڼله سي نو لايقه خبرده .

او ډيرو علماؤ پر دغه خبره باندي تصريح هم کړېده ، په رواياتو کښي راغلي دي چي په دغه شپه کښي له الهي لوري و ملائکوته حکم وکړ سو چي ټول عالم په أنوارو د قدس (يعني د ذات مقدس چي الله [جل جلاله ] دئ ) منور وګرځوی ، او ټول ملائکه ، اسمانونه او مځکه په سرور ، ابتهاج او خوشحالۍ کښي راغلل ، او و خازن ته د جنت أمر وسو چي � فردوس أعلی � خلاص کړي او ټول عالم په خوشبويه رائحو سره معطر وګرځوي ، او و ټولو طبقو ته د اسمانو او و ټولو ځايو ته د مځکي زيرئ ورکړ سو چي محمدي نور نن شپه د حضرت بي بي آمنې په رِحم کښي قرار ونيوئ.

همدارنګه روايت سوئ دئ چي په سهار کي ددغي شپې د مځکي د مخ ټول بتان سرچپه پر مځکه باندي ولوېدل او د مځکي پر مخ باندي د ټولو بادشاهانو تختونه سرنګون کړه سوه ، او په دغه شپه کښي هيڅ يو سرائ داسي ندئ پاته سوئ چي روښانه سوئ دي نه وي او هيڅ يو ځائ داسي ندئ پاته سوئ چي منور دي نه وي ګرځېدلئ ، او هيڅ يو چارپائ داسي نه دئ پاته سوئ چي په دغه شپه کښي دي دَی ګويا سوئ او خبري کونکئ نه وي ګرځيدلئ ، او په دغه شپه کښي د مشرق وحشي حيوانانو د مغرب پر وحشي حيوانانو باندي د إسلام د پيغمبر ( صلی الله علیه وسلم ) زيرئ وکړ او تر دغه شپه له مخه قريش په سختي قحطۍ او تنګۍ کښي واقع سوي وو چي درختي ټولي وچي سوي وې او چارپايان يې له ډيري کمزورۍ او ډنګروالي پر لار باندي نسوائ تللائ ، ددغه شپې په برکت الله تعالی بارانونه شروع کړل او له قريشو څخه قحطي ولاړه او له خوشحالۍ او پراخۍ سره مخامخ سول ، په دې وجه به قريشو ودغه کال ته � سنة الفرح و الإبتهاج � وايو .

Download from: ketabton.com

د إسلام پیغمبر ( صلی الله علیه وسلم ) پوره نهه میاشتي ( نه زیات او نه کم ) د خپلي مبارکي مور په رحم کښي ؤ ، په دغه موده کښي دده مبارکي مور هيڅ یو داسي تکلیف ندئ محسوس کړئ لکه څرنگه چي يې نوري ښځي په عمومي ډول د حمل په وخت کښي محسوسه وي .

لکه چي له حضرت آمنې څخه نقل سوئ دئ چي دې مبارکي فرمایلي دي چي زه په دې هيڅ نه یم اگاه سوې چي زه خاونده د حمل یم ، مگر تنها له دې وجي مي پر ځان باندي د حاملې خیال راتلئ چي زنانه مرض مي قطع سوئ ؤ .

له ځيني روایتو څخه داسي فهمیږي چي په وخت کښي د حمل ددې مبارکي په پیغمبر د إسلام دې د څه تکلیف او ثقل حس وکاوئ ، خو علماؤ دا پر ابتدا د حمل ، حمل کړئ دئ ، چي دا بیایو بل خارق العادته کار دئ ؛ ځکه چي ښځي په ابتدا کښي د حمل کوم تکلیف نه محسوسوي بلکي په وروسته کښي احساس د تکلیف ورته پیداکیږي .

حضرت ابونعیم له ابن عباس څخه روایت کړئ دئ چي یوه نښانه د حملداره کېدو د حضرت آمنې په رسول د خدائ دا وه چي په قریشو کښي چي څه چارپایان وو ټولو په هغه شپه کښي دا ویل چي : � موږ په خالق د کعبې قسم کوو چي د الله تعالی په رسول باندي دده مبارکه مور حملداره وگرځېدله ، کوم چي د تمامي دنیا امام او د ټولو خلگو د هدایت څراغ دئ .

او په یوه روایت کښي داسي راغلي دي چي د مځکي د مخ ټولو چارپایانو دغه ډول خبر په دغه شپه کښي وکړه .

همدارنگه حضرت آمنې (رضي الله عنها ) فرمایلي دي چي په داسي حال کښي چي زه نیمئ ویښه وم او نیمئ بیده وم ، دا ږغ مي واوریدئ چي : � تر ټولو خلگو په بهترین شخص سره ته حملداره سوې يې � او د همدغه غیبي ږغ په وجه زه په دې عالمه سوم چي زه حملداره یم .

همدارنگه دې مبارکي فرمایلي دي چي په دوران کښي د حمل هره میاشت د اسمان او مځکي له طرفه پر ماباندي داسي غیبي ږغ کیدئ چي : � خوشحالي دي وي تا لره چي ددې وخت رارسېدلئ دئ چي ظاهر به سي له تا څخه � أبوالقاسم � ( صلی الله علیه وسلم ) .

همدارنگه حضرت بي بي آمنې فرمایلي دي چي حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم ) چي کله ځما په نس کښي ؤ ، نو په خوب کښي مي ولیدل چي یو نور له ما څخه جلا سو داسي نور چي ټول عالم په هغه نور سره منور وگرځیدئ ، او دارنگه مي بنگلې د � بصرى � کوم چي د شام په طرف کښي یو ښار دئ ولیدلې ، او ددغه واقعې په مثل د إسلام د پیغمبر د ولادت په وخت کښي هم پېښه سوه .

Download from: ketabton.com

له حضرت بي بي آمنې څخه ماسوى د اسلام له پيغمبر څخه بل كوم ولد ندئ پيداسوئ ، او دارنګه دده مبارک د پلار عبدالله هم بل هيڅ څوى ندئ څيږيدلئ .

په دې موضوع كښې روايتونه مختلف دي چي د إسلام د پيغمبر د تولد په وخت كښې دده پلار ژوندئ ؤ او كه وفات سوئ ؤ ؟

ځينو علماؤ ذكر كړيدي چي دده مبارک پلار دده تر تولد له مخه وفات سوئ دئ او دغه قول ډير مشهور هم دئ او ځينو عمده علماؤ ددې تصحيح هم كړېده.

او ځينو علماؤ ويلي دي چي دَى مبارک د اتو يا د اوو يا د دوو مياشتو ؤ ، او دغه راز نور قولونه هم راغلي دي.

دده مبارک دپلار حضرت عبدالله صاحب د وفات واقعه په مختصر ډول داسي وه چي : عبدالله صاحب د قريشو له يوې ډلي سره په تجارت ولاړئ ، كله چي و مدينې منورې ته دوى ورسېدل نو عبدالله هلته مريض سو ، د مرض په وجه له خپلو ملګرو څخه د خپلو ماماګانو په كور كښې پاته سو كوم چي د بني نجار له قبېلې څخه ول ، كله چي دده ملګري و مكې شريفې ته راورسېدل نو عبدالمطلب له دوى څخه د خپل څوى عبدالله پوښتنه وكړه ؟ دوى ورته وويل چي هغه د ناجوړې په وجه په مدينه منوره كښې د خپلو ماماګانو په كور كښې پاته سو ، بيا عبدالمطلب خپل مشر څوى � حارث � دده د معلومات دپاره و مدينې ته وليږئ ، حارث چي و مدينې ته ورسيدئ نو په دغه وخت كښې عبدالله صاحب وفات سوئ او دفن سوئ ؤ په داسي ځاى كښې چي � دار نابغه � ورته ويل كيده .

او ځينو علماؤ فرمايلي دي چي دده مبارک دفن په � أبوا � كي سوئ دئ .

له حضرت ابن عباس ( رضي الله عنه ) څخه روايت دئ چي كله عبدالله صاحب وفات وكړ نو ملائكه و و الله تعالى ته عرض وكړ چي اې څموږ باداره ! محمد چي پيغمبر او حبيب ستا دئ يتيم وګرځيدئ ، نو الله ( جل جلاله ) و فرشتو ته په جواب كښې وفرمايل چي د محمد زه حافظ ، مددګار او كفيل يم ، تاسي پر محمد باندي صلوة او سلام واياست او و ده ته دعاګاني كوى .

دا د إسلام د پيغمبر حضرت محمد مصطفى (صلى الله عليه وسلم ) تر ولادت له مخه د � مشت نمونهء خروار � په ډول ځيني له عظمت او له جلال څخه ډک حالات وو چي ما درته ذكر كړل ، نو تاسي فكر وكړى چي كله دَى مبارک ځيږېدئ او دنيا دده په وجود سره مشرفه كيدله نو لا به څه قسم عجائبات منځته راغلي وي چي د هغوى تفصيل به هم ( إن شآءالله ) سره له بيانه د واقعې د تولد دده مبارک په راتلونكي برخه كښې درته راسي .

)مدارج النبوت للمحدث الدهلوي وغيره . (

ومن الله التوفيق.

Download from: ketabton.com

Download from: ketabton.com

بسمه تعالی! !

محترمومسلمانانو ! په دې او راتلونکې برخه کښې وتاسې محترمو ته د إسلام د پیغمبر د ولادت او د زوکړې او دارنګه دده مبارک د زوکړې د تاریخ په شا وخوا کښې د ځینو مهمو خارق العادته پیښو بیان درته کوم کومې چې په شریعت کښې � ارهاصات � ورته ویل کیږي :

اول : د اسلام د پیغمبر ( صلی الله علیه وسلم ) د تولد او زوکړې نیټه او تاریخ :

شیخ عبدالحق محدث دهلوي په � مدارج النبوت ج ۲ ص ۱۴ � کښې ذکر کړیدي چې جمهور د أهل سِیَر اود تواریخ پر دې خبره باندي دي چې تولد او زوکړه د اسلام د پیغمبر ( صلی الله علیه وسلم ) په � عام الفیل � کښې وروسته له دې څخه چې د فیل د واقعې څلویښت ورځې یا پنځه پنځوس ورځې تیرې سوي وې سوېده ، او دغه قول أصح د أقوالو دئ .

او دارنګه داخبره مشهوره ده چې تولدده مبارک د � ربیع الأول � په میاشت کښې سوئ دئ.

او ځینو علماؤ پر دغه خبره باندې ادعا د اتفاق کړېده .

دارنګه د ده مبارک تولد په دولسمه د ربیع الأول کښې سوئ دئ ، او په دې باره کښې نور قولونه هم راغلي دي خو دغه قول أشهر او أکثر دئ ، او د مکې د خلګو عمل هم پر دغه خبره باندې جاري ؤ ؛ ځکه چې دوی به د ربیع الأول په دوولسمه د إسلام د پیغمبر د ولادت د ځائ زیارت کاوه ، او دده مبارک د زوکړې په مناسبت چې به کوم د خیر کارونه دوی کول نو هغه به هم د ربیع الأول په دوولسمه شپه کښې وو .

او دارنګه ورځ د دوشنبې وه ، لکه څرنګه چې و ده مبارک ته له الهي لوري څخه ابتدا د وحي او هجرت دده مبارک له مکې مکرمې څخه ، او رسېدل دده و مدینې منورې ته او فتح د مکې شریفې او وفات دده مبارک د دوشنبې په ورځ سویدي .

د دوشنبې د ورځې چې د ربیع الأول دوولسمه ورځ وه ، د صبح صادق په وخت کښې دده مبارک زوکړه وسوه .

او ځینو علماؤ فرمایلي دي چې دده مبارک تولد د دوشنبې په شپه کښې سوئ دئ ، دغه علمآء پ دې سره دلیل نیسي چې په روایاتو کښې راغلي دي چې دده مبارک د زوکړې په وخت کښې ستوري و مځکې ته رانژدې کړه سوه او دارنګه شهب او کواکب پرلپسې د اسمان له طرفه رالوېدل ، خو د دوی له دغه استدلال څخه په دې ډول جواب ورکړ سوئ دئ چې د إسلام د پیغمبر د ولادت او د نبوت زمانه خو د خارق العادته شیانو د ښکاره کیدو زمانه وه نو دا ممکن دئ چې رانژدې کیدل د ستورو دي و مځکي ته او دارنګه سقوط د ستورو دي په خارق العادته توګه د ورځې واقع سوئ وي .

Download from: ketabton.com

پوه سه ! چي د علمِ نجوم ځينو ماهرانو ذکر کړيدي چي په کوم ساعت کښي چي د إسلام د پيغمبر (صلى الله عليه وسلم) تولد سوئ دئ هغه ( يعني د دنيا د ټول عمر په ساعاتو کښي ) تر ټولو اسعد او ډير نيکبخته ساعت ؤ ، لکه چي په � روضة الأحباب � کښي هم ددې ذکر راغلئ دئ ، خو محدث دهلوي فرمايلي دي چي حقه خبر داده چي د إسلام پيغمبر (صلى الله عليه وسلم) متشرف په زمانه سره ندئ بلکي زمانه په ده سره متشرفه ده ، همدا سبب دئ چي ولادت دده مبارک په هغو مياشتو کي ندئ واقع سوئ چي په کرامت او برکت سره مشهوري دي لکه محرم ، رجب او رمضان .

له حضرت ابن عباس څخه روايت دئ چي : � ولدَ رسول الله (صلى الله عليه وسلم) يوم الإنين و أستنبئ يوم الإثنين و خرج مهاجرا من مكة الى المدينة يوم الإثنين و قدم المدينة يوم الإثنين و توُفيَ يوم الإثنين و رفِعَ الحجرالأسود يوم الإثنين � تفرد به أحمد ، وفي رواية بزيادة : � نزلت سورة المآئدة يوم الإثنين � (كذافي البداية والنهاية ) .

د � محاضرات تاريخ الأمم الإسلامية للخضري � کښي د ج١ص٦٢ کښي ، دارنګه د � رحمة اللعالمين � د ج١ ص٣٨ـ٣٩ کښي

د إسلام د پيغمبر (صلى الله عليه وسلم) د مَولد په باب داسي راغلي دي : � ولد سيد المرسلين (صلى الله عليه وسلم) بشعب بني هاشم بمكة في صبيحة يوم الإثنين التاسع من شهر ربيع الأول ، لأول عام من حادثة الفيل ، ولأربعين سنة خلت من ملك كسرى أنوشيروان ، ويوافق ذالک العشرين او الثاني و عشرين من ابريل سنة ٥٧١م حسبما حققه العالم الكبير محمد سليمان المنصور فور و المحقق الفلكي محمود باشا . �

او شيخ محمد رضا د خپل کتاب � محمد رسول الله � چي د ډيرو عمده کتابو د سِيرَ او دتاريخ له پخوړ څخه جوړ دئ په ص١٢ کښي د إسلام د پيغمبر (صلى الله عليه وسلم) د مَولِد په ارتباط داسي ذکر راغلئ دئ : � ولد النبي (صلى الله عليه وسلم) في فجر يوم الإثنين لاثنتى عشرة ليلة مضت من شهر ربيع الأول ( و هل مكة يزورون موضع مولده في هذا الوقت ) في عام الفيل ، و لأربعين سنة خلت من حكم كسرى أنوشيروان خسرو بن قباذ بن فيروز ٢٠ أغسطس سنة ٥٧٠م بمكة في الدار التي صارت تدعي لمحمد بن يوسف الثقفي أخى الحجاج ، و كانت قبل ذلک لعقيل بن أبي طالب و نزل على يد الشفا أم عبدالرحمن بن عوف فهي قابلته . �

د � ألأنوار المحمدية من المواهب اللدنية � په ص٦٧ کښي راغلي دي چي علمآؤ اختلاف کړئ دئ په شان کښي د کال د ولادت د نبي (صلى الله عليه وسلم) خو أکثر علماء پر دغه خبر باندي دي چي د إسلام پيغمبر (صلى الله عليه وسلم) په عام الفيل کښي زيږيدلئ دئ ، په داسي حال کښي چي د فيل له واقعې څخه ٥٠پنځوس ورځي تيري سوي وې او مياشت د ربيع الأول وه ، ورځ د دوشنبې وه ، وخت د صبح صادق ؤ او د ربيع الأول دوولسمه وه .

Download from: ketabton.com

محترمو مسلمانانو ! په راتلونکي برخه کښې به و تاسي ته د هغو عجآئباتو او خارق العادته پيښو بيان وسي کومي چي دده مبارک د تولد د وخت پر شاوخوا پيښي سويدي .

Download from: ketabton.com

بسمه تعالی! !

قدرمنومسلمانانو ! په دې برخه کښې د إسلام د پيغمبر ( صلی الله عليه وسلم ) دتولد په وخت کښې او يا دده مبارک له تولد څخه وروسته تر هغه وخته پوري چې دَی و مبارکي مرضعې ، حليمې سعديې ته ورسپارل کيدئ او يا وروسته بيا د حليمې سعديې له طرفه بيرته وخپل مبارک نيکه عبدالمطلب ته سپارل کيدئ ، هغه مستند او په صحت رسيدلي عجائب ، ارهاصات او خارق العادته واقعې نمبرواره درته ذکرکوم کومي چې څموږ او ستاسي د ګران رسول حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم ) د بې مثاله او بې نظيره عظمت او رفعت څرګندويي دي :

)۱ : ( أخرج أبونعيم عن بريده و إبن عباس قالا : رأت آمنة في منامها فقيل لها : إنک قد حملت بخير البرية و سيدالعالمين ، فإذا ولدتيه فسميه أحمدًا و محمدًا و علقي عليه هذه ، فانتبهت و عند رأسها صحيفة من ذهب مکتوب عليها : أعيذه بالواحد ، من شر کل حاسد ، و کل خلق رائد ، من قائم وقاعد ، عن السبيل عائد ، علی الفساد جاهد ، من نافث او عاقد ، و کل خلق مارد ، يأخذ بامراصد ، في طرق الموارد ، أنها هم عنه بالله الأعلی ، و احوطه منهم باليدالعليا ، والکف الذي لايری ، يدالله فوق أيديهم ، و حجاب الله دون عاديهم ، لا يطردوه ولايضروه في مقعد ولامنام ، و لا مسير و لا مقام ، أول الليالي و آخرالأيام .

)کذا في الخصائص الکبری للسيوطي . (

ترجمه : حضرت بي بي آمنې يو خوب وليدئ او ورته وويل سول په دې خوب کي چې : بېشکه ته حملداره سوې يې په بهتر د انسانانو او په سردار د عالميانو ، نو کله چي و ځيږوې ته دَی نو مسمی يې که په أحمد او په محمد سره او راوځړوه پر ده باندي ( يعني دده پر غاړه باندي ) دا کلمې چي : � أعيذه بالواحد الخ ، نو کله چي دا ويښه سوه و سر ددې ته د سرو زرو يوه صحيفه پرته وه او دا مذکوري کلمې پکښې ليکلي سوي وې (چې له أعيذه بالواحد څخه شروع بيا تر پايه پوري) .

)۲ : ( و أخرج البيهقي والطبراني و أبونعيم ، و إبن عساکر عن عثمان بن أبي العاص قال :

حدثتني أمي أنها شهدت ولادة آمنة أم رسول الله(صلی الله عليه وسلم ) ليلة ولدته قالت : فما شئ أنظر اليه في البيت إلانور و إني لأنظر إلی النجوم تدنو حتی أني لأقول ليقعن علي ، فلما وضعت خرج منها نور أضآء له البيت و الدار حتی جعلت لا أری إلا نورًا.

ترجمه : بيهقي ، طبراني ، أبونعيم او ابن عساکر له عثمان څخه چي د أبي العاص ځوی دئ روايت کړئ دئ چي ده مبارک فرمايلي دي چي : ماته ځما مور دا قصه وکړه چي کله چي د رسول الله(صلی الله عليه وسلم ) له مور مبارکي حضرت آمنې څخه د الله پاک رسول پيدا کيدئ نو زه و ولادت ددې مبارکي ته حاضره سوم ، نو په دغه کور کښې هيڅ داسي شئ نه ؤ چي ما به ورته وکتل مګر خالص نورګرځيدلئ ؤ او د أسمان و ستورو ته مي کتل چي

Download from: ketabton.com

وارپه وار دونه رانژدې کیدل چې ما به له ځانه سره دا ویل چې دغه ستورې به پر ما باندې راولوېږي ( د مذکور روایت دپاته کلمو توضیح به په بل نمبر کښې درته راسي ) .

)٣ : ( له عمر بن قتیبه څخه روایت دئ چې ځما پلار قتیبه وویل چې هغه وخت چې د حضرت آمنې (رضي الله عنها ) د ولادت وخت سو نو الله پاک و فرشتو ته وفرمایل چې د اسمان ټولې دروازې خلاصې کړی او دارنګه د ټولو جنتو دروازې هم ټولې خلاصې کړی ، او دارنګه یې و پرشتو ته حکم وکړ چې د إسلام د پیغمبر د زوکړې و ځائ ته ټول حاضر سی ، بیا پرشتې راکښته سوې په داسې حال کښې چې یو پر بل یې د إسلا د پیغمبر د زوکړې زیرئ کاوئ او د ټولې دنیا غرونه اوږده ، دراز او جګ سول او د ټولو دریابو اوبه د أسمان وطرفته پورته سوې ، او د ټولو دریابو اوسیدونکیو خوشحالۍ شروع کړې ، او یوه ملائکه داسې نه وه چې د إسلام د پیغمبر د زوکړې و ځائ ته دې نه وه حاضره سوې ، او شیطان ملعون د � بحرخضرا � یعنې د زرغونه دریاب و منځته سرچپه خپل ځان وروغورځاوه ، او نور ټول شیطانان په دغه وخت کښې په طوقو او ځنځیرو وتړل سول او د لمر نور او روښنایی ته د خپل أصلي حالت په نسبت زیات عظمت او لویې وروبخښله سوه ، او د حضرت بي بي آمنې پر سر باندې په هوا کښې اویا زره حورې د جنت ودرولې سوې چې د إسلام د پیغمبر د ولادت او د زوکړې انتظار یې کاوه ، او په دغه کال کښې الله (جل جلاله ) خپله الهي فیصله په دې ډول صادره کړه چې د دنیا ټولې ښځې به دغه کال له وجې د کرامته د حضرت محمد ( صلی الله علیه وسلم) نارینه اولادونه زیږوي ، او دغه کال به داسې درخته ( یعنې میوه داره درخته ) نه پاته کیږي چې میوه دې ونه کړي ، او دغه کال چې په خلګو کښې کومه ویره او ترس موجود وي هغه به له منځه ځي ، او أمن او أمان به جوړیږي .

بیا چې کله د إسلام پیغمبر و زیږېدئ نو ټوله دنیا له نوره څخه ډکه سوه او ټولو ملائکه ؤ خوشحالۍ شروع کړې او په هر اسمان کې یو عمود د زبرجدو او یو عمود د یاقوتو پیدا کړ سو چې ټول اسمانونه په روښانه کړه سول ، او کله چې د إسلام پیغمبر د معراج په شپه و اسمانو ته پورته سو نو دغه عمودونه او ستنې ده مبارک په خپله ولیدلې او وده مبارک ته په شپه د معراج وویل سول چې ستا د ولادت په خوشحالي کښې دغه عمودونه په اسمانو کښې خدائ پاک پیدا کړل .

او همدارنګه دده مبارک د زوکړې پر مهال د نهر کوثر پر غاړه باندې ( کوم چې په جنت کښې دده مبارک په نامه باندې و نهر دئ ) اویازره درختې د أظفر مشکو کوم چې أفضل ترین مشک دې پیدا کړې چې د دغو درختو میوې به د قیامت په ورځ جنتیان د خوشبویې په ډول کاروي .

او د دنیا ټول بتان سرچپه ولوېدل ، او د لات او عزی دوه بتان له خپل ځائ څخه ووتل او دا ډول یې ویل : اوس تباهي او خرابي و قریشو ته راغله چې محمد � أمین � پیدا سو ، قریش نه پوهیږي چې څه ورپېښه سوه ، او

Download from: ketabton.com

دارنگه د بیت الله شریفي له نس څخه ډیري ورځي دغه الفاظ خلگو اوریدل : الآن یُرَد علي نوري ، الآن یجیئني زواري ، الآن أطَهر من أنجاس الجاهلیة ، ایتها العزی هلکتِ .

او همدارنگه درې ورځي پرلپسې کعبه شریفه په زلزله او حرکت کښي وه .

)أخرجه أبو نعیم ، کذافي الخصائص الکبری لسیوطي . (

پوه سه ! چي ددغه حدیث په باب امام سیوطي د نکارت شدیده ذکر کړئ دئ ، خو دا د سند و ځینو راویانو ته د کتلو په وجه دئ او پاته سو ذکر سوئ مضمون ، نو د هغه په تحقق او په ثبوت کښي شک کول ډیر نالائق کار دئ ؛ ځکه هغه شخصیت چي قطعي دلائل پر دې خبره باندي قائم دي چي دنیا ټوله دده په خاطر پیدا سوې ده ، نو د هغه د تولد پر مهال دغه ذکر سوئ مضمون ډیر کم لا ښکاره کیږي تر دې غټې غټې واقعات په قوي دلائلو ثابت دده مبارک د زوکړې په مناسبت واقع سویدي .

)۴ : ( خطیب بغدادي روایت کړئ دئ چي حضرت آمنې فرمایلي دي چي کله له ما څخه محمد (صلی الله علیه وسلم ) پیدا سو نو ما یوه ډیره لویه نوراني وریځ ولیده چي په دغه وریځ کي ما د اسانو � سهیل � ( یعني سِیسنئ ) او د وزرو ( یعني د وزرو د پرشتو ) اواز او د نارینه ؤ کلام واوریدئ ، په دغه وریځ کښي محمد (صلی الله علیه وسلم ) پټ کړ سو ، او له ما څخه غائب کړ سو ، وروسته مي له یو چا څخه واوریدل ( یعني له یوه غیبي ږغ کونکي څخه ) چي داسي یې ویل : � طوفوا بمحمدٍ في جمیع الأرض و اعرضوه علی کل روحاني من الجن و الملائکه والطیور والوحوش ، واعطوه خُلق آدم ومعرفة شیث و شجاعة نوح و خلة إبراهیم ، ولسان اسماعیل و رضآء اسحق و فصاحة صالح و حکمة لوطٍ و بشری یعقوب و شدة موسی و صبرَ أیوب و طاعة یونس و جهادَ یوشع و صوت داود و حب دانیال ، و وقارَ الیاس و عصة یحیی و زهدَ عیسی ، و أغمسو ه في أخلاقِ النبیین.

یعني : طواف وکړی په محمد ، وګرځوی دَی په ټوله مځکه کښي او عرض کړی وړاندي کړی دَی پر ټولو هغو موجوداتو باندي چي خاوندان د روح وي له پیرانانو څخه او له انسانانو او ملائکه ؤ څخه او له مرغانو او وحشي حیوانانو څخه ، او ورکړی ورده ته خِلقت د آدم او معرفت د شیث او شجاعت د نوح او خلیل والئ د إبراهیم او ژبه د إسماعیل ، او رضا او خوشحالي د إسحق او فصاحت د حضرت صالح او حکمت د حضرت لوط ، او د خوشحالی زیرئ د یعقوب او قوت او سختي د موسی او صبر د أیوب او طاعت او فرمانبرداري د یونس او جهاد د یوشع او صوت ( یعني ښه اواز ) د داؤد او محبت د دانیال او وقار او سنگیني د الیاس او عصمت د یحیی او زهد د عیسی ، او غوټه کړی دَی په أخلاقو د نبیانو کښي.

لکه چي یو شاعر فرمایلي دي :

حسن یوسف دمِ عیسی یدِ بیضا داري آنچه خوبان همه دارندُ تو تنها داري .

Download from: ketabton.com

بیا حضرت بي بي آمنې فرمایلي دي چي وروسته له دې څخه چي دغه حالت له ده مبارک څخه لیري سو نو ناڅاپه غیبي درې نفره پیدا سول د یوه په لاس کښي د سپینو زرو ګړوه وه او د بل په لاس کښي د زمرودو یو تال ؤ او د دریم پلاس کښي سپین وریښم ( یعني د سپینو وریښمو یوه ټوټه وه ) بیا یې دغه ټوټه و غوړوله ، بیا یې یو داسي مُهر ورڅخه راوایستئ چي د کتونکو سترګي یې ( یعني د بې انتها خوندور والي په وجه ) په حیرت کښي اچولې ، بیا یې دَی مبارک اوه واره د ذکرسوي ګړوې په وجه پریمنځئ ، بیا یې په ذکرسوي مُهر سره دده مبارک د دوو اوږو په منځ کښي مُهر ولګاوه ، بیا یې په ذکر سوي وریښمین ټوکر کښي دَی مبارک وپیچئ ، بیا یې یو ساعت په خپلو وزرو کښي ونیوئ وروسته یې و ماته بیرته راکړ .

)كذا في الأنوار المحمديه من المواهب اللدنيه . (

Download from: ketabton.com

بسمه تعالی! !

اللهم صل على محمد النبي الأمي و على آله و أصحابه وبارک وسلم .

قدرمنومسلمانانو ! د إسلام د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم ) د تولد او د زوکړې په حرمت او په برکت ، یا په بل عبارت دده د تولد په استقبال کښې چې الله (جل جلاله ) و عالم انسانیت ته ، بلکې و عالمِ مُلک او عالم ملکوت ته ، و عالم خلق او عالم أمَر ته ، و عالم علوي او عالم سفلي ته کوم عجآئبات او مختلف النوع د عادت خلاف ، نادر او په حیرانتیا کښې اچونکې أمور او واقعات ښکاره کړیدي ، د ټولو ذکر کول ځما عاجز ، بلکې د هر انسان له طاقت څخه وتلئ کار دئ ، خو بیا هم د یو کافي تعداد ذکر ما په تیرو برخو کې درته وکړ او د ځینو نورو ذکر به دې برخه کښې درته کوم .

) ۱: ( د اسلام د پیغمبر د مبارک نیکه عبدالمطلب څخه روایت دئ چې ده مبارک فرمایلي دي چې زه په شپه د ولادت د حضرت محمد ( صلی الله علیه وسلم ) په نزد د کعبې شریفي وم ، کله چې شپه و نیمایي ته ورسېدله ومې لیدل چې کعبه شریفه د � مقام إبراهیم � پر طرف رامآئله سوه او پر سجده باندي پرېوتله او په دغه ډول د تکبیر اواز ورڅخه راغئ چې : � الله أکبر ، الله أکبر ، رب محمد المصطفی الآن قد طهرني ربي من أنجاس الأصنام و أرجاس المشرکین . �

یعني الله ( جل جلاله ) ډېر لوئ دئ ، الله ( جل جلاله ) ډېر لوئ دئ ، چې رب د محمد مصطفی دئ ( یعني رب د هغه محمد دئ چې الله تعالی له مابین څخه د ټولو کائناتو غوره کړئ دئ ) په تحقیق سره پاکه کړم زه رب ځما له مردارېو څخه د بتانو او له نجاستو څخه د مشرکانو ( یعني اوس چې د إسلام پیغمبر حضرت محمد پیدا سو نو ددې وخت رانژدې دئ چې دغه درې سوه او شپیته بتان به چې کفارو پر ما باندې شاوخوا راګرځولي دي او دارنګه دغه مشرکان به چې قسم قسم د شرک عملونه دلته کوي نیست او نابود وګرځي ) .

)۲ : ( د إسلام د پیغمبر د ولادت سره سم د کسری قصر او بنګله په لړزه کښې راغله او ۱۴ کنګرې ورڅخه راولوېدلې .

)۳ : ( دده مبارک له ولادت سره سم د � ساوه � بحیره وچه سوله او اوبه یې په مځکه ننوتلې .

)۴ : ( هغه شېله او کنده چې په هغه وخت کښې په � وادي سماوه � سره مشهوره وه ، چې په طول کښې د زروکالو یې اوبه قطعه سوي وې له اوبو څخه ډکه راوبهېدله .

)۵ : ( د پارسیانو ، اتش پرستانو د عبادت خانې اور چې زر کاله متصل بل سوئ راچلیدلئ ؤ په دغه شپه کښې مړ سو .

Download from: ketabton.com

)٦ : ( دده مبارک له زوکړي سره سم يو داسي نور او روښنايي پيدا سوه چي ددغه نور په سبب و حضرت بي بي آمنې ته د شام بنګلې ښکاره کړې سوې .

)٧ : ( دده مبارک د زوکړي په وخت کښي حضرت بي بي آسيه ( رضي الله عنها ) او حضرت مريمه (رضي الله عنها ) او د جنت حوري و حضرت بي بي آمنې ته حاضري سوې او خبري يې ورسره وکړې .

)٨ : ( امام سهيلي له تفسير څخه د � بقي بن مخلد الحافظ � څخه حکايت کړئ دئ چي ابليس ملعون څلور ځله سختي چغي او بغاري کړيدي : ١: � په هغه وخت کښي چي دَی ملعون کړ سو � ٢ : � په هغه وخت کښي چي له اسمانو څخه و مځکي ته راکښته کړ سو � ٣ : � په هغه وخت کښي چي د إسلام پيغمبر حضرت محمد ( صلى الله عليه وسلم ) و زيږيدئ � ۴ : � په هغه وخت کښي چي له الهي لوري څخه د فاتحې سورت پر حضرت محمد ( صلى الله عليه وسلم ) باندي نازل کړ سو . �

)٩ : ( کله چي د إسلام پيغمبر پيدا کړسو نو د طفوليت او شيرخورۍ په ابتدايي شپږو کښي بې و سپوږمۍ ته په ګوته اشاره کوله ، وهر طرفته چي بې اشاره وکړه نو سپوږمۍ به وهغه طرف ته ميلان وکړ ، او ده مبارک به له سپوږمۍ سره خبري کولې او سپوږمۍ به له ده سره کولې .

)١٠ : ( کله چي دَی مبارک پيدا سو نو خبري بې کولې او ملائکو او پرشتو به دده مبارک ځانګو ورځنګوله .

له حضرت حليمې سعديې (رضي الله عنها ) څخه روايت دئ چي دې مبارکي فرمايلي دي چي اول ځل چي ما د إسلام و پيغمبر ته تئ ورکړ نو ده خبري وکړي نو يې داسي وويل : � الله أکبر کبيراً والحمدلله کثيراً وسبحان الله بکرة و أصيلا .

)مدارج النبوت ، الداية والنهاية ، المواهب اللدنية . (

والسلام.

Download from: ketabton.com

بسمه تعالی! !

اللهم صل علی محمد النبي الأمي و علی آله و صحبه وسلم تسليما .

قدرمنومسلمانانو ! په دې برخه کښې د إسلام د پيغمبر د تولد په اړه او دده مبارک د زوکړې په مناسبت ځيني نور بيانونه درته عرضوم .

اول بيان په دې ارتباط دئ چې ايا د إسلام د پيغمبر (صلی الله عليه وسلم ) تولد په داسي حال کښې وسو چې خدايي مسرور او مختون ؤ ، يعني خدايي يې � نو� له مور څخه پرې سوئ او خدايي سنت کړ سوئ ؤ او که څنگه ؟

په دې موضوع کښې علماؤ او أهلِ سيرَ درې قوله ذکر کړيدي :

اول قول د حضرت ابن عمر او د حضرت عباس ( رضي الله تعالی عنهما ) دئ چې دوی فرمايلي دي : � ولد رسول الله (صلی الله عليه وسلم ) مسرورا مختونا . �

يعني زېږېدلئ دئ د خدائ رسول په داسي حال کښې چې خدايي يې � نو � پرې کړ سوئ ؤ او خدايي سنت کړ سوئ ؤ .

دوهم قول د حضرت أبي بکره ( رضي الله عنه ) دئ چې ده فرمايلي دي : � إن جبريلَ ختن النبي (صلی الله عليه وسلم ) حين طهر قلبه � يعني بېشکه جبريل (عليه السلام ) هغه وخت د إسلام د پيغمبر سنتي وکړه چې دده مبارک زړه يې ورپاکوئ.

دريم قول دادئ چې د إسلام د پيغمبر مبارک نيکه دده مبارک سنتي وکړه او دده د سنتۍ په مناسبت يې يوه غټه مهماني هم وکړه چې د قريشو خلگ يې په دغه مهمانۍ کښې سره راجمع کړل .

)البداية والنهاية وغيره . (

دوهم بيان په دې اړه دئ چې د محمد نوم پر ده مبارک (صلی الله عليه وسلم ) باندي چا کيښودئ ؟

په دې باره کښې هم د سِيرَ د معتبرو کتابو له مطالعې څخه مختلف قولونه څرگنديږي :

يو قول دادئ چې کله چې دَی د خپلي مبارکي مور په نس کښې ؤ نو ودې مبارکي ته په خوب کښې وويل سول چې کله چې دې دغه کوچنئ پيدا سي نو د أحمد او د محمد نومونه پر ده مبارک باندي کښېږده ، لکه چې په تيرو برخو کښې ددغه خوب مفصل ذکر تير سو .

Download from: ketabton.com

دوهم قول دادئ چي دده نیکه چي کله دده له ولادت سره سم قسم قسم خارق العادته واقعات ولیدل نو په دې سبب يې پر ده باندي د محمد نوم کيښودئ ؛ ځکه چي و ده ته دا څرګنده سوه چي دَی به محمود او ستايل سوئ د ټول مخلوق وګرځي .

دريم قول دادئ چي عبدالمطلب صاحب په دې وجه د محمد نوم پر کيښودئ چي ده يو وخت خوب وليدئ چي د سپینو زرو يو ځنځير دده له ملا څخه راخارج سي او ددغه ځنځير يو طرف په اسمان کښي وي بل طرف يې په مشرق کښي وي او بل طرف يې په مغرب کښي وي ، بیا دغه ځنځير ددرختي په شکل وګرځي چي پر هره پاڼه باندي ددې درختي نور او روښنايي وي او د مشرق او د مغرب خلګ په دغه درخته پسي لاسونه نیسي ، بیا ده مبارک ددغه خوب بیان و يو داسي چا ته وکړ چي د خوبو په معنی پوهيدئ ، نو هغه ددغه خوب معنی په دې ډول ورکړه چي ستا له ملا څخه به داسي څوک پيدا سي چي أهل مشرق او أهل مغرب بې تابعداري کوي او أهل د اسمان او أهل د مځکي بې ستاينه کوي .

څلرم قول دادئ چي عبدالمطلب صاحب دغه نوم د الهي الهام په وجه پر ده باندي کيښودئ .

محترمو مسلمانانو ! په دغه نامه سره د إسلام له پيغمبر څخه پرته دده مبارک د تولد د وخت تر رانژدې کيدو پوري هيڅوک نه ؤ مسمی کړ سوئ ، البته کله چي دده مبارک د تولد زمانه رانژدې سوه نو ځينو مشرکانو په خپلو ځامنو باندي په دې وجه د محمد نوم کيښودئ جي دوی له يهودو څخه دا خبره په وار وار اوريدله چي د اخيري نبي د تولد زمانه هم دغه زمانه ده او پيدا کيږي به هم په قريشو کښي او نوم بې محمد وي .

دغه مبارک نوم ډير خصوصيتونه لري :

اول خصوصيت يې دادئ چي دغه مبارک نوم په شکل او صورت د انسان دئ ، چي اول ميم يې د انسان د سر په ډول دئ او حاء يې د انسان د دوو لاسو په ډول ده او دوهم ميم يې د انسان د � نو � په محاذات کښي دئ او دال يې د انسان د پښو په برابري کښي دئ ، که په قديم کوفي خطه سره دغه مبارک نوم وليکل سي نو ددې خبري ښه وضاحت وسړي ته کيږي .

دوهم خصوصيت يې دادئ چي ( العياذ بالله ) د قيامت په ورځ چي کوم څوک و دوږخ ته ورځي نو د هغه انساني صورت مسخ ګرځي له وجي د احترامه د صورت د لفظ د محمد .

دريم خصوصيت يې دادئ چي دغه مبارک نوم د الله ( جل جلاله ) د محمود له نامه څخه جوړ سوئ دئ ، لکه چي حضرت حصان ( رضي الله عنه ) د خپلو عربي اشعارو په يوه برخه کښي و دغه مطلب ته اشاره کړيده ، اشعار دادي :

Download from: ketabton.com

أغر عــليه لـــــلنبوةِ خـــــــاتَمٌ من اللهِ مِن نورٍ يَلـــوحُ و يَشهَدُ

وضمَّ الإلهُ اسما النبي الى اسمه اذا قال في الخمس المؤذن أشهَدُ

وشــــق لهُ من إسمه لِيُـــجِلَّــه فذوالعرش محمودٌ و هذا مـــحمدٌ

ځلرم خصوصيت يې چې پر ډېرو خصوصيتو باندي مشتمل دئ دادئ چي ابن عساكر له كعب الأحبار څخه روايت كړئ دئ چي حضرت آدم (عليه السلام ) و خپل ځوى شيث ( عليه السلام ) ته وفرمايل چي : � اې ځوىِ كيه ته به له ما وروسته ځما خليفه او جاينشين يې ، نو دغه خليفه توب په تقوى او په پرهيزگاري سره سنبال كړه او هر وخت چي الله ( جل جلاله ) ذكر كوې نو د محمد نوم هم ورسره ذكر كوه ؛ ځكه چي بېشكه نوم د محمد پر ساق باندي د عرش ما ليكلئ وليدئ او پر ټولو اسمانو زه وگرځيدم نو داسي ځائ مي په اسمانو كښي ونه ليدئ چي د محمد نوم دي هلته نه وي ليكل سوئ ، دارنگه دغه نوم د محمد

ما د جنت د حورو پر ځيگرو باندي ليكلئ وليدئ ، دارنگه مي د طوبى د درختي پر پاڼو باندي نوم د محمد ليكل سوئ وليدئ ، دارنگه مي د سدرة المنتهى ددرختي پر پاڼو باندي دغه مبارک نوم ليكلئ وليدئ او دارنگه مي د هري پرشتې پر تندي باندي دغه نوم ليكل سوئ وليدئ ، نو اې شيثه ! دغه مبارک نوم ډير يادوه ؛ ځكه چي ملايكي او پرشتې يې په خپلو ټولو وختو كښي يادوي . �

پنځم : په شفا كښي راغلي دي چي پر يوه ډيره پخوانۍ او قديمي ډبره باندي دا جمله ليكله سوې وه : � محمد تقي مصلح أمينٌ . �

شپږم : پر يوه ډبره باندي په عبراني خط سره د موسى ( عليه السلام ) په كتابت سره دا توري ليكلي وو :� بسمک اللهم ! جآءالحق من ربکَ بلسانٍ عربي مبين ، لاإله إلاالله محمد رسول الله ، كتبه موسى بن عمران . �

)كذا ذكره ابن ظفرفي البِـشَرَ عن معمر الزهري . (

اوم : علامه ابن مرزوق له عبدالله بن صُحان څخه روايت كړئ دئ چي د هند د بحر په يوه جزيره كښي موږ يو ډير پاكيزه او ډير خوشبويه تک سور گل وليدئ چي په سپين خطه سره پر ده باندي ليكل سوي ؤ ( يعني په فطري او خدايي ليكنه سره ) :� لا إله الاالـلــــــه مـــــحمد رسول الله � او دارنگه مو يو سپين گل وليدئ چي په ژړ رنگ

Download from: ketabton.com

داسي باندي ليكل سوي ۋ (يعني په فطري ډول ) : � برآءة من الرحمن الرحيم الى جنات النعيم لآإله إلاالله محمد رسول الله . �

اتم : په شفا کښي ذکر سويدي چي د خراسان په ځينو ښارو کي يو کوچنئ و زيږيدئ چي پر يوه بغل باندي يې � لا إله إلاالله � ليکل سوئ ۋ او پر بل بغل باندي يې � محمد رسول الله � ليکل سوئ ۋ .

نهم : رافعي په � روض الرياحين � کښي ذکر کړيدي چي د هند په بعضي ښارو کښي يوه ميوه داره درخته ده چي پوستکئ لري ، کله چي دغه پوستکئ مات کړ سي نو يوه پېچله سوې شنه پاڼه پکښي پرته وي چي په واضح کتابت سره باندي ليکلي وي:

لاَ إله إلا الــــــــــــه محـــــمـــــد رسول الله

او خلگ په دغه درخته باندي تبرک حاصلوي.

لسم : أبو يعقوب صياد فرمايلي دي چي د � أبلّي � په نهر کښي کښي مي د ماهيانو ښکار کاوئ ، نو مي داسي يو ماهئ ونيوئ چي پر راسته طرف يې � لااله إلاالله � ليکلئ ۋ او پر چپه طرف يې � محمد رسول الله � ليکلئ ۋ ، نو کله چي دغه ليکنه ما وليدله نو دغه ماهئ مي بيرته و اوبو ته پريښودئ .

يولسم : په سنة ٨٠٩ کښي د انار يوه دانه پيدا سوه چي په تور رنگ د محمد نوم باندي ليکلئ ۋ .

دوولسم : ابن طغربِک په � نطق المفهوم � کښي له ځينو علماؤ څخه روايت کړئ دئ چي په يوه جزېره کښي يوه غټه درخته ده چي ډيري پاڼي لري او ډېره خوشبويه ده ، ددغي درختي پر پاڼو باندي په ډير واضح کتابت سره په سره رنگ ( يعني په فطري ډول ) دري ليکي خط ليکل سوئ دئ ، اوله ليکه يې � لآإله إلاالله � ده ، دوهمه ليکه يې � محمدرسول الله � ده ، دريمه ليکه يې � إن الدين عندالله الإسلام � ده .

)كذا في الأنوار المحمديه من المواهب اللدنية و غيره . (

Download from: ketabton.com

بسمه تعالی! !

اللهم صل علی محمد النبي الأمي و علی آله و صحبه وسلم تسليما .

محترمومسلمانانو ! په دې برخه کښې داسلام دپيغمبر د تولد اود زوکړې په اړه ديهودیانوپيشگويې گاني اوودده مبارک له زوکړې سره سم وخلگوته ددوی له خوا ددې اظهارات کول چې داخيري پيغمبر تولداوزوکړه وسوه بيان درته کوم .

١) : ( ابن سعد ، أبونعيم او ابن عساکر له أبي نمله څخه روايت کړئ دئ چې ده فرمايلي دي چې د بني قريظه يهودو به د رسول الله ( صلی الله عليه وسلم ) بيان پخپلو کتابو کې ددرس او د تعلم په شکل لوستئ او دارنگه بې و خپلو ماشومانو ته دده مبارک په باره کښې تعليم ورکاوه او دده صفتونه بې ورايزده کول او دده مبارک د نومو په باب بې درس ورکاوه او دا بې ويل چې هجرت دده به و موږ ته او مدينې منورې ته کيږي ، خو کله چې د إسلام پيغمبر و دوی ته ښکاره سو او دوی د سر په سترگو وليدئ نو له ده مبارک سره يې حسد او کين شروع کړ او بغاوت يې وکړ او دده مبارک له رسالت څخه منکر سول .

٢) : ( همدارنگه ابن سعد او أبو نعيم له إبن عباس څخه روايت کړئ دئ چې د � قريظه ، نضير ، فدک او خيبر � يهودانو ټولو د إسلام پيغمبر ږومبئ له دې څخه لا پيژندئ چې دَی مبارک مبعوث کيدئ ، او دا هم ورته معلومه وه چې دَی مبارک به و مدينې منورې ته په هجرت راځي ، بيا کله چې دَی مبارک وزيږيدئ نو د يهودو ټولو علماؤ وويل چې په نن شپه کې أحمد ( يعني اخيري نبي ) و زيږيدئ ، او د هغه معلومات له مخې چې دوی د علمِ نجوم له لارې درلودئ پر دغه خبره باندې يې و خلگو ته دا دليل پيش کړ چې نن شپه هغه ستورئ راختلئ دئ کوم چې د اخيري پيغمبر د تولد په مناسبت و موږ ته له پخوا معلومات ؤ چې دغه ستورئ به راخيږي ، بيا چې کله د إسلام پيغمبر په نبوت مشرف کړ سو نو د يهودو علماؤ دده له نبي کيدلو څخه هم و خلگو ته اطلاع ورکړه ( إنتهی مع توضيح و إختصار ) .

تنبيه :

محترمو مسلمانانو ! يو قسم ډير تک سور ستورئ دئ ، چې په يهودو کښې دا خبره مشهوره وه چې دغه ستورئ هغه وخت په اسمان کښې ښکاره کيږي چې يا د يوه نبي تولد وکړ سي او يا په نبوت سره مشر کړسي ، د إسلام د پيغمبر د تولد په شپه هم دغه ستورئ د يهودو علماؤ وليدئ او دده مبارک له نبي کيدو سره سم يې هم دغه ستورئ وليدئ ، نو ځکه دوی و خلگو ته وويل چې دغه ستورئ خو د يوه نبي د تولد يا د هغه د نبي کيدو په

Download from: ketabton.com

مناسبت ښکاره کيږي او نبي خو له أحمد څخه پرته بل هيڅوک پاته ندئ ، نو معلومه ده چي دَی مبارک زيږيدلئ دئ يا نبي سوئ دئ .

)كذا أخرج أبو نعيم من طريق أبو سعيد الخدري في حديث طويل مع وضاحة . (

)۳ : ( همدارنگه ابن عساکر او أبو نعيم له حضرت أبوهريره څخه روايت کړئ دئ چي کله چي � بخت نصر � پر بني اسرائيلو باندي حمله وکړه او دوی يې تار پتار کړل نو ځيني يهود چي د هارون له اولادې څخه وو و � يسرب � ته راغلل کوم چي د مدينې منورې پخوانئ نوم دئ او دغه راتګ يې په دې سبب ؤ چي دوی ته دا معلومه وه چي اخيري نبي به و دغه ځائ ته په هجرت راځي ، او دوی به و خپلو اولادو ته د نبي ( عليه الصلوة والسلام ) په باره کښي توصيې کولې او په دې باب بې ډير تاکيد ورته کاوه چي هر وخت که دغه نبي تاسي وليدئ نو مکمل متابعت او فرمانبرداري بې کوی .

)۴ : ( همدارنگه له حضرت کعب او وهب منبه څخه روايت دئ چي دوی دواړو مبارکانو فرمايلي دي چي �بخت نصر� يو وخت يو داسي شانداره او د عظمت والا خوب وليدئ چي دَی يې په ډيره ويره کي واقع کړ ، بيا کله چي له خوب څخه رابيدار سو نو خوب ورڅخه هير سو (يعني دونه قدر خو يې پياد ؤ چي ما يو ډير د عظمت والا خوب وليدي ، خو تفصيل د خوب ورڅخه هير سو ) نو يې خپل ټول کاهنان او ساحران سره راجمع کړل او د خپل تشويش او دخوب د ليدلو ذکر يې ورته وکړ او له دوی څخه يې وغوښتل چي ماته ځما د خوب معنی راکړی !

کاهنانو او ساحرانو ورته وويل چي ته ستا خوب و موږ ته بيان کړه نو به موږ و تاته د هغه معنی درکړو ؟

ده ورته وويل چي خوب خو راڅخه هير سوئ دئ ، هغوی ورته وويل چي بيا خو نو موږ ددې قدرت نلرو چي تعبير يې درکړو ، بيا بخت نصر حضرت دانيال (عليه السلام ) کوم چي په اسيرانو کښي د يهودو يې دَی مبارک هم راوستلئ ؤ و خپل حضورته راوباله ، نو حضرت دانيال و ده ته دده ليدل سوئ خوب توري په توري ورپياد کړ ، په دې ډول چي و بخت نصر ته يې وويل چي تا په خوب کي يو لوی بت وليدئ چي دواړي پښې يې په ځمکه کښي وي او سر يې په اسمان کښي ؤ ، او ددغه بت لوړه حصه د سرو زرو وه او مابين يې د سپينو زرو ؤ او لاندي حصه يې تر ځنګنو پوري دژيړو يا د پتلو وه او لينګي يې د وسپنو وه او دواړي پښې يې د کودريو وې ، نو په دې منځ کښي چي تا په خوب کښي و دغه بت ته کتل په داسي حال کښي چي ددغه بت حسن او محکم صنعت ته په تعجب کښي اچولئ وې نو الله ( جل جلاله ) د اسمان له طرفه دغه بت پر ککری باندي په يوه ډبره وويشتئ او داسي يې ميده کړ لکه غنم چي تر ژرنده راووزي ، نو ددغه بت سره او سپين زر او ژړ او کودري ټول سره ګډ سول تر داسي اندازې پوري چي تاته په خِيال کښي دا خبره دروګرځيدله چي که ټول انسانان او پيرانان سره اټول سي ددې دپاره چي دغه سره زر او سپين زر او دغه ژړ او اوسپينه او کودري سره جلا کړي نو ددغه کار قدرت به ونلري ، او دارنګه تا په خوب کښي ودغي ډبري ته وکتل کومه چي د اسمان له طرفه دغه بت په وويشتل سو نو ودي ليدل

Download from: ketabton.com

چي دغه ډېره وار په وار ، دقيقه په دقيقه غتېږي او سره ځي تر داسي حده پوري چي دغي ډېري ټول مخ د مځکي ونيوئ ، نو تاچي وکتل بل شئ په نظر نه درتلئ ماسوى له اسمانه او له دغي ډېري .

بخت نصر و حضرت دانيال ته وويل چي ښېشکه همدغه ډول خوب مي وليدئ ، بيا يې ورته وويل چي نو ددغه خوب تاويل او معنى څه ده ؟

نو حضرت دانيال ورته وويل چي کوم بُت چي تا په خوب کښي وليدئ نو هغه عبارت دئ د دنيا له مختلفو ډلو او امتو څخه چي له ابتدا څخه د زمانې يې واخلې بيا تر اخيره پوري ، او کومه ډېره چي تا په خوب کښي وليدله نو هغه عبارت د ئ د الله تعالى له دين څخه چي په اخير د زمانې کښي به الله ( جل جلاله ) ټول امتونه په وولي په دې ډول چي الله پاک به له عربو څخه نبي أمي مبعوث وګرځوي او دده دين به پر ټولو اديانو باندي غالبه سي او ټول مخ د مځکي به ونيسي لکه څنګه چي تا دغه ډېره په خوب کښي وليدله چي مخ د مځکي يې ټول ونيوئ .

)کذافي الخصائص الکبرى للسيوطي . (

)٥ : ( همدارنګه بيهقي او أبو نعيم له علي ازدي څخه روايت کړئ دئ چي يهودو به ( يعني په هميشه ډول ) داسي دعا کوله : � اللهم ابعث لنا هذا النبي يَحكُمُ بيننا و بينَ الناس � يعني اې الله ! مبعوث کړه ومونږ ته دغه نبي ( يعني کوم چي تا يې وعده په تورات کښي راسره کړېده چي حضرت محمد [ صلى الله عليه وسلم ] دئ ) چي حکم او فيصله وکړي څمونږ او د نورو خلګو په منځ کښي .

)٦ : ( همدارنګه حاکم او بيهقي له ابن عباس څخه روايت کړئ دئ چي د خيبر د يهودو او د � غطفان � د قبېلې سره جنګ سو بيا په جنګ کښي د خيبر يهود له شکست سره مخامخ سول ، نو دوی په دغه دعا سره له الله پاک څخه نصرت او امداد وغوښتئ : � اللهم إنا نسألکَ بحق محمد النبي الأمي الذي وعدتنا أن تخرجه لنا في آخرالزمان إلا نصرتناعليهم � بيا ددغه دعا په برکت دوی د غطفان پر قبيله باندي غالبه سول ، بيا چي کله د إسلام پيغمبر مبعوث سو نو دوی کفر غوره کړ ، نو الله ( جل جلاله ) دغه مبارک آيت نازل کړ : � و کانو من قبلُ يستفتحون ...الى اخر الآية. �

والسلام

Download from: ketabton.com

## ربیع الاول او وفات النبي

بسمه تعالی! !

اللهم صل علی سیدنا محمد و علی آله و صحبه وسلم تسلیما .

قدرمنو مسلمانانو ! د إسلامي قافلې د سالار حضرت رسول أکرم محمد ( صلی الله علیه وآله وصحبه وسلم ) د میلاد او دده مبارک له تولد سره مقارن یا دمخه یا وروسته ، د عجائباتو او د خارق العادته واقعاتو په باب ( انشاًالله ) ما وتاسي ته په زړه پوري او کافي معلوماتونه درکړل ، اوس د إسلام د پیغمبر ( صلی الله علیه وسلم ) د وفات او له دنیا څخه د رحلت په اړه معلومات درکوم ، خو البته په دغه اوله برخه کښي د تمهید په ډول د یوه مطلب بیانول غواړم.

محترمو ! داخبره وهر چا ته په واضح او په متیقن ډول څرګنده ده چي دنیا او د دنیا هر څه بقاًء او وفا نلري ، که خوشالي وي او که غم ، که راحت وي او که مصیبت ، که غنا او دولت وي او که مسکنت ، که ګدایي وي او که بادشاهي ، که نامتووالئ وي او که ګمنامي ، که صحت وي او که مرض هر څه چي وي اخیر ختمیدونکئ دئ .

نظـــــــــم:

کنج امان نیست درین خاکدان

مغز وفا نیست درین استخوان

آنچه درین مآئدء خرګه ایست

کاسهء آلوده و دستِ تهیست

هر که ازو خورد دهانش بدوخت

وانکه ازو ګفت زبانش بسوخت

ګل ددې جهان د اغزو ملګرئ دئ ، خزانې ددې جهان له رنج او زحمت سره پیوسته دي ، راحت ددې دنیا د زحمت ملګرئ دئ ، خوشحالي یې مصاحبه د غم ده ، مسرت یې له مضرت سره ګډ دئ ، مهرباني یې له قهر سره

Download from: ketabton.com

پیوسته ده ، ترياق يې بې زهرو نسته ، اخلاص يې بې نفاقه نسته ، وصال يې له افتراق سره تړلئ دئ ، وفا يې له بې وفايي سره مخلوطه ده ، قوت يې له زور او عاجزي سره همخانه دئ .

نظـــــــــم:

جهانرا هر گلي بر نوک خار يست

خرابــي از پي هر نوبـــهار يست

وصال غنچه بې خار جفا نيست

چراغ لالــه بې بادِ فنـــا نيست

جهان گر گنچ دارد مار با اوست

و خَرما نـــمايد خـــار با او ست

گر از وَی لطف جويي قهر يابي

و گر ترياق خـــواهي زهر يابي

هر سحرگاه د الله ( جل جلاله ) د قضا او د قدر کارکونکي پر ټول مخلوق باندې داسې د وير او د درد ږغونه کوي چې:

کل مخــلوق سيـــموت

يعني هر مخلوق ژرده چې مړ به سي.

هر سهار د الهـــي دربار داعيان داسي له مشقت او ارمان څخه ډک اواز و مخلوق ته کوي چې :

Download from: ketabton.com

أنتم و كل مــــرزوق ســـيفوت

يعني تاسي او ټول مخلوقات ژرده چي فوت به کړه سی!

هو ! کوم مجلس دئ چي د � لقد تقطعَ بينكم � د مضمون مصداق دي نه وي گرځيدلئ !!!

کوم دوه ياران دي چي اخير دي اواز د � هذا فراق بيني و بينک � نه وي اوريدلئ!!!

کومي سترگي دي چي د � کل شئ هـــالکٌ � په ترخو رانجو دي نه وي توري سوي!!!

او کومي ککرۍ دي چي د � کل مَن عليهـــا فانٍ � هيبتناک گرد او غبار دي پر دوی باندي نه وي پاشل سوئ !!!

که خاقانان دي که أميران دي ، که سلاطين دي او که وزيران او منشيان دي ، دارنگه که غني دئ که فقير ، که صغير دئ که کبير ، که ځوان دئ که سپين ږيرئ ، که عالم دئ که جاهل ، هوښيار او قوي دئ او که سفيه او ضعيف دئ ، وضيع او شريف دئ او که موحد او ملحد دئ ، مُقر او جاحد دئ او که فاسق او زاهد دئ او که کاهل او جاهِد دئ ، هر يوه پخپل نوبت سره د مرگ سرې او تودې تيري کړي او تيروي يې .

بيـــــت:

دربارگاه حشر چي سلطان چي بينوا

بر آستان مرگ چي دربان چي بادشاه

محترمو ورونو ! که په دنيا کښي يو چا بقا درلودلائ نو رسولان او نبيان به په دنيا کښي پاته واي ، بيا بالخصوص د الله (جل جلاله ) تر ټولو ډير نازولئ رسول حضرت محـــــــمد ( صلی الله عليه وسلم ) چي الله پاک عرش او فرش او تمامه دنيا دده په توسط پيدا کړېده ، خو مگر و ده ته هم له پخوا لا له الـــهـــي لوري څخه په قرآن کريم کښي دا اطلاع ورکړه سوې وه چي:

إنکَ ميتٌ و إنهـــم ميتون

Download from: ketabton.com

او داسي ورته فرمايل سوي وو چي : � و مَا جعلنا لِبشرٍ مِن قبلِکَ الخُلدَ أ فإن متَّ فهم الخالدون . �

او دارنگه الله تعالی له الهي دربار څخه په قرآنکريم کښي پر ټولو خلگو باندي دا ړغ کړئ دئ چي : � قل يتوفکم ملک الموت الذي وُکلَ بکم . �

رباعـــــي:

گيرد قرار در رحمِ خاک عاقبت

هر نطفهء که آمده ، از آدم است

کاخ فلک پر است ز ذکر گذشتگان

ليکن کسي که گوش کند اين صدا کم است

شعر:

و لو کان انسانٌ يدومُ بقآئه

لما مات خيرالمرسلين محمد

انديشه زمرگ مصطفی بايد کرد

شادي و طرب جمله رها بايد کرد

چون سيد هردو کون جاويد نمايد

مارا طمع خام چرا بايد کرد

Download from: ketabton.com

بسمه تعالی!!!

اللهم صل علی سیدنا محمد و علی آله و صحبه وسلم تسلیما .

محترمومسلمانانو! علماؤ دسیر اودتاریخ ذکرکړیدي چي دهجرت په لسم کال چي پیغمبر داسلام دحجة الوداع په سفر ومکې مکرمي ته سره له خپلو جان نثارو اصحاب کرامو ولاړئ نو په داسي حال کښي چي دعرفي ورځ وه او داسلام پیغمبر سره له اصحاب کرامو دعرفات په ساحه کښي ؤ له الهي لوري پرده مبارک باندي دغه مبارک ایت نازل کړسو

الیوم اکملت لکم دینکم واتممت علیکم نعمتي ورضیت لکم الاسلام دیناً .

یعني اي مومنانو ! نن ورځ وکمال ته ورساوه ما دین ستاسي اوپوره مي کړ پرتاسي باندي نعمت خپل اوخوښ او غوره مي کړ ستاسي دپاره اسلام په حیث ددین.

داسلام پیغمبر ددغه ایت مبارک له مضمون څخه دانتیجه ترلاسه کړه چي لکه چي له دنیا څخه ځمادرحلت اودانتقال وخت رانژدې سوئ دئ ، هو! دایوه مثبته قاعده ده چي هرشئ چي وکمال ته ورسیږي نوآفت دزوال اودنقصان ورپسي وي.

بیت :

چوافتاب به نصف النهار یافت کمال

مقرر است که رویي نهدبه صوب زوال

علماؤ دسیرفرمایلي دي چي داسلام پیغمبر وخپلوقدرمنواصحابوته په هغه خطبه کښي چي په عرفات کښي یې ودوی ته ویله له دغي اشارې څخه اطلاع ورکړه اوورته وې فرمایل چي دحج مناسک له ما څخه په صحیح صورت زده کړی ، ښایي چي له دغه کال څخه ورسته به بیازه اوتاسي نه سره ووینو ، اوهمدارنګه یې ورته وفرمایل چي اې اصحابو ! دقیامت په ورځ ځما په باره کښي له تاسي څخه داسي پوښتنه کړه کیږي چي :

محمد صلی الله علیه وسلم په تاسو کښي څنګه ژوند تیر کړ ؟ نوتاسي به ددغي پوښتني په جواب کښي څه وایاست ؟ اصحابو کراموورته وفرمایل چي اې پرموږ باندي ګران اومحترم رسوله ! موږ به دقیامت په ورځ پردې خبره باندي ګواهي ورکوو چي تاپه ډېره فوق العاده طریقه سره الهي امانت چي وظیفه درسالت اودپیغمبری ده ترسره کړه او و خلګو ته دي دارشاد اودنصیحت حق په اعلی درجه ورپرځای کړ .

Download from: ketabton.com

وروسته له دې ښخه رحمة للعالمين رسول خپله مباركه سبابه ګوته داسمان وطرف ته پورته کړه اوبيرته يې دځمکې وطرف ته راوړله اوداسې يې وفرمايل چې : � اللهم اشهد اللهم اشهد � يعني اې الله ته شاهد سه ! اې الله ته شاهد سه ! (يعني ځما داصحابو پردغه ذکر کړه سوې وينا باندې ) وروسته له دې چې داسلام پيغمبر د حج له سفرڅخه دمدينې منورې پرطرف راروان سو اوو �غدير خم � ته کوم چې دجحفې په علاقه کښې واقع يوځائ دئ راورسيدئ ، دماپښين دلمانځه او ل وخت ؤ داسلام پيغمبر سره له اصحابو کرامو په همدغه اول وخت کښې دماپښين لمونځ اداکئ ، بيايې واصحابو ته خپل مبارک مخ وروګرځاوه اوداسې يې ورته وفرمايل : � الست اولى بالمومنين من انفسهم �

يعني ايا نه يم زه ډيرسزاوار اولائق په مومنانو له نفسو اوله ځانو څخه ددوى ؟

ټولو اصحابو ورته وويل : � بلى يارسول الله � !

يعني هو ! اې دخدائ رسوله ! بيشکه ته په موږ سره ترموږ ډير حقدارېې .

الله جل جلاله په قران کريم کښې فرمايلي دي : � النبي اولى با لمؤمنين من انفسهم )� يعني نبي حضرت محمد ( صلى الله عليه واله وصحبه وسلم ) ډير لائق اوسزاوار دئ په مومنانو له نفسو ددوى ، وروسته د إسلام پيغمبر حضرت علي تر لاس ونيوئ او وې فرمايل :� د هر چاچې زه مولا يم نو علي بن أبي طالب هم د هغه مولا دئ � بيا يې و حضرت علي ته دغه پنځه دعاوې وکړې :

اللهم وال من والاه

يعني اې الله دوست ولره هغه څوک چې حضرت علي د ځان دوست ګڼي.

و عاد من عاداه

او دښمن ولره هغه څوک چې علي د خپل ځان دښمن ګڼي .

واخذل من خذله

او خپل مدت او کومک بند کړه له هغه چا څخه چې له علي څخه خپل کومک بندوي .

وانصر من نصره

او مدت وکړه د هغه چا چې مدت کوي د علي .

Download from: ketabton.com

وأدر الحق معه حيث كانَ

يعني او راګرځوه حق له علي سره هر چيري چي دَی وي .

د إسلام دوهم خليفه و حضرت علي ته وفرمايل : � بخ بخ يا ابنَ أبي طالب ! أصبحتَ مولا كل مؤمن و مؤمنة � .

يعني خوشحالي دي وي تا لره اې د أبوطالب ځويه ! ځکه وګرځيدلې ته مولا د هر مؤمن او د هري مؤمني .

نظم:

هر که را هست با علي کينه

درسخن حاجت دراز ي نيست

نيست در دستش آستين پدر

دامن مادرش نيمازي نيست

بيا وروسته د إسلام پيغمبر و خلګو ته وفرمايل چي داسي معلوميږي چي زه و عالمِ بقا ته دعوت کړ سوئ يم او ما هم ددغه دعوت اجابت وکړ ، اې أمتيانو پوه سئ ! چي ما ستاسي په منځ کښي دوه ډير لوی شيان پريښودل او يو په دغو دوو کښي له هغه بل څخه ډير لوی دئ : اول قرآنکريم ، دوهم أهل بيت ځما ، نو تاسي فکر کوئ ا احتياط کوئ په دې کښي چي وروسته له ما څخه به له دغو دوو شيانو سره څه قسم سلوک کوئ ؟ او ددغو دوو شيانو د حقوقو رعايت به په څه کيفيت او ډول سره کوئ ، او دغه دوه شيان يو له هغه بله تر هغه پوري نه سره جلا کيږي چي د حوض کوثر پر غاړه وماته رارسيږي .

البته ډيرو امتيانو د إسلام د پيغمبر دغه مبارک هدايت داسي نظرانداره کړ چي اضافه يې تصور هم نسي کيدلای ، له أهل بيتو سره د جفاکارۍ او د بې التفاتۍ يوه لويه نمونه � يزيد� او دده ملګري وو .

Download from: ketabton.com

غزل :

اې بجاي تو من وفا کرده

تومکافات آن جفاکرده

من ترا چون بحشر تش نشوي

وعدهء شربت صفاکرده

بوده بیګانه و ترا باحق

به نصیحت من آشناکرده

درمکافات توحسین مرا

به غم آب مبتلا کرده

آن حسین که جبرئیل اورا

هر کجادیده مرحبا کرده

فاطمه ازبراېي تربیتش

صد سحراګاه ربنا کرده

او دارنګه د إسلام د پیغمبر ډیرو امتیانو بیا دده مبارک ذکر سوئ وصیت د قرآنکریم په باره کښي داسي صرف نظر وګرځاوه چي هیڅ یو حکم له أحکامو د قرآنکریم څخه نسته چي دوی دي د هغه مخالفت نه وي کړئ ، بلکي أکثرو مسلمانانو داسي طرز او رویه غوره کړېده چي و رسم او و رواج او و قومي عنعناتو ته ، بلکي و کفري فلسفو او أصولو ته چي نیغ په نیغه او په ښکاره ډول د قرآنکریم خلاف دي ، د قرآنکریم پر هدایاتو باندي و هغوی ته حق د اولیت ورکوي ، حتی په قرآني هدایاتو عمل کول د تسفل او د تنزل سبب ګڼي ، لکه چي د موجوده زمانې أکثر تش په نامه مسلمانان او د دوی حکمرانان ددې خبري واضح مثالونه دي .

علماؤ د سیرَ او د تاریخ ذکر کړیدي چي په حجة الوداع کښي د � منی � په شپو کښي د � إذاجآءنصرالله� مبارک سورت نازل سو ، د إسلام پیغمبر و جبرئیل ته وفرمایل چي اې جبرئیله ! له دې سورت څخه داسي معلومیږي چي الله پاک ماته خبرداریٔ راکوي چي له دې دنیا څخه به رحلت کوم ؟ حضرت جبرئیل په جواب کښي د إسلام و پیغمبر ته وویل چي � وللآخرة خیرلکَ مِنَ الأولی � یعني اې د خدایٔ محترم رسوله ! له دنیا څخه په رحلت

Download from: ketabton.com

کولو کښي ستا دپاره هيڅ د پريشانۍ او د تشويش ځاێ نسته ؛ ځکه چي قسم په خداێ دێ چي خامخا آخرت ستا دپاره ډير بهتر دێ له دنيا څخه !

د إسلام پيغمبر ددغه مبارک سورت له نازليدو څخه وروسته پکارو د آخرت کښي له اندازې څخه زيات کوښښ شروع کړ او دغه مبارکي کلمې بې په تکرار سره ويلې : � سبحانکَ اللهم و بحمدِکَ ، اللهم ! اغفرلي إنک أنت التواب الرحيم. �

څرنگه چي أصحاب کرامو د إسلام د پيغمبر له مبارکي خولې څخه دغه کلمې ډيري اوريدلې نو يې وده مبارک ته عرض وکړ چي يا رسول الله ! څه وجه ده چي دغه کلمې ډيري وايې ؟

ده مبارک و خپلو أصحابو ته په جواب کښي وفرمايل چي اې أصحابو ! پوه سۍ ! او ځانونه خبر کړۍ ، زه الله (جل جلاله ) و عالمِ بقا ته بللیٔ يم ( يعني له دنيا څخه رحلت کونکیٔ يم ) په دغه حال کښي د إسلام پيغمبر وژړل ، أصحابِ کرامو ورته وويل چي اې د کآئناتو سرداره ! ته له مرگ څخه ولي ژاړې ، ستا دپاره خو هيڅ غم نسته ؛ ځکه په يقيني ډول الله پاک و تاته گذشته او آينده ټول دربخښلي دي ، لکه چي الله پاک فرمايلي دي :� إنافتحنالک فتحًا مبينًا لِيَغفرلک الله ما تقدم من ذنبک و ماتأخر � ؟

د إسلام پيغمبر په جواب کښي و خپلو أصحابو ته وفرمايل چي اې أصحابو ! د مرگ سختي او د قبر تنگي او د لحد تاريکي او أهوال او مشکلات د ورځي د قيامت ټول راتلونکي دي ، نو څه به ولي نه ژاړم .

محترمو مسلمانانو ! د إسلام د پيغمبر ( صلی الله عليه وسلم ) له دغه کلام څخه مقصود هدايت او ارشاد ؤ و أمتيانو ته ، ورنه د إسلام پيغمبر خو له دغو ټولو مشکلاتو څخه مصئون او محفوظ ؤ .

محترمو مسلمانانو ! د إسلام پيغمبر ( صلی الله عليه وسلم ) يوه مياشت له وفات څخه دمخه خواص د أصحابِ کرامو د حضرت عآئشې (رضي الله تعالی عنها ) په کور کښي سره راجمع کړل ، کله چي دده مبارک نظر پر خپلو گرانو أصحابو باندي ولويدیٔ نو د رحمت او شفقت له وجي او له خپلو أصحابو څخه د هجران او د فراق له وجي يې تر سترگو مبارگو اوښکي راوبهيدلې .

نظم :

وداع يار و ديارم چو بگذرد بخيال

Download from: ketabton.com

شود منازلم ازآب دیده مالامال

میان آتش سوزنده ممکن است آرام

ولي در آتش هجران قرار صبر محال

وروسته يې و خپلو أصحابو ته په دعا شروع وکړه او داسي يې وفرمايل : � مرحبًا بکم و حياکمُ اللهُ بالسلام جمعکم الله رحمَکم الله ، حفظکم الله ، جبرَکم الله ، نصرکمُ الله ، رفعَکم الله ، وفقکم الله ، قبِلَکم الله ، آواکم الله ، وقاکم الله ، سلمکم الله ، رزقکم الله . �

بيا يې و أصحابو ته په نصيحت شروح وکړه او ورته وې فرمايل چي زه وتاسي وصيت کوم په تقوی او پرهيزگاري سره او په دې سره چي هميشه به له الله (جل جلال ) څخه ويريږی او تاسي پر الله تعالی سپارم او د الله پاک له عذابو څخه تاسي ويروم ، اې أصحابو ! بايد چي د الله (جل جلاله ) پر بندگانو باندي کبر او لويي ونکړی او په ښارو او علاقو کښي د فتنې او د ظلم دروازې خلاصي نکړی ؛ ځکه چي الله ( جل جلاله ) فرمايلي دي چي سرائ د آخرت ( يعني نعمتونه د آخرت ) د هغه چا دپاره دي چي دوی نه غواړي چي په مځکه کښي تکبر او لويي وکړي او نه دا غواړي چي فساد ، خرابي او طغيان په مځکه کښي وکړي ، او نيک أنجام خاص متقيانو لره دئ .

أصحابِ کرامو چي کله د إسلام د پيغمبر دغه مبارکي کلمې واوريدلې نو دا يې ورڅخه وفهموله چي لکه چي دَی مبارک له موږ څخه د دارالبقا پر طرف رخصتيږي او دغه ټول تاکيدات او مبالغې چي پخپله مبارکه توصيه کښي يې کوي دا پر دې باندي دلالت کوي چي سفر د آخرت يې رانژدې سوئ دئ او هغه وخت بيخي ژر راتلونکئ دئ چي دَی مبارک به و خدائ ته او و سدرة المنتهی ته او و جنت المأوی ته او و رفيق أعلی ته روانيږي ، نو يې وده مبارک ته وويل چي يا رسو ل الله ! و تاته به غسل څوک درکوي ؟

د إسلام پيغمبر ( صلی الله عليه وسلم ) ورته وفرمايل چي ځما په أهل بيت کښي هغه څوک چي و ماته ډير نژدې دئ هغه به غسل راکوي .

بيا أصحاب کرامو ورته وويل چي اې د خدائ رسوله ! ستا کفن به له کومو جامو څخه درکوو ؟

ده مبارک ورته وفرمايل چي ځما کفن يا له دغو جامو څخه راکی کومي چي مي أغوستي دي ، يا له مصري او يا يمني جامو څخه کفن راکی او يا له يو بل قسم سفينو جامو څخه کفن راکی .

بيا أصحابو ورته وفرمايل چي يا رسول الله ! ستا د جنازې لمونځ به د چا په امامت تر سره کيږي ؟

Download from: ketabton.com

په دغه وخت کښې ټول أصحاب کرام په ژړا او بغارو سول ، د اسلام پیغمبر هم وژړل ، او و دوی ته یې و فرمایل چي صبر کوئ او بې تابي مه کوئ ، الله ( جل جلاله ) دي پر تاسي باندي رحمت او مهرباني وکړي او الله تعالی دي ستاسي گناوي دروبخښي او الله پاک دي ستاسي د پیغمبر له طرفه و تاسي ته د خیر جزا او بدله درکړي ، کله چي ماته غسل او کفن راکړئ نو بیا ما پر جنازه باندي کښېږدئ او بیا مي په دغه کور کښي د قبر پر غاړه باندي پر جنازه باندي پرېږدئ او یو ځل ټول دباندي راڅخه ولاړ سئ او په دې پوه سئ چي اول څوک چي ځما د جنازې لمونځ به ادا کوي هغه به ځما دوست حضرت جبریل وي ، بیا به له ده څخه وروسته حضرت میکاییل ځما دجنازې لمونځ ادا کړي ، بیا به له ده څخه وروسته حضرت اسرافیل ځما دجنازې لمونځ ادا کړي ، بیا به ملک الموت سره له یوې ډلي د ملائکو ځما دجنازې لمونځ ادا کړي ، بیا به تاسي ډله ډله راځئ او ځما د جنازې لمونځ به ادا کوئ ، اول به ځما د أهل بیت نارینه انسانان ځما د جنازې لمونځ ادا کړي ، بیا به ځما د أهل بیت ښځي او زناني ځما د جنازې لمونځ ادا کړي ، وروسته به بیا پاته أصحاب ځما ، ځما د جنازې لمونځ ادا کړي .

بیا أصحابو عرض ورته وکړ چي یا رسول الله ! و قبر ته به ستا داخلول څوک کوي ؟

د إسلام پیغمبر وفرمایل چي ځما أهل بیت سره له یوې ډلي د مقربو ملائکو به ما و قبر ته داخل کړي ، چي تاسي به دغه ملائکي نه وینئ او دوی به تاسي ویني ، بیا د إسلام پیغمبر و ده ته حاضر سوي أصحاب په خیر او نیکي سره یاد کړل او بیا یې ورته وفرمایل چي و هغه أصحابو ځما ته ځما سلام ورسوئ کوم چي له ما څخه غائب دي او وهغه ټولو خلگو ته ځما سلام ورسوئ چي د قیامت تر ورځي پوري راتلونکي دي او ځما د دین پیروي کوي .

بیت :

روزي که زتو سلام باشد ما ر ا

آن روز فلک غلام باشد ما را

اې د حضرت محمد ( صلی الله علیه وسلم ) مخلصو امتیانو ! د أمت مهربان رسول د خپلو أصحابو په لاس و تاسي ته خپل سلامونه ورکړیدي او اوس ما له همدغي ورکړي څخه و تاسي ته اطلاع درکړه ، نو د خپل پیغمبر د سلام جواب عقیدةً او أخلاقًا ، قلبًا او لِسانًا او عملا باید ورکړئ ، په دې ډول چي خپل ایمان او عقیده برابره کړئ او خپل أخلاق برابر کړئ او د خپلو أقوالو او أعمالو تصحیح وکړئ او د زړه په حضور او د زړه له جوش ، خروش او له میني څخه ډک د خپل پیغمبر د سلامو په جواب کښي د :

و علیـــــــک الســـــــلام یا رسول الله !

اواز له خولو څخه روباسئ .

Download from: ketabton.com

)مدارج النبوة ، روضة الشهدآء و غيره(

بسمه تعالی!!!

اللهم صل علی سیدنا محمد و علی آله و صحبه وسلم تسليما .

محترمو مسلمانانو ! وروسته له دې چې د إسلام پيغمبر و خپلو مبارکو أصحابو ته په هر باب خپل نبوي وصيت وکړ ، نو په دې فکر کې سو چې کله به هغه وخت راسي چې ددې دنيا فاني ورځې د عمر ځما و پائ ته ورسيږي او پر نفس مطمئنه ځما باندې له الهي دربار څخه ددې زيرئ وسي چې :� فادخلي في عبادي وادخلي جنتي � تر څو چې د هجرت يوولسم کال راغئ ، د هجرت يوولسم کال ؤ د صفري د مياشتي ۲۴ وه د چارشنبې شپه وه چې د اسلام پيغمبر د � بقيع � و قبرستان ته تشريف يووړئ .

حضرت أبومويهبه فرمايلي دي چې په دغه شپه کښې زه د نبي ( صلی الله عليه وسلم ) ملگرئ وم ، د إسلام پيغمبر د بقيع د مقبرې و مردگانو ته درازه زمانه د مغفرت دعا کوله او تر داسي حده پوري يې و دغو مردگانو د خير دعا وکړه چې ما له ځانه سره دا وويل چې کاشکي زه هم د دغه گورستان له مردگانو څخه يو مرده وائ چې د خدائ د رسول په داسي بارکه دعا سره مشرف سوئ وائ ، ورسته حضرت رسول أکرم( صلی الله عليه وسلم ) و ماته وکتل او وې ويل چې اې ابومويهبه ! چې ددغي دنيا ټولي خزانې الله (جل جلاله ) وماته وړاندې کړې او ماته يې اختيار راکړ چې په دنيا کښې باقي پاته سم او وروسته بيا و جنت ته ورسم او د الله تعالی ديدار د جنت له ورتللو څخه وروسته وکړم ، او که له دنيا څخه رحلت وکړم د الله پاک لِقا او و جنت ته ورسم ، أبو مويهبه وايي چې ما ورته وويل چې اې د خدائ رسوله ! ځما مور او پلار دې تر تا قربان وي ددې دنيا خزانې او بقاء په دې دنيا کښې چې وروسته بيا و جنت ته ورسې غوره کړه ! ده مبارک راته وفرمايل چې نه ما لِقآء د الله ( جل جلاله ) او جنت ددنيا پر خزانو او په دنيا کښې تر باقي پاته کيدو غوره کړ .

روايت دئ چې د إسلام پيغمبر په دې سره مأمور سو چې وبقيع ته ولاړ سي او وأهل د مقبرې د بقيع ته د مغفرت دعا وکړي ، نو د إسلام پيغمبر همدغسي وکړل او بيرته راغئ او بيده سو ، بيا ورته وويل سو چې و بقيع ته ولاړ سه او دپاره د مردگانو د بقيع دعا د مغفرت وکړه ، بيا دَی مبارک ولاړئ او ودوی ته يې د مغفرت دعا وکړه بيرته راغلئ ، بيا چې ده مبارک يو څه ارام کاوه بيا ورته وويل سول ( يعني له الهي لوري څخه ) چې ولاړسه د أحد د شهيدانو لپاره دعا وکړه ، بيا ده مبارک همغسي وکړل ، بله ورځ و جناب نبي کريم ( صلی الله عليه وسلم ) ته د سر درد ورسيدئ سر مبارک يې په يوه ټوکر وتړئ او دغه ورځ ، ورځ د نوبت د ميمونې ( رضي الله عنها ) وه ، کله چې يې مرض مبارک ډير سخت سو نو ټولي بي بي گاني يې د ميمونې په کور کښې سره راجمع سولې ، د إسلام پيغمبر په ډير تکرار سره ددغو تورو ويل شروع کړل چې : � أينَ أنا غدًا ؟ � يعني صبا به زه په تاسي بي بي گانو کښې د کومي يوې په کور کښې يم ؟ حضرت فاطمې ( رضي الله عنها ) و ټولو بي بي گانو ته وويل چې پيغمبر ( صلی الله

Download from: ketabton.com

عليه وسلم ) شايد نور هم په تکليف سي له دې څخه چي د يوې بي بي له کور څخه د بلي بي بي و کور ته ورځي ، نو تاسي ټولي ديوې بي بي کور خوښ کړئ چي دَی مبارک په هغه کور کښي واوسي ، نو دوی ټولي د حضرت بي بي عائشې ( رضي الله عنها ) په کور راضي سولې ، نو د إسلام پيغمبر د حضرت ميمونې له کور څخه دباندي راووتئ په داسي حال کښي چي يو لاس مبارک يې د حضرت علي پر اوږو او بل لاس مبارک يې د حضرت فضل بن عباس پر اوږو باندي ايښئ ؤ او پښې مبارکي يې پر مځکه باندي پسي ښکيدلې تر څو چي د حضرت عآئشې و کور ته راغلئ او په هغه ځائ کښي يې د مرض بستر وغوړاوئ او ټولي بي بي ګاني به هلته دده د خدمت دپاره ورتللې .

خو د إسلام د پيغمبر مرض وار په وار په شدت او په صعوبت او په زياتيدلو شروع وکړه او يو قسم ډيره لويه تبه و ده ه مبارک ته عارضه سوه .

حضرت عبد الله ابن مسعود فرمايلي دي چي د تبي په حال کښي ما دده مبارک پر مخ باندي لاس کيښودئ نو په دونه اندازه دده مبارک مخ ګرم ؤ چي ځما لاس تحمل د هغه حرارت نسوائ کولائ ، بيا د إسلام پيغمبر راته وفرمايل چي ځما دي په هغه خدائ قسم وي چي ځما نفس دده په قدرت کښي دئ هيڅوک پر مخ د مځکي باندي نسته ( يعني له مومنانو څخه ) چي ده ته دي يو مرض يا کوم بل تکليف ورسيږي مګر الله تعالی په دغه تکليف سره له ده څخه دده ګناوي داسي رژوي لکه څنګه چي يوه درخته خپلي پاڼي تويوي .

حضرت أبوسعيد خدري ( رضي الله تعالی عنه ) هم د إبن مسعود په ډول د إسلام د پيغمبر د تبي سختوالئ په يوه روايت کښي بيان کړئ دئ او بيا يې داسي فرمايلي دي چي د إسلام پيغمبر وماته وفرمايل چي د مصيبت او د تکليف په لحاظ د أنبيآؤ په ډول هيڅوک ندئ په تکليف سوئ او لکه څنګه چي د أنبياؤ تکليف ډير وي اجر يې هم ډير دئ او انبيآء په مصيبت او په تکليف دونه خوشحاله وي لکه څنګه چي تاسي په عطا او په بخشش سره خوشحاله کيږي ( انتهی ) .

هو ! د الله ( جل جلاله ) د لاري و محبانو ته او د الهي دربار و مقربانو ته چي د الله تعالی له طرفه زخمونه او تکليفونه رسيږي نو مرهم يې بولي او رنځ او درد عين عطا او کرم بولي .

قطعه :

المي کز براِيي دوست کشم

راحت جان مبتلاي من است

زخم او مرهم است بر دل من

Download from: ketabton.com

درد او شربت دواي من است

رباعي :

من خارغم اش بصد گلستان ندهم

خاک قدمش بآب حیوان ندهم

درد که مرا در غم او حاصل شد

آن درد بصد هزار درمان ندهم

د بِشر بن برآء مور ( رضي الله عنها) فرمایلي دي چي د إسلام و پیغمبر ته دده په مرض موت کښي ورغلم او ورته ومي ویل چي یا رسول الله ! د هیچا په بدن کښي مي دغه ډول سخته تبه نده لیدلې لکه څرنګه چي ستا په مبارک بدن کښي ده ! د إسلام پیغمبر راته وفرمایل چي دا په دې وجه ده چي ځما اجر هم ډیر زیات دئ ، بیا یې راته وفرمایل چي اې د بشر موري ! ځما د مرض په باره کښي خلګ څه وایي ؟

ماورته وویل چي خلګ وایي چي دده مرض د ذات الجنب مرض دئ ، د إسلام پیغمبر راته وفرمایل چي د ذات الجنب د مرض په ډول مرض الله پاک د خپل رحمت او لطف له لاري پر انبیاؤ باندي مسلط نه ګرځوي ؛ ځکه چي دا ډول مرض د شیطان له همزاتو څخه پیدا کیږي او شیطان پر ما باندي هیڅ تسلط نسي پیدا کولاۍ ، مګر ځما ځما مرض د هغو غوښو أثر دئ چي په زهرو ککړي سوي وې او ستا له ځویه سره مي په خیبر کي وخوړلې ، چي له هغه وخته په تدریج سره د هغو زهرو أثر ځما په بدن کښي تازه کیدئ تر څو چي و داسي اندازې ته راورسیدئ چي اوس ځما د ژوند او د حیات رګونه راپرې کړي .

علمآؤ فرمایلي دي چي الهي حکمت پدې کښي دا ؤ چي د إسلام پیغمبر له مرتبې د شهادت څخه هم برخورداره وګرځي .

صاحب د � روح الأرواح � ذکر کړیدي چي په دې کښي یو عجب الهي سر دئ چي د نبوت خاندان نوبت په نوبت جام د شهادت نوش کړ ، د اسلام پیغمبر او حضرت امام حسن د زهرو په سبب له شهادت څخه برخورداره سول او حضرت علي کرم الله وجهه او حضرت امام حسین بیا د برچې او د تیغ په ذریعه په شهادت ورسیدل .

قطعه :

Download from: ketabton.com

چون چراغ دیدهء زهرآء بکشتندش بزهر

زهره را دل بر چراغ دیدهء زهرا بسوخت

چون روان کردند خون از قرة العین رسول

چشم عیسی خون ببارید دل زهرا بسوخت

)روضة الشهدآء و غیره . (

والسلام/

Download from: ketabton.com

بسمه تعالی!!!

اللهم صل علی سیدنا محمد و علی آله و صحبه وسلم تسلیما .

محترمو مسلمانانو ! علماؤ د سیر ذکر کړیدي چي حضرت رسول أکرم ( صلی الله علیه وسلم ) څوارلس ورځي بیماره ؤ او په دغو ورځو کښي مختلفي واقعې او پیښي منځته راغلې چي یوه برخه د هغو زه وتاسي محترمو ته د � روضة الشهدآء� او � د روضة الأحباب � و غیرهما په حواله دلته درته ذکر کوم .

اوله پېښه داوه چي په صحیح روایت سره له حضرت عآئشې څخه روایت سوئ دئ چي دې مبارکي فرمایلي دي چي د حسنِ سیرت او د إستقامت د منظر او په ناسته او ولاړه کښي د سکینې او د وقار په اعتبار و رسول ( علیه الصلاة و السلام ) ته ورته د فاطمې ( رضي الله عنها ) په ډول ما بل څوک ندئ لیدلئ ، کله چي به فاطمه د خپل پلار نبي کریم ( صلی الله علیه وسلم ) و حضور ته راغله ، نو سرورکائنات به ورته ولاړ سو او ودې ته به متوجه سو او دا مبارکه بې په خپله مبارکه خوله مچ کړه او پر خپل ځائ بې کښېنوله او کله چي به د إسلام پیغمبر ددې و کور ته ورغلئ نو دې به هم له ده مبارک سره همدغه ډول کول .

دمرض موت په جریان کښي د إسلام پیغمبر و فاطمې ته یو څوک ولیږئ او را وې غوښتله ، نو کله چي فاطمه راغله ده مبارک مرحبا ورته وویله او له خپل بغل سره یې کښېنوله ، د پدري شفقت او د جار او قربان له مراسمو څخه وروسته یې په خفي ډول ودې ته یو څه وویل ، دې وژړل ، بل وار یې بیا یو څه ورته وویل ، دې وخندل .

حضرت عآئشه فرمایي چي ما له دې څخه ددې د ژړا او بیا د خندا او د مبارک ( صلی الله علیه وسلم ) د خفیه خبري په اړه پوښتنه وکړه ، خو فاطمې هغه مهال و عآئشې ته کوم جواب ورنکړ ، په وروسته وختو کښي یې بیا دغه راز ودې ته ښکاره کړ او ورته وې ویل چي د إسلام پیغمبر اول ځل و ماته وویل چي په تیرو کلو کښي به حضرت جبرئیل د قرآنکریم د درس دپاره وماته په کال کښي یو ځل راتلئ او سږکال دوه ځله راغلئ ، نو زه فکر کوم چي لکه چي اجل مي رانژدې سوئ دئ او زما په زړه کښي هم و عالمِ قدس ته د تللو شوق او مینه غالبه سوېده او نژدې ده چي له دې فاني دنیا څخه به زه ولاړ سم نو دغه یو څو ورځي ځما صحبت غنیمت وګڼه تر څو چي دي طاقت وي له ما څخه مه جلا کیږه ، فاطمه فرمایي چي له اوریدلو ددې خبري څخه په ډیر وحشت کښي ولویدم او تر سترګو مي اوښکي راجاري سوې او ومي ژړل ، کله چي خپل مهربانه پلار پیغمبر د إسلام ځما حال ولیدئ نو بیا یې و خپل ځان ته ښه ورنژدې کړم او په پټه یې راته وویل چي اې لوري ! غم مه کوه زه پر تا باندي د خوشحالۍ او مسرت دوه زیري کوم :

اول : زیرئ دادئ چي په جنت کښي به ته د ټولو مؤمنو ښځو سرداره یې ، دوهم : زیرئ دادئ چي ځما په أهل بیت کښي به تر ټولو دمخه ته په ما پسي راسې ، او بیا یې راته وویل چي اې فاطمې ! جبریل و ماته وویل چي په ټولو

Download from: ketabton.com

مسلمانانو ښځو کښي به يوه داسي ښځه وي چي دونه ډيره اولاده دي ولري لکه څونه اولاده چي به و فاطمې ته الله ( جل جلاله ) ورکوي ، نو اې فاطمې ! صبر او برداشت ستا هم بايد تر نورو ښځو کم نه وي .

د إسلام پيغمبر دا خبر ځکه و فاطمې ته وکړه چي له داسي پلار څخه د فاطمې غوندي لور محرومه کيدل څه اسانه خبره نه وه ، ددې په وجه چي د کوم غم او درد توقع کيدله د هغه تحمل او برداشت اسانه کار نه ؤ ، نو د إسلام پيغمبر قبل الوقوع لا و خپلي مبارکي لور ته د صبر او د برداشت تلقين ورکړ .

نظم :

روزي که چشم ما ز جمالت جدا بود

چندانکه چشم کار کند اشک ما بود

گفتي دل که فارغ وصابر بود که راست

در دور دل بري چو تو اينها که را بود

او دوهمه واقعه دا پېښه سوه چي کله چي د رحمة اللعالمين پيغمبر مرض بيخي شديد او سخت سو نو ده مبارک و فرمايل چي اوه مشکه له اوو څاهانو څخه ډک کړئ او په داسي حال کښي چي سرونه ددغو مشکو له ډکولو وروسته نه وي خلاص سوي ، ددغو اوو سرو مشکو اوبه پر ما باندي توی کړئ ښايي چي بدن مي يو څه سپک سي او دباندي ورووزم او وخلگو ته وصيت وکړم.

وروسته له دې چي د اسلام د پيغمبر دغه فرموده تر سره کړه سوه نو ده مبارک ته يو څه بدني خفت او راحت حاصل سو او دباندي راووتئ او له أصحاب کرامو سره يې لمونځ وکړ او بيا يې خطبه شروع کړه ، د خدائ حمد او ثنا يې وويله او د أحد د شهيدانو دپاره يې د مغفرت دعا وکړه او و أصحابِ کرامو ته يې وفرمايل چي د مدينې منوري أنصار ځما د سِر خلگ دي ، زه و دوی ته په هجرت راغلئ يم او دوی وماته ځائ راکړئ دئ ، د دوی د نيکانو به عزت کوی او د دوی تر بديو به ورتيريږی ماسوی له حدودو د الله (جل جلاله).

همدارنگه يې د مهاجرو په باب و أنصارو ته او د أنصارو په باب يې و مهاجرو ته توصيه او سپارښ وکړ او على الخصوص يې د قريشو په باره کښي خبري وکړي.

همدارنگه روايت دئ چي د مرض په ورځو کښي د إسلام پيغمبر په داسي حال کښي چي فضل بن عباس تر لاس نيولئ ؤ او سر مبارک يې په يوه ټوکر تړلئ ؤ و مسجد نبوي ته راغلئ او پر ممبر باندي کښينستئ او و حضرت بلال ته يې وفرمايل چي پر خلگو باندي ږغ وکړه چي ټول سره راسي چي زه خپل اخيري وصيت ورته وکړم ، حضرت بلال

Download from: ketabton.com

د مدينې منورې په بازارو او کوڅو کښې نعرې وکړې تر څو چې ټول خلګ و مسجد نبوي ته راغلل ، بيا د إسلام پيغمبر په يوې ډيرې تاثير ناکې او بليغې خطبې شروع وکړه او وأصحابو ته يې وفرمايل چې تاسې ټول پوه سئ چې ځما أجل رانژدې سوئ دئ ، دا اوس اوس زه خپل ځان داسې وينم چې تاسې له ما څخه جلا سوې ياست او زه له تاسې څخه جلا سوئ يم ، کله چې له ما څخه جلا سئ نو په زړو سره له ماڅخه مه جلا کيږئ او مه پخپل منځ کښې په زړو کې سره جلا کيږئ ، اې خلګو ! هيڅ داسې پيغمبر و دنيا ته ندئ راغلئ چې په دنيا کښې دې هميشه پاته سوئ وي ( يعني ماسوی له حضرت عيسی او له ځينو نورو پيغمبرانو ، چې هغه هم په معتاد ډول په دنيا کښې هستوګه نلري ) نو زه به څنګه په دنيا کښې هميشه پاته سم او ماته د الله (جل جلاله ) د لِقآء اشتياق پيدا سوئ دئ .

لکه چې د إسلام د پيغمبر يو حديث دئ چې :� من أحب لِقآءاللهِ أحب اللهُ لِقآئه . �

او همدارنګه يې و أصحابو ته وفرمايل چې اې أصحابو ! زه تاسې لره څنګه پيغمبر وم ؟ ايا جهاد مې له تاسې سره د کافرانو په مقابل کښې ندئ کړئ ؟ ايا ( يعني په لاره د جهاد کښې ) ځما غاښونه ندي مات سوي ؟ ايا په دغه لاره کښې مې مخ د کفارو په برچو سره په وينو ندئ سور سوئ ؟ ايا قسم قسم تکليفونه مې ندي کش کړي ؟ ايا د خپل قوم د جاهلانو سختۍ مې ندي زغملي ؟ ايا د لوږې په سبب مې په خپل نس پسې ډبرې ندې تړلي ؟ !!

أصحابو ورته وويل چې يا رسول الله ! په تحقيق سره د خدائ په لار کښې تا د هر قسم تکليفو په مقابل کښې صبر او برداشت کړئ دئ .

اې د خدائ رسوله ! دا ته وې چې حقه لار دې و موږ ته را وښودله .

اې د خدائ رسوله ! ستا د مبارک ذات په طفيل موږ د پيړيو پيړيو له شرک ، کفر او بت پرستۍ څخه نجات پيدا کړ .

اې د خدائ رسوله ! ستا د بې مثاله توجه او دعوت په وجه موږ له رزيلو او خبيثو أخلاقو څخه پاک او په ښو أخلاقو سره مشرف کړه سولو .

Download from: ketabton.com

اې د خدائ رسوله ! ستا په برکت ځموږ له منځو څخه د پيړيو پيړيو دښمنۍ ولاړې او په اسلامي أخوت او وحدت څخه الله تعالی موږ برخورداره کړو ، الله ( جل جلاله ) دي و تاته د دغو ټولو نبوي اجراءاتو نيکه او غوره بدله درکړي .

د إسلام پيغمبر ( صلى الله عليه وسلم ) ورته وفرمايل چي و تاسي دي هم الله پاک د خير جزا درکړي ( يعني ددې په بدل کښي چي ځما دعوت تاسي قبول کړ او مومنان سولاست او بيا مو په ډيره فوق العاده او بې مثاله طريقه سره ځما د ژوند تر اخيري نيتې پوري زندګي ځما په طاعت او فرمانبرداري کښي تيره کړه .

)روضة الشهدآء و غيره. (

Download from: ketabton.com

بسمه تعالی!!!

اللهم صل على سيدنا محمد و على آله و صحبه وسلم تسليما .

محترمو مسلمانانو ! له واقعاتو څخه د مرض موت د پيغمبر د إسلام ( صلى الله عليه وسلم ) بله واقعه دا وه چي حضرت أم سلمه ( رضي الله عنها ) د رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) د سر و بالښت ته راغله او د إسلام د پيغمبر مبارک شونډان ښوريدل ، حضرت أم سلمه فرمايي چي ما ددې دپاره دده و مبارکي خولې ته غوږونه ورنژدې کړل چي دده مبارک له خولې څخه هغه څه واورم کوم چي دَی يې وايي ، نو له ده مبارک څخه مي واوريدل چي داسي يې ويل :

اې پروردګاره ! ځما أمت د دوږخ له اور څخه خلاص کړه او د قيامت د ورځې حساب پر دوی باندي اسانه کړه .

بيا ما پوښتنه ورڅخه وکړه چي اې د خدائ رسوله ! صحت مبارک دي څنګه دئ ، څه حال دي دئ ؟

ده مبارک راته وفرمايل چي اې أم سلمې ! له ما څخه رخصت اخستونکې سه ؛ ځکه نژدې ده چي بيا به ځما ږغ نه واورې ، په دې وخت کښي ناڅاپه حضرت علي راغلئ او د إسلام و پيغمبر ته يې وفرمايل چي يا رسول الله په خوب کښي مي وليدل چي يوه زغره مي اغوستې وي ، ناڅاپه دغه زغره له ما څخه جلا سي او زه بې زغري پاته سم .

د إسلام پيغمبر ورته وفرمايل چي اې علي ! هغه زغره زه يم چي ستا پناه ګاه وم ، اوس هغه وخت رانژدې سوئ دئ چي زه به له دنيا څخه رحلت وکړم او ته به تنها پاته سې ، اې علي ! له ما څخه وروسته به ډير مکروه کارونه او تکليفونه و تاته ورسيږي ، نو بايد چي ته تنګدلي ونکړې او د صبر لار غوره کړې او کله چي ووينې چي خلګ دنيا غوره کوي نو بايد ته آخرت غوره کړې او په دې پوه سه ! چي د قيامت په ورځ به د حوض کوثر پر غاړه باندي تر هر چا له مخه ته له ما سره يو ځائ کيږې .

بيا ناڅاپه فاطمة الزهرآء راغله او د إسلام و پيغمبر ته يې عرض وکړ چي يا رسول الله ! خوب مي ليدئ چي د قرآنکريم يوه ورقه راسره وي او له هغې ورقي څخه قرآنکريم وايم ، ناڅاپه دغه ورقه له ما څخه غائبه سي .

د إسلام پيغمبر د خپلي ګراني لور د خوب په جواب کښي وفرمايل چي اې فاطمې ! هغه ورقه زه وم چي نژدې ده چي ستا له سترګو څخه به غائب سم او ته به له ما څخه پاته سې .

په دې منځ کښي حضرت امام حسن او حضرت امام حسين دواړه راغلل او وده مبارک ته يې وويل چي اې ځموږ مبارک نيکه ! موږ دواړو يو ډول خوب ليدلئ دئ چي هغه دادئ چي يو تخت په هوا کښي ځي ، روان وي او موږ تر هغه تخت لاندي لوڅ سرونه روان وو .

Download from: ketabton.com

د إسلام پيغمبر ورته وفرمايل چي هغه تخت څما تابوت او جنازه ده چي خلګ بې واخلي او تاسي به لوڅ سرونه تر هغه لاندي روان ياست .

حضرت أم سلمه فرمايي چي د اسلام د پيغمبر له دغو تعبيرو څخه په أهل بيت کښي چغي او بغاري شروع سوې او د أهل بيتو زړو د إسلام د پيغمبر د فراق له غمه ، د غم او د درد په سکروټو کبابيدل شروع کړل .

غزل:

جانها در آتش است که جانان همیرود

سیلاب خون ز دیدهء گریان همیرود

یعقوب را ز یوسف خود دور میکند

خاتم بیرون ز دست سلیمان همیرود

آدم وداع سایهء طوبی همیکند

خضر از کنار چشمهء حیوان همیرود

دردا که گوهریست گران مایه صحبتش

دشوار دست داده وآسان همیرود

همدارنګه روايت دئ چي د إسلام د پيغمبر ( صلی الله علیه وسلم ) تر وفات درې ورځي له مخه حضرت جبريل (علیه السلام) د إسلام و پيغمر ته راغلئ او ورته وې ويل چي الله (جل جلاله ) پرتا باندي سلام وايي او زه يې وتاته راوليږلم او په دې کي مقصد اعزاز او اکرام ستا مبارک دئ ، سره له دې چي الله تعالی په هر څه عالم دئ خو ستا د اعزاز لپاره الله پاک ستا د حال پوښتنه کوي چي څرنګه يې ؟

دإسلام پيغمبر ورته وويل چي څما حال دادئ چي پريشانه يم او دردمند او غمجن يم ، بله ورځ بيا جبريل ورته راغلئ او ذکر سوې خبر يې ورته وکړه ، د إسلام پيغمبر بيا هغه ړومبنئ جواب ورکړ ، په دريمه ورځ ملک الموت او يوه بله پرشته چي اسماعيل يې نوم ؤ چي پر داسي زرو پرشتو باندي دغه اسماعيل حاکم ؤ چي په دغو زرو پرشتو کښي د هري پرشتې بيا زر نوري پرشتې تر حکم لاندي وې ، د إسلام د پيغمبر ودروازې ته راغلل ، حضرت جبريل

Download from: ketabton.com

د إسلام و پيغمبر ته وفرمايل چي عزرائيل ودروازې ته ولاړ دئ او اجازه غواړي او تر تا له مخه يې له هيچا څخه دده د روح د قبضولو اجازه نده غوښتې او نه بې وروسته له تا څخه له هيچا څخه وغواړي ؟

جناب رسول كريم ( صلى الله عليه وسلم ) وفرمايل چي اې جبرئيله ! اجازه ورکړه چي راسي ، کله چي عزرائيل (عليه السلام ) رغلئ او د سلام اچولو سنت يې ادا کړ نو يې د إسلام و پيغمبر ته وفرمايل چي الله پاک زه وتاته راليږلئ يم او حکم يې راته کړئ دئ چي ستا د فرمان مطابق به کار کوم ، نو ستا اختيار دئ چي ستا د مبارکي روح د قبضولو اجازه راکوې چي و عالمِ علوي ته يې يوسم او کې نه راکوي نو به زه بيرته ولاړ سم ، د إسلام پيغمبر د جبرئيل و طرفته وکتل ، جبرئيل ورته وويل چي الله تعالى ستا د لقاء مشتاق دئ ، نو د إسلام پيغمبر وفرمايل چي زه هم د الله (جل جلاله ) د لقآء مشتاق يم او ملک الموت ته يې وويل چي په خپل کار مشغول سه .

نظم:

تو باز ذروهء نازي مقيم پردهء رازي

قرارگاه چي سازي درين نشيمن فاني

تو مرغ عالم قدسي حريف مجلس أنسي

دريغ باشد اگر تو درين مقام بماني

محترمو مسلمانانو ! د ملک الموت د اجازې غوښتلو يا وده ته د اجازې ورکولو په ارتباط به ډير مفصل بيان په راتلونکې برخه کښې درته راسي .

)روضة الشهدآء و غيره. (

Download from: ketabton.com

بسمه تعالی!!!

اللهم صل علی سیدنا محمد و علی آله و صحبه وسلم تسلیما .

له حضرت ابن عباس (رضي الله عنه ) څخه روایت دئ چي د إسلام دپیغمبر د وفات په ورځ الله (جل جلاله) و ملک الموت یعني حضرت عزرائیل ته حکم وکړ چي ځما و حبیب حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم ) ته ورسه ، خو له دوو خبرو سره ډیر خیال کوه : اول دا چي دده و کور ته بې اجازې دده ورداخل نسي او دوهم داچي بې اجازې دده ، دده روح قبض نکړي .

د الهي حکم مطابق ملک الموت سره له زرهاؤ پرشتو د اسلام د پیغمبر وکور ته راغلئ او د الله تعالی له طرفه د عزرآئیل په لاس کښي یو خط هم ؤ ، بیا حضرت عزرائیل د یوه أعرابي او صحرایي په شکل کښي دده مبارک د کور دباندي ودریدئ او داسي یې وویل : السلام علیکم أهل بیت النبوة و معدن الرسالة و مختَلَف الملائکه .

بیا یې وویل چي و ماته اجازه راکړی چي و حجرې مبارکي ته درسم ؛ ځکه له ډیره لیري ځایه څخه راغلئ یم !

حضرت فاطمې ورته وویل چي في الحاله د ملاقات موقع نده برابره ، د اسلام پیغمبر په خپل شان او حال مشغول او مصروف دئ !

حضرت عزرائیل دوهم ځل بیا اجازه وغوښتله ، بیا د فاطمې له لوري منفي جواب ورکړ سو ، دریم ځل حضرت عزرائیل بیا غوښتنه د اجازې وکړه او په دوني لوړ او هیبتناک اواز سره یې وکړه چي هر څوک چي د اسلام د پیغمبر په کور کښي وو له هیبت او ویري څخه ولړزیدئ ، په دغه وخت کښي د اسلام پیغمبر یو څه په هوښ کي راغلئ او سترګي مبارکي یې خلاصي کړې او وې فرمایل چي څه پېښه ده ؟

حضرت فاطمې ورته وویل چي یارسول الله ! یو نابلده سړئ چي په ډیر هیبتناک او نادر شکل کښي دئ دباندي ولاړ دئ ، درې واره یې اجازه وغوښتله او ما عذر ورته پیش کړ خو دَی ځما و خبري ته غوږ نه نیسي ، د اسلام پیغمبر ورته وفرمایل چي اې فاطمې ! دا داسي سړئ دئ چي د دنیا ټول لذتونه او خوندونه له سړي څخه اخلي ، دا داسي څوک دئ چي د سړي ټولي ارزوګاني او مطلبونه له خاورو سره برابروي ، اې فاطمې ! دا هغه شخص دئ چي ډلي جماعتونه او د یوه مجلس خلګ سره جلا کوي ، اې فاطمې ! دا هغه الهي استازئ دئ چي کوچني ماشومان یتیمان او ښځي کونډیاني ګرځوي ، دا داسي څوک دئ چي بې کیلي او چابي ددروازې قلفان ورته خلاصیږي او بې وسلې له سړي څخه روح وړي ، که دروازه ورته وتړله سي پر دیوال باندي و کور ته راواوړي ، اې فاطمې ! دا ملک الموت دئ ، دا عزرائیل دئ چي تا بې پلاره کوي او ستا د داسي قدرمند پلار د روح د قبضولو دپاره راغلئ دئ ، اې فاطمې ! دا ځموږ د احترام په وجه په دروازه کښي ولاړ دئ او اجازه غواړي ، ورنه دا عزرائیل بولي چي اجازه غوښتل دده عادت ندئ ، ورسه ! دروازه ورخلاصه کړه.

Download from: ketabton.com

حضرت بي بي فاطمه په چغو او په بغارو ودروازې ته ورغله او عزرائيل ته يې دروازه ورخلاصه کړه او بيرته راغله د خپل مبارک پلار حضرت محمد ( صلى الله عليه وسلم ) و غيږي ته ورولوېدله ، په دغه وخت کښي ليږ ساعت د إسلام د پيغمبر سترګي مبارکي پټي سوې او د أهل بيتو داسي ګمان سو چي لکه چي رحمة اللعالمين رسول له دنيا څخه رحلت وکړ ، فاطمة الزهرآء د : � يا ابتاه ! � يعني اې بابکه اې بابکه ! نعرې شروع کړې ، خو د خپل پلار له لوري هيڅ جواب ورنکړ سو ، بيا يې د ژړا په حال کښي داسي وويل :

چي اې پلاره ! ځما روح دې تر تا قربان سي يو ځل خو لا راته وګوره او يو خبره خو لا راسره وکړه !!!

د إسلام پيغمبر خپلي مبارکي سترګي روښي کړې او وفاطمې ته يې وفرمايل چي اې ځما لوري ! مه ژاړه د عرش حمَله پرشتې ستا د چغو په وجه په بغارو سوې ، او بيا يې ددې مبارکي له مخ څخه په خپل لاس ددې اوښکي ورپاکولې او د خوشحالۍ خبري يې ورته کولې او داسي دعا يې فرمايله چي اې پروردګاره ! ځما و ګراني لور فاطمې ته ځما په مفارقت او جدايي کښي صبر وروبخښه ، بيا يې ودې مبارکي ته وفرمايل چي کله چي ځما روح قبض کړه سي نو � انا لله وانا اليه راجعون � ووايه .

په دې وخت کښي د اسلام د پيغمبر ټولي بي بي ګاني حاضري سوې او د إسلام پيغمبر و دوی ته په تقوی او طاعت سره وصيت وکړ او بيا يې حسنين په ډير تلوار راوغوښتل ، حسنين لوڅ سرونه په چغو او په بغارو د خپل نيکه وکور ته په منډه راغلل او سلام يې ووايه او د إسلام د پيغمبر وبغل ته کښينستل ، کله چي يې د خپل نيکه حال وليدئ نو په چغو سر سول تر داسي اندازې پوري چي هر چا د دوی ژړا اوريدله هغه په بغارو کيدئ ، او دا ددې ځائ ؤ چي ټول أهل زمين او ټول أهل اسمان او جنيات او پرشتې د سرور کآئنات په مصيبت کښي په ژړا ول .

نظم :

دوستان روز وداع است فغان درګيريد

دل بيک بارګي از جان و جهان بر ګيريد

شمع خورشيد بآه سحر بنشانيد

وز تب سوز جګر باري ديګر درګيريد

په � مقتل نورالأئمة � کښي راغلي دي چي د اسلام پيغمبر په پټه او په خفيه له خپل ځان سره د حسنينو په باب کښي داسي ويل چي زه نه پوهيږم چي جفاکاران د أمت ځما به له تاسي سره څه وکړي ؟ حسنينو و خپل مبارک نيکه ته په ژړا ژړا وويل چي له تا څخه وروسته به ځموږ ماوی او پناه ګاه څوک وي او څوک به ځموږ غمګساري او دلنوازي کوي ، او حضرت بي بي فاطمې وويل چي اې بابکه ! که ما ته يو غم او درد راپيښ سو نو له تا څخه وروسته بې زه و چاته وايم او که حسنين د يو شي ارزو وکړي چي ته نه يې نو څوک به د دوی ناز واخلي .

Download from: ketabton.com

اې د غریبانو غمخور نبي ! اې د یتیمانو نازونکي نبي ! اې د بېچاره ۋ او بې کسانو پناګاه او دستګیر پیغمبره ! ستا په فراق کښي به زه د صبر کولو طاقت څنګه ولرم او بې له لیدلو ستا څخه به زه خپل ژوند او زندګي څنګه تیروم .

نظم :

درغم آباد جهان بې یار بودن مشکل است

غم ز حد بګذشت بې غمخوار بودن مشکل است

رفت دلدار دل خون ګشته را با خود ببرد

اې عزیزان !بې دل و دلدار بودن مشکل است

روایت دئ چي ځني له خواصو د أصحاب کرامو د حضرت رسول أکرم دحجرې مبارکي ودروازې ته ولاړ ول ، کله چي د حسنینو چغاري او بغاري واورېدلې نو دوی مبارکانو هم په چغو پیل وکړ ، د إسلام پیغمبر چي د خپلو أصحابو ژړاوي واورېدلې نو دَی مبارک هم په ژړا سو او وې فرمایل چي پر خپل أمت باندي د رحم او د شفقت له وجي ژاړم چي ایا وروسته له ما څخه به د دوی حال و کومي درجې ته ورسیږي .

وروسته د إسلام پیغمبر حضرت علي راطلب کړ ، کله چي حضرت علي راغلئ نو د إسلام پیغمبر هغه وصیتونه و ده ته وکړل کوم چي دده مبارک په زړه کښي ول .

حضرت علي ( کرم الله وجهه) فرمایلي دي چي په دغه وخت کښي زر قسمه علمونه د إسلام پیغمبر وماته راوښودل چي له دغه هر قسمه څخه د زرو نورو قسمو د علم دروازې پر ما باندي خلاصي سوې .

وروسته حضرت عزرآئیل د اسلام د پیغمبر ( صلی الله علیه وسلم ) و حضور ته تشریف راوړ ، وروسته له ویلو د السلام علیک أیهاالنبي ! څخه یې د الله تعالی و رسول ته عرض وکړ چي الله پاک پر تاباندي سلام وایي او وماته یې داسي حکم کړئ دئ چي ستا مبارکه روح قبض کړم ، خو په دې شرط چي ستا اجازه وي.

د اسلام پیغمبر ورته وفرمایل چي اې ملک الموت ! تر هغه پوري ځما روح مه قبضوه چي ځما ورور جبریل راځي ، ملک الموت ورته وویل چي زه ستا په دې خبره کښي تابعدار یم .

وروسته الله (عز وجل ) و خازن ته د دوږخ چي مالک نومیږي وفرمایل چي ځما د حبیب حضرت محمد ( صلی الله علیه وسلم ) مطهره او پاکه روح و اسمان ته راځي نو پدې وجه د دوږخ اور مړ کړه ، او دارنګه یې د جنت و خازن ته چي رضوان نومیږي وویل چي د سیدالأنبیآء ( صلی الله علیه وسلم ) د مقدسي روح دپاره جنت ښائسته کړه ، او

Download from: ketabton.com

همداراز د جنت و حورو ته حکم وکړ سو چي خپل ځانونه سنګار کړی چي ځما د حبيب روح درځي او و ټولو پرشتو ته د عالم ملکوت حکم وکړ سو چي په استقبال کي د روح د حضرت محمد ( صلی الله عليه وسلم ) صف صف ودريږی .

وروسته الله ( جل شانه ) و جبريل ته حکم وکړ چي د جنت يو دستمال درسره واخله او ځما و حبيب ته ځان ورسوه ، حضرت جبريل په ژړا ژړا د اسلام د پيغمبر و حضور ته راغلئ ، د اسلام پيغمبر ورته وفرمايل چي اې ځما دوسته په داسي سخت ساعت کښي دي زه تنها پرې ايښئ يم !

جبريل ورته وويل چي تر اوسه پوري ستا په خدمت مشغول وم او اوس مي داسي د خوشحالۍ خبري هم درته راوړي دي چي ستا له مرضي سره مطابقي او وتاته محبوبي دي ، د اسلام پيغمبر ورته وفرمايل چي هغه کومي خبري دي ؟

حضرت جبريل ورته وويل چي : � ان النيرانَ قد أخمدَت والجنان قد زخرفت و الحورالعين قد تزينت و الملائکة قد صففت بقدوم روحک. �

د اسلام پيغمبر و حضرت جبريل ته وفرمايل چي داخو ډير نيک زيري دي مګرماته داسي خبر وکړه چي ځما سترګي په روښانه سي او زړه مي په خوشحاله سي !

حضرت جبريل ورته وفرمايل چي پر ټولو انبياؤ او د دوی پر امتو باندي جنت تر هغه پوري حرام دئ چي ته او ستا امتيان ورداخليږي ، د اسلام پيغمبر بيا ورته وفرمايل چي تر دغه يو بل غټ د خوشحالۍ زيرئ راباندي وکړه !

حضرت جبريل ورته وفرمايل چي يا رسول الله ! دا خبره فيصله سوېده چي د حشرګاه پر ميدان به د شفاعت تاج او خول تر هر چا له مخه ستا پر مبارک سر باندي ايښودل کيږي ،

د اسلام پيغمبر بيا ورته وفرمايل چي اې جبريله ! داسي خبر راته وکړه چي ځما له زړه څخه د ملالت او د خفګان غوټې خلاصي کړي !

حضرت جبريل ورته وفرمايل چي اې مقتدی د انبياؤ او د رسولانو ! راته ووايه د کوم شي په غم کښي يې او په کوم شي فکرمند يې چي دغو ټولو خبرو ستا له مبارک زړه څخه هغه غم او فکر ليري نکړ ؟

د اسلام پيغمبر ورته وفرمايل چي له ما سره فکر او غم د أمت دئ چي وروسته له ما څخه به ددين زده کړه دوی له چا څخه کوي ؟ د رمضان د مبارکي مياشتي روژې به چي زه نه يم په څه ډول دوی نيسي او د حج مراسم به په څه ډول تر سره کوي او د آخرت په ورځ به ددوی انجام او عاقبت څنګه کيږي ؟

Download from: ketabton.com

حضرت جبریل ورته وفرمایل چي اې سروره ! زړه مبارک دي خوشحاله کړه په دنیا کښي به الله پاک ستا امتیان پخپله ساتنه سره دروساتي او د قیامت په ورځ به دونه امتیان ستا په لمن کښي الله تعالی دروبخښي چي ته به په خوشحاله سې!!!

د اسلام پیغمبر وفرمایل چي اوس مي نو زړه خوشحاله سو او سترګي دي راروښانه کړې .

له دې څخه وروسته رحمة اللعالمین رسول و ملک الموت ته د روح د قبضولو اجازه ورکړه ، ملک الموت دده مبارک د روح په قبضولو شروع وکړه ، په دغه وخت کښي د اسلام پیغمبر د خپلي خوني و بام ته کتل او لاس مبارک بې پورته کوئ او د � بالرفیق الأعلی � الفاظ بې ویل .

چـــــي يـــــو ناخـــــاپه دده مبـــــارک مطـــــهره روح قبـــــض کړه سوه او و عالـــــم الوصال ته يـــې کـــــوچ او ارتـــــحال وکـــــړ .

مثنوي:

رفت آن طاوس عرشي سوي عرش

چون رسید اندر مشامش بوي عرش

شاه بازي این قفس درهم شکست

رفت خوش بر ساعد سلطان نشست

نظم :

شعلهء آتش تو جان میسوزد

وز فراق تو دل پیر و جوان میسوزد

این چه در دست کزو خون بجگر میریزد

وین چه سوزاست کزو جان و جها ن میسوزد

شـــرح این غـــم چه نـــویسم که قلم میشکند

Download from: ketabton.com

وصف این حال چه گویم که زبان میسوزد

محترمو مسلمانانو ! د اسلام د پیغمبر ( صلی الله علیه وسلم ) د غسل ، تکفین او د جنازې د لمانځه په اړه بیان او دارنګه د أصحاب کرامو غبرګون د ده مبارک د فراق په وجه او دارنګه د إسلام د پیغمبر د ځینو مهمو وصیتونو ذکر به په راتلونکي برخه کښې انشآءالله درته راسي .

)مدارج النبوت ، روضة الشهدآء و غیره. (

Download from: ketabton.com

بسمه تعالی!!!

اللهم صل علی سیدنا محمد و علی آله و صحبه وسلم تسلیما .

محترمو مسلمانانو! په دې برخه کښې ځني خبري چي دجناب سرور کائنات ( صلی الله علیه وسلم ) په مرض موت کښي رامنځته سویدي اوپه تیرو برخو کښې یې ما ذکر نه دئ درته کړئ درته یاداوري کوم او نور د هغو خبرو په باب وضاحت درته کوم دکوموچي مي دتیري برخي په اخیرکښي وعده درسره کړې وه .

)۱ : ( خبر داده چي ځینوعلماوو ذکرکړیدي چي داسلام پیغمبر چي ومدیني منورې ته دحجة الوداع دسفرڅخه لا نه ؤ رارسیدلئ د بغل درد ورعارض سو ترداسي اندازې پوري چي له دغه دردڅخه په تکلیف سو ، چي دیارلس لمونځونه یې په داسي ډول وکړل چي امام د لمانځه به حضرت ابوبکر ؤ اوده مبارک به په ابوبکر پسي اقتداء کوله بیا دصفري دمیاشتي په اخرکښي دچهارشنبې به ورځ دحضرت میموني رضي الله عنها په کور کښي دسردرد اوتبه ورولاړه سوه.

)۲ : ( داسلام پیغمبر وحضرت بي بي عائشي ته په مرض الموت کښي اطلاع ورکړه چي درببع الاول په میاشت کښي به زه له دې ددنیا څخه رحلت کوم ، دحضرت عائشې په زړه نو یوازي الله (جل جلاله ) خبر ؤ چي له اطلاع سره سم به څه قسم حالات ددې په زړه مسلط سوي وي.

)۳ : ( دمر ض الموت په جریان کښي داسلام پیغمبر یووخت په تاکید سره داحکم وکړچي ابوبکرته ووایاست چي وخلگوته لمونځ ورکړي یعني زه دمرض دشدت په وجه ددې نه یم چي وخلگوته په جماعت لمونځ ورکړم

داسلام دپیغمبر (صلی الله علیه وسلم ) له دې کار څخه چي ده به په حضرت أبوبکر پسي د جماعت لمونځ وکړ او دارنگه ده له دې حکم څخه چي ذکر سو أهل السنة والجماعت دغه مسئله راایستلې ده چي أحق په خلافت سره د اسلام له پیغمبر څخه وروسته حضرت أبوبکر الصدیق ؤ ، ددې مسئلې نور دلائل هم سته چي د ځنو ذکر به د بل بیان په ضمن کښي درته راسي علی أنوف أهل التشیوع.

)۴ : ( د مرض موت په جریان کښي یو وخت د إسلام پیغمبر په مسجد نبوي کښي و أصحاب کرامو ته د خپل وصیت په سلسله کښي وفرمایل چي اې ځما أصحابو ! اې ځما ورونو ! زه ستاسي په منځ کښي د پیغمبر په حیث واوسیدم او کومه وحي چي به حضرت جبریل (علیه السلام ) د الله ( جل جلاله ) له طرفه وماته راوړله نو هغه به مي و تاسي ته ویله ، کوم څه چي حلال دي په هغه به مي أمر درته کاوئ او کوم څه چي حرام دي له هغه څخه به مي تاسي منع کولاست ، ټول أصحاب په چغو او په بغارو سول ، حتی ځینو علماؤ فرمایلي دي چي له ډیري نفستنگۍ څخه یې خپلي جامې څیرلې او پر خپلو سرو باندي یې خاوري اچولې .

Download from: ketabton.com

په دي جريان کښي حضرت أبوبکر د اسلام و پيغمبر ته عرض وکړ چي يارسول الله ! ما نن شپه يو خوب وليدئ هغه دا ۋ چي د حضرت عآئشې له سر څخه ټکرئ او پوړنئ و هوا ته پورته سي .

د اسلام پيغمبر وده ته د خوب معنى په دي ډول ورکړه چي کوم چا چي دغه خوب ليدلئ دئ معنى يې داده چي دده څوم به له دي دنيا څخه رحلت وکړي ، بيا حضرت عمر عرض وکړ چي اې د خدائ رسوله ! ما هم نن شپه په دي ډول خوب وليدئ چي عدل مي مات او شکسته سي ، داسلام پيغمبر ورته وفرمايل چي اې عمره ! عدل د تمام جهان زه وم کله چي زه له دي جهان څخه ولاړ سم نو ستا عدل به مات سي ، بيا حضرت عثمان عرض وکړ چي يارسول الله ! ما هم نن شپه خوب وليدئ چي يوه ورقه د قرآنکريم په هوا الوتې وي ، د اسلام پيغمبر ورته وفرمايل چي اې عثمانه ! هغه ورقه د قرآن زه يم ، کله چي زه رحلت وکړم نو د وحي سلسله به ختمه سي .

محترمو ! د أهل بيت د خوبو بيان مي په تيرو برخو کي درته ذکر کړئ دئ .

)٥ : ( د اسلام پيغمبر (صلى الله عليه وسلم ) چي د ځکندن او د نزع په حال کښي کومي کلمې ويلې هغه په دې شرحه وې :

اول : � اللهم أعني على سكراتِ الموتِ � و في رواية � على منكرات الموت . �

دوهم : � لاإله الا الله إن للموت سكرات. �

دريم : � اللهم رب اغفرلي و ألحقني بالرفيق الأعلى . �

)٦ : ( چي د اسلام پيغمبر (صلى الله عليه وسلم ) چي کله و دنيا ته تشريف راوړئ نو اوله خبر چي ده په دنيا کي کړيده نو هغه دا وه :

الله أكـــــبر كبيراً والحمدلله كـــثيراً و سبحانَ اللهِ بكرة و أصيلا .

او ځينو علماؤ فرمايلي دي چي هغه : � الله أكبر � ۋ .

دا کلمې ده مبارک د شيرخورۍ په وخت کښي ، هغه وخت وويلې چي حضرت حليمې سعديې اول ځل وده مبارک ته تئ ورکوئ .

او اخيري الفاظ دده مبارک په دنيا کښي � الرفيق الأعلى � وو .

)٧ : ( د اسلام پيغمبر (صلى الله عليه وسلم ) د مرض موت په جريان کښي و خلګو ته په خطاب کښي وفرمايل چي له دي دنيا څخه ځما دتللو وخت رانژدې سوئ دئ ، د هر چا که پر ما باندي حق پاته وي نو دلته دې په دنيا کښي

Download from: ketabton.com

له ما څخه واخلي ، په دې وخت کښې يوه نفر وويل چي اې د خداۍ رسوله ! څما پر تا باندې درې درهمه باندې دي !

د اسلام پيغمبر وفرمايل چي زه د چا تکذيب نکوم او نه و چاته قسم ورکوم ، دغه درې درهمه دي له کومه رويه پر ما باندې دي ؟

دغه سړي ورته وويل چي يو وخت يو مسکين تيريدۍ تا و ماته وويل چي درې درهمه ودغه مسکين ته ورکه او بيا ما هغه درې درهمه ورکړل ، مګر تا بيا وماته رانکړل !

د اسلام پيغمبر و حضرت فضل ته وفرمايل چي ودغه سړي ته درې درهمه ورکړه .

په سيرَ کښې د امام شهيد ، امام اسماعيل خوارزمي او په � روضة الإسلام � کښې د قاضي سديدالدين راغلي دي چي په دغه مجلس کښې � عکاشه اسدي � ولاړ سو او د إسلام و پيغمبر ته يې وويل چي يا رسول الله ! يوه خبره کوم پدې وجه چي تا په دې باره کښې چي که د چا پر ما باندې کوم حق وي نو مطالبه دې وکړي ډير تکرار ، تاکيد او مبالغه وکړه که داسي نه واۍ نو مادا خبره نه کوله ، هغه خبر داده چي د تبوک په غزا کښې تا په يوه غمچينه او تازيانه باندې � اوښه � وهله ناڅاپه هغه تازيانه پر ما باندې ولګېدله او زه ډير په تکليف سوم ، نو اوس زه د هغې غمچينې د قصاص غوښتونکۍ يم!

په دغه وخت کښې هغه غمچينه د حضرت فاطمې په کور کښې پرته وه د اسلام پيغمبر دا غمچينه راوغوښتله او و عکاشه تې وويل چي تاته دي الله (جل جلاله ) خير درکړي چي دا قصاص دي د آخرت وورځې ته پرېنښودۍ ؛ ځکه چي د قيامت په ورځ چي تمام پيغمبران او ملائکه او ټول انسانان دحشرګاه په ميدان کښې داالله تعالی په حضور کي حاضر وي نو په دغه وخت کښې چي يو څوک له يو چا څخه د خپل حق مطالبه کوي نو د هغه دپاره دا کار دډير لوۍ خجالت او د سختي شرمندګۍ سبب ګرځي ، راسه ! اوس خپل قصاص له ما څخه واخله .

په دې وخت کښې ډيرو أصحابو په شمول د حسنينو و عکاشه ته احتياجونه او زارۍ وکړې چي د اسلام د پيغمبر په بدل کښې مونږ سل سل غمچيني ووهه ! خو د إسلام له پيغمبر څخه له دغې غوښتني تير سه !

عکاشه د هيڅا خبر ونه منله او د إسلام و پيغمبر ته يې وويل چي يا رسول الله ! تا چي زه په غمچينه ووهلم هغه وخت څما شا لوڅه وه نو ته به هم خپله مبارکه شا راته لوڅوې

د إسلام پيغمبر خپله مبارکه شا ورته لوڅه کړه ، کله چي عکاشه دده مبارک پر مبارکه شا باندې د نبوت مهر وليدۍ نو هغه يې مچ کړ او بيا يې د إسلام و پيغمبر ته عرض وکړ چي اې د خداۍ رسوله ! څما قصاص اخستل مقصد نه ؤ ، بلکي څما مقصد همدغه کار ؤ چي و مي کړ ، په دې سبب چي تا فرمايلي دي : � من مس جلدي لن تمسه النار أبدًا . �

Download from: ketabton.com

په همدغه مجلس کښي د إسلام پيغمبر وفرمايل چي د هر چا پر ذمه که د چا حق وي نو اوس دي لا له هغه څخه ځان خلاص کړي او دا فکر دي نکوي چي رسوا به سم ؛ ځکه چي د دنيا فضيحت ډير اسانه کار دئ تر فضيحت د آخرت ، نو يو نفر ولاړ سو او وېي ويل چي يا رسول الله ! درې درهمه د غنيمت له مال څخه ما په خيانت وړي دي چي هغه اوس ځما پر ذمه باندي دئ ، د اسلام پيغمبر ورته وفرمايل چي دا خيانت دي ولي وکړ ؟

ده ورته وويل چي يا رسول الله ! ورته محتاج وم

د اسلام پيغمبر و حضرت فضل ته وفرمايل چي دغه درې درهمه له دغه سړي څخه واخله .

بيا د اسلام پيغمبر وفرمايل چي په هر چا کښي که يو بد صفت موجود وي ( يعني او له ځانه يې نسي ليري کولاىٔ ) نو ولاړ دي سي هغه صفت دي ذکر کړي چي زه دعا ورته وکړم !

يو نفر ولاړ سو او وېي ويل چي يا رسول الله ! په ما کښي درې بد صفتونه موجود دي:

اول دا چي دروغ ډير وايم ، دوهم دا چي فحش او بدګويي ډيره کوم ، دريم دا چي خوب ډير کوم!

د اسلام پيغمبر دعا ورته وکړه او وېي فرمايل چي اې خدايه ! ددغه سړي صدق او رشتيا ويل نصيب کړه ( يعني او فحش ګويي ورڅخه ليري کړه ) او خوب يې کم کړه په دې ډول چي هر وخت دده زړه وغواړي رابيداره کيدلاىٔ سي .

په دې وخت کښي يو بل نفر ولاړ سو او عرض يې وکړ چي اې د خداىٔ رسوله ! په ما کښي دوه بد خويونه دي :

اول بد خوی مي دادئ چي دروغ وايم ، دوهم بد خوی مي دادئ چي منافقت کوم!

د اسلام پيغمبر وده ته هم دعا وکړه .

محترمو مسلمانانو ! په دې بيان کښي و موږ او تاسي ته دا درس او تعليم موجود دئ چي د حقوق الله او د حقوق العباد د دواړو کامل رعايت وکړو او که ځموږ پر ذمه باندي د الله پاک يا د بنده حق پاته وي نو له هغه څخه په دنيا کښي لا په هغه طريقه ځان خلاص کړو کومه چي شريعت د له حقوقو څخه د خلاصوالي دپاره بيان کړېده ، خاص بيا د بندګانو حقوق ؛ ځکه چي د بنده له حق څخه انسان په توبه سره هم نه خلاصيږي تر څو چي و هغه بنده ته يا حق ورونه رسوي يا هغه عفوه ورته ونکړي .

په کتاب د � الإسلام و سأئرالأديان � کښي د � شامي � په حواله ذکر سويدي چي د يوې روپۍ شپږمه حصه حق که د چا پر ذمه باندي پاته ؤ نو ددې په بدل کښي به اوه سوه په جماعت سره ادا سوي لمونځونه دده و هغه حقدار ته ورکړه کيږي .

Download from: ketabton.com

په یوه ثابت او مشهور حدیث کښي راغلي دي چي د اسلام پیغمبر ( صلی الله علیه وسلم ) و أصحاب کرامو ته وفرمایل چي تاسي پوهیږئ چي ځما له أمت څخه مفلس کوم سړئ دئ ؟

أصحابو ورته وفرمایل چي مفلس خو هغه څوک دئ چي درهم او دینار نلري ( یعني دنیا نلري ) !

د اسلام پیغمبر ورته وفرمایل یعني چي مفلس ځما له أمت څخه هغه دئ هغه دئ چي د قیامت په ورځ راسي په داسي حال کښي چي لمونځونه ، روژې ، حج او داسي نور عبادتونه یې کړي وي خو له دې سره سره یې په دنیا کښي و یو چاته ښکنځل کړیوي ، د بل چا یې بیا مال خوړلئ وي ، دبل چا یې بیا په ناحقه وینه توی کړې وي او داسي نور ، نو دده دغه ټول عبادتونه و دغو حقدارانو ته ورکړه سي او دَی خالي لاس پاته سي .

او ځینو ثابتو روایاتو له مخي دا خبره لا هم سته چي که دده په طاعت او عبادت د حقدارانو غاړه نه ووځي نو بیا دده د حقدارانو ګناوي دده پر ذمه باندي ګرځي .

)۸ : ( د اسلام پیغمبر ( صلی الله علیه وسلم ) د مرض موت په جریان کښي په مختلفو نوبتو و أصحاب کرامو ته قسم قسم نصیحتونه او وصیتونه وکړل ، چي ځني نموني یې په تیرو برخو کښي وتاسي محترمو ته ذکر سوې ، له جملې د هغوی څخه یو نصیحت دده مبارک دا ؤ چي و أصحاب کرامو ته یې وفرمایل چي زه پر تاسي باندي له دې څخه نه بیریږم چي تاسي به بیرته کفر او شرک غوره کړی ، مګر له دې څخه بیریږم چي و دنیا ته به رغبت وکړی او د دنیا په وجه به پخپل منځ کښي اختلافات او جنګونه شروع کړی .

لکه چي د اسلام پیغمبر فرمایلي دي : � حب الدنیا رأس کل خطیئة . �

او همدارنګه دده مبارک و خپلو ازواجو مطهراتو ته د خانه نشینۍ، ستر او له نامحرمه خلګو څخه د دوی د ځانو د ساتلو په باب وصیت وکړ او دغه مبارک آیت یې ورته تلاوت کړ : � و قرن في بیوتکن و لاتبرجن تبرج الجاهلیة الأولی . �

)۹ : ( د اسلام پیغمبر ( صلی الله علیه وسلم ) په مرض موت کښي و جبریل ته وفرمایل چي اې جبریله ! له ما څخه وروسته بیا به و مځکي ته راکښته سې او که یا ؟

جبرئیل ورته وویل چي له تا څخه وروسته به زه هیڅ وخت و مځکي ته راکښته نه سم ، مګر لس واره راکښته کیږم چي لس ګوهره له دنیاوالو څخه وړم .

د اسلام پیغمبر ورته وفرمایل چي هغه لس کوم ګوهرونه دي ؟

جبریل (علیه السلام ) ورته وویل چي یا رسول الله ! اول وار چي له تا څخه وروسته و مځکي ته راکښته سم نو د صبر ګوهر به له دنیا څخه یوسم چي بیا به په هیڅ درویش او فقیر کښي ( یعني او دارنګه په هیچا کښي ) صبر کول پاته

Download from: ketabton.com

نسي ، دوهم وار چي راکښته سم نو د شرم گوهر به له دنيا څخه پورته کړم چي بيا به له هيچا سره شرم او حيا نسي پاته ، دريم وار چي راکښته سم نو گوهر د محبت به له دنيا څخه پورته کړم چي هيچا ته به محبت نسي پاته ، څلرم وار به گوهر د عدل او انصاف له دنيا څخه پورته کړم چي بادشاهان به له عدل او انصاف څخه خالي پاته سي ، پنځم وار به گوهر د برکت له دنيا څخه پورته کرم چي په دنيا کي به په هيڅ شي کي برکت نسي پاته ، شپږم وار به گوهر دسخاوت پورته کړم چي هيڅوک به له فقيرانو سره خپلوي او ياري نکوي ، اوم وار به له دنيا څخه گوهر د صدق او راستۍ پورته کړم چي هيڅوک به راست گويه او صادق نسي پاته ، اتم وار به گوهر د عمل په علم له دنيا څخه پورته کړم چي بيا به علماء بې عمله پاته سي ، لسم وار به گوهر د برکت د قرآن مجيد له دنيا څخه پورته کړم ، بيا به د قيامت علامې ښکاره سي او حضرت اسرافيل به په شپېلۍ کښې پوه کړي .

)مدارج النبوت ، روضة الشهدآء ، قصص القران و غيره. (

Download from: ketabton.com

بسمه تعالی!!!

اللهم صل و سلم وبارک أفضل صلاتک و سلامک و برکاتک علی سیدنا محمد و آله و صحبه أ جمعین .

قدرمنو مسلمانانو! په دې برخه کښې هم د إسلام د پیغمبر ( صلی الله علیه وسلم ) د مرض موت او دده مبارک له رحلت سره متصل ځیني مهمي خبري درته کوم .

اوله خبره داده چي په مرض موت کښي د اسلام پیغمبر یو وخت حضرت علي و خپل حضور ته وغوښتئ او ورته ویې فرمایل چي رنګ او یو کاغذ او ورقه راوړه چي ستا دپاره یو وصیت ولیکم .

حضرت علي فرمایلي دي چي ما فکر وکړ چي داسي پېښه نسي چي زه قلم ، رنګ او کاغذ پید اکوم او بیرته راځم د اسلام پیغمبر وفات کړئ وي ، نومي وده مبارک ته وویل چي یارسول الله ! هر وصیت چي کوې په خوله يې راته وکړه له ما څخه انشآءالله نه هیرېږي !

نو د اسلام پیغمبر وفرمایل چي : � الصلوات و ماملکت أیمانکم � و في روایة � الله الله في ما ملکت أیمانکم البسوا ظهورهم و اشبعوا بطونهم و الینوا لهم القولَ . �

دوهمه خبره داده چي کله چي د إسلام د پیغمبر( صلی الله علیه وسلم ) مرض ډیر سخت سو د پنجشنبې ورځ وه ، نو ده مبارک وغوښتل چي یو خط او یوه عهدنامه ولیکي ، نو یې و عبدالرحمن بن أبې بکر ته وویل چي یوه تخته راوړه چي زه د أبوبکر دپاره خط ولیکم ( یعني په دې باره کښي چي دَی به له ما څخه وروسته خلیفه د اسلام وي چي د خلګو په منځ کښي اختلاف منځته رانسي ) ځکه الله ( جل جلاله) او مومنان له دې څخه منع کوي چي له أبوبکر څخه پرته دي بل څوک خلیفه سي .

اهل السنت والجماعت په دغه خبره هم دلیل نیسي پر دې باندي چي د اسلام له پیغمبر څخه وروسته أحق په خلافت سره حضرت أبوبکر ؤ .

دریمه خبره داده چي چي په دوران کښي د سختیۍ د مرض دده مبارک اصحاب کرام دده مبارک په حجره کښي سره راټول سول ، نو ده مبارک ورته وفرمایل چي ماته یو شئ راوړی چي زه وتاسي ته یو وصیت خپل ولیکم چي وروسته له ما څخه بیا هیڅکله تاسي ګمرهان نسیۍ.

د أصحابو په منځ کښي د نظر اختلاف پیدا سو ، ځینو وویل چي باید دده مبارک په قول باندي عمل وکړ سي او د وصیت د لیکني دپاره یوه ورقه ورته راوړله سي ، او ځینو وویل چي د إسلام پیغمبر په تکلیف دئ نو مناسب ندئ چي ورقه ورته راوړو او د وصیت په لیکلو سره تکلیف ورکوو ، حضرت عمر هم دا خبره تاید کړه او وې ویل چي د الله پاک کتاب قرآن مجید څموږ په منځ کښي موجود دئ او څموږ د هدایت دپاره کافي دي ، خو په دغو دواړو

Download from: ketabton.com

ډلو کښي يوې ډلي هم يو غلط سوچ او يو فاسد مقصد په زړه کښي نه درلودئ او دا ځموږ د أهل السنت والجماعت دعلماؤ مَسلَک دئ �على رغم أنوف الشيعة .

څلرمه خبره داده چي د إسلام پيغمبر( صلى الله عليه وسلم ) د مرض موت په وخت کښي اوه ديناره درلودل چي له حضرت عائشي سره پراته وه ، نو ده مبارک هغه اوه ديناره و حضرت علي ته وروليږل چي حضرت علي بيا دده مبارک له هدايت سره خيرات کړل پنځمه خبره داده چي ددې دپاره چي دده مبارک له رحلت څخه وروسته خلگ دده مبارک په شان کښي د يهودو او نصاراؤ په ډول إفراط او تر حد تيرئ ونکړي په مرض موت کښي بې د الفاظ هم تکرارول � لَعنَ الله اليهودَ والنصارى ، اتخذوا قبور أنبيآئهم مساجد . �

شپږمه خبره داده چي د إسلام د پيغمبر( صلى الله عليه وسلم ) له وفات څخه وروسته أهل بيتو د کور له يوه طرف څخه دا کلمې اوريدلې او په ظاهره هيڅوک دوی نه ليدئ : � السلام عليكم أهلَ البيت و رحمة الله وبركاته ، كل نفس ذائقة الموت و انما توفون أجور كم يومَ القيامة � دغه کلمې پرشتو او ملائکو ويلې چي د إسلام د پيغمبر د أهل بيت تعزية او فاتحه خواني يې کوله.

همدارنگه يو غبْ سړئ چي ډير سباحت يې درلودئ د أصحابو وحضور ته راغلئ او وې ژړل او بيا يې و أصحابو ته وکتل او وې ويل چي ښشکه الله پاک له هر مصيبت څخه تسله ورکونکئ دئ او د هر فائت عوض ورکوي او د هر هالک خلف پيدا کوي ، د الله تعالى و طرفته متوجه سې او جزع ، فزع او ملالت مکوی ، مصيبت زده په حقيقت کي هغه څوک دئ چي دده د مصيبت جبران ونکړ سي او په مصيبت کښي صبر ونکړي .

دغه سړئ د أصحابو له مجلس څخه ولاړئ بيا حضرت أبوبکر و أصحابو ته وفرمايل چي دغه سړئ حضرت خضر(عليه السلام ) ؤ ، ځموږ او ستاسي د تعزيت او د تسلي دپاره راغلئ .

اوومه خبره د إسلام د پيغمبر ( صلى الله عليه وسلم ) د وفات سره سم د أصحاب کرامو د غبرگون او د عکس العمل په باره کښي ده:

محترمو مسلمانانو ! علماَء کرامو د سيرَ ذکر کړيدي چي د آنحضرت ( صلى الله عليه وسلم ) له وفات څخه وروسته أصحاب کرام ټول په عمومي لحاظ داسي حيران وگرځيدل چي داسي بې له شانه څخه ښکاريدله لکه چي عقلونه يې سلب سويوي او د بدن ټولي قواوي او حواس يې له کار څخه معطل پاته سويوي ، خو لدې سره سره ددوی د ځنو حال له ځنو نورو څخه فرق او توفير درلودئ ، د ځينو کيفيت په دې ډول ؤ چي لکه گونگيان ، ژبي يې وتړلي سوې او خبري يې نسوائ کولائ او هوش او سد يې له سرو څخه ولاړئ ، چي يو له دغي جملې څخه د إسلام دريم خليفه حضرت عثمان بن عفان (رضي الله تعالى عنه ) ؤ .

Download from: ketabton.com

او د ځينو حال په دې ډول ؤ چي پر خپلو ځايو باندي له حرکت څخه عاجز وګرځېدل او طاقت د ګرځېدلو يې نه ؤ ، چي د إسلام څلرم خليفه حضرت علي بن أبي طالب ( کرم الله وجهه ) هم له دغي ډلي څخه ؤ .

او ځيني مريضان سول او بيا دونه ډنګر او کمزوري سول چي اخير په دغه کمزوري کښي په وفات ورسيدل .

او ځينو بيا په داسي دعاؤ شروع وکړه چي الله ( جل جلاله ) دي موږ په سترګو باندي ړانده کړي چي د اسلام د پيغمبر څخه وروسته بيا بل څوک په سترګو ونه وينو او دونه فرياد بې کوئ لکه څرنګه چي يې حاجيان د إحرام په تلبيه کښي کوي .

او د حضرت عمر ( رضي الله عنه ) عقل داسي مختل وګرځيدئ چي نعرې يې وهلې او قسمونه يې کول چي د خدائ تعالى رسول وفات سوئ ندئ ، بلکي بې هوښي باندي راغلې ده ، لکه چي په کوه طور کښي پر حضرت موسى ( عليه السلام ) باندي بې خودي راغله ، او دايې وويل چي زه اميدوار يم چي جناب رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) به تر هغه وخته پوري په دنيا کښي ژوندئ وي چي د ټولو منافقانو ژبې او لاسونه ورپرې کوي .

او ځنو منافقانو وويل چي که محمد ( صلى الله عليه وسلم ) پيغمبر وائ نو وفات بې نه کولائ ، حضرت عمر چي دغه خبر واورېدله نو خپل تيغ يې کش کړ او د مسجدنبوي په دروازه کښي ودريدئ او وې ويل چي هر چا که وويل چي پيغمبر د اسلام وفات سوئ دئ نو په دغه توره بې سره دوه ځايه کړم ، خلګو چي د حضرت عمر دغه وينا واوريدله د إسلام د پيغمبر په وفات کښي شک او شبهه ورته پيدا سوه.

حضرت أسمآء بنت عميس خپل لاس د إسلام د پيغمبر د اوږو مبارکو و مابين ته وروړئ او مهر د نبوت يې نکړ پيدا نعره يې وکړه چي مُهر د نبوت د اسلام د پيغمبر له مبارکو اوږو څخه پورته سوئ دئ ، نو دا ددې دليل دئ چي حضرت رسو ل الله ( صلى الله عليه وسلم ) له دې فاني دنيا څخه نقل کړئ دئ .

په دغه وخت کښي حضرت أبوبکر په کور کښي ؤ ، کله چي د أصحاب کرامو او د حضرت عمر له دغي واقعې څخه خبر سو نو په تلوار په داسي حال کښي د حضرت بي بي عآئشې و حجرې ته راروان سو چي په لاره کښي يې ژړل او داسي يې ويل :

وا محـــــــــــمداه ! وانقـــــطاع ظهراه

تر څو چي و مسجد نبوي ته راورسيدئ ، خلګ يې وليدل چي په سخته پرېشاني کښي واقع سويدي ، مګر ده مبارک و هيڅا ته التفات ونکړ د حضرت عآئشې و حجرې ته ورغلئ ، د إسلام د پيغمبر ( صلى الله عليه وسلم ) مبارک مخ يې لوڅ کړ او پرمبارک نوراني تندي باندي يې مچ کړ او خوله يې دده مبارک پر مبارکه خوله باندي ورکيښودله او داسي يې وويله : � وا نبياه . � !

وروسته يې سر راپورته کړ او وې ژړل ، دوهم وار يې بيا دَی مبارک مچ کړ او وې ويل :� وا صفياه. � !

Download from: ketabton.com

بیا یې سر راپورته کړ او وې ژړل ، دریم ځل یې بیا دَی مبارک مچ کړ او وې ویل :� وا خلیلاه ! بابي أنت و أمي طبت حیا ومیتا لا یجمع الله علیک موتتین أما الموتة التي کتبت علیک فقد وجدتها . �

او داسې یې وفرمایل چې اې د إسلام پیغمبره ته تر دې ډیر لوړ یې چې خلګ دې صفت وکړي او له دې څخه ډیر بالاتر یې چې پر تا باندې خلګ وژاړي ، کچیرې اختیار څموږ په لاس کښې وائ نو ما به خپل ځان تر تا قربان کړئ وائ او کچیرې دا نه وائ چې پر مرده باندې له ژړا کولو څخه تا و موږ ته منع کړېده نو خامخا به ما دونه ژړلي وائ چې له سترګو څخه به مې چنې بهیدلې وائ ، بیا یې وویل چې اې الله ! ته ځما له طرفه ستا و پیغمبر ته سلام ورسوه او بیا یې وویل چې اې محمده ! ما د الله (جل جلاله) په حضور کښې یاد کړه.

پوه سه چې د حضرت أبوبکر ددغه قول په مطلب کښې علماؤ اختلاف کړئ دئ چې :� لا یجمع الله علیک موتتین � .

ځینو علماؤ فرمایلي دي چې د اسلام د پیغمبر ( صلی الله علیه وسلم ) له وفات څخه وروسته ځنو خلګو داسې ګمان ښکاره کړ چې د اسلام پیغمبر بیرته راژوندئ کیږي ددې لپاره چې منافقان له منځه څخه یوسي ، نو حضرت أبوبکر په دغه قول سره ددغه ګمان تردید وکړ .

او ځینو علماؤ فرمایلي دي چې مطلب دده دا ؤ چې په قبر کښې ستا دپاره مرګ نسته ، لکه نور خلګ چې په قبر کښې د نکیر او منکر د سوال او جواب دپاره په قبر کښ را ژوندي کیږي او بیا بیرته مړه کیږي .

او ځنو علماؤ فرمایلي دي چې له دوهم مرګ څخه مراد غم او پرېشاني ده ، یعني له دغه پرېشانۍ څخه پرته چې د وفات په وخت کښې دي تېره کړه له بلې هیڅ پرېشانۍ سره به مخامخ نسې .

وروسته حضرت أبوبکر دباندې راووتئ او حضرت عمر یې ولیدئ چې د خلګو په منځ کښې ولاړ دئ او وخلګو ته وایې چې حضرت محمد ( صلی الله علیه وسلم ) وفات ندئ کړئ او نه دَی وفات کوي ، تر څو پورې چې منافقان په قتل ونه رسوي .

حضرت أبوبکر و حضرت عمر ته وفرمایل چې کښېنه ! خو حضرت عمر له کښېنستلو څخه منع وکړه ، نو حضرت صدیق أکبر و حضرت عمر ته وویل چې اې سړیه ! په دې پوه سه ! چې پیغمبر د اسلام له دنیا څخه رحلت کړئ دئ ، ایا تا ندي اوریدلي چې الله (جل جلاله) په قرآنکریم کښې و خپل پیغمبر ته فرمایلي دي چې : � إنک میت و إنهم میتون � او همدارنګه یې ورته فرمایلي دي : � و ما جعلنا لبشر من قبلک الخلد أفإن مت فهم الخالدون � .

وروسته حضرت أبوبکر د نبي کریم ( صلی الله علیه وسلم ) پر ممبر باندې ودریدئ او خلګو عمر پرېښودئ او أبوبکر ته متوجه سول ، حضرت أبوبکر خطبه او نصیحت شروع کړ ، اول یې د الله پاک حمد او ثنا وویله او بیا یې

Download from: ketabton.com

پر رسول مقبول ( صلی الله علیه وسلم ) باندي درود ووایه ، بیا یې و خلګو ته وفرمایل چې هر چا که د محمد ( صلی الله علیه وسلم ) عبادت کاوه نو محمد خو وفات سو او هر چا څوک چې د الله (جل جلاله) عبادت کوي نو بېشکه الله پاک همیشه ژوندئ دئ او مرګ نلري ، بیا یې دغه مبارک آیت کریمه تلاوت کړ :

وما محـــــمد إلا رسول قد خلت من قبله الرسل أفإن مات او قتل انقلبتم علی أعقابکم (الی اخیر الآیة ... ).

او دارنګه یې ددغه مبارک آیت تلاوت هم وکړ چې : ( و إنک میت و إنهم میتون ) .

خلګو چې د حضرت أبوبکر له خولې څخه دغه دواړه مبارک ایاتونه واوریدل ، نو داسي ورته ښکاره سول لکه چې نوي او تازه د خدائ له طرفه نازل سول او هر سړي د مدینې منورې په کوڅو کښې دغه دوه مبارک ایاتونه ویل .

وروسته له هغه حضرت عمر نصیحت شروع کړ او و خلګو ته یې وویل چې اې خلګو ! ماچې تر دغه له مخه کوم څه درته ویل نو هغه ټول بې ځایه وو ( یعني بې دلیله مي یو سوچ وهلئ ؤ د هغه سوچ په مقتضی مي هغه خبرې درته کولې ) او نورې یې هم ډیرې خبرې و خلګوته وکړې او دا به هم ده مبارک ویل چې کوم دوه ایاتونه چې له أبوبکر څخه ما واوریدل نو داسي راته معلوم سول لکه دا اوس اوس چې نازل سول .

خلاصه د خبرې داده چې په دغو ټولو غمو او پریشانیو کښې تر ټولو أصحابو حضرت أبوبکرالصدیق ډیر ثابت قدمه او د عقل پر مقتضی باندي ټینګ او زیات شجاع او دلاوره ؤ .

هو ! ولي به نه ؤ ، أبوبکر هغه شخص دئ چې د اسلام پیغمبر دده په باره کښې فرمایلي دي :

ما طلعت الشمس بعد النبیین علی أفضل من أبي بکر

محترمو وروڼو د إسلام د پیغمبر د میلاد د لمانځني شرعي حکم به په بله برخه کښې درته راسي ، چې هغه به ددې لړۍ اخیري برخه وي .

)مدارج النبوت ، روضة الشهدآء و غیره. (

Download from: ketabton.com

بسمه تعالی!!!

اللهم صل و سلم وبارک أفضل صلاتک و سلامک و برکاتک علی سیدنا محمد و آله و صحبه أ جمعین .

قدرمنو مسلمانانو! په دې برخه کښې په دې باب شرعي معلومات درکوم چې د إسلام د پیغمبر د میلاد د ورځې لمانځنه په دې ډول چې له منکراتو شرعیه ۀ څخه خالي وي او په دغه ورځ د میلاد کښې مسلمانان سره راجمع سي او علماء کرام د إسلام د پیغمبر د میلاد او دوفات او دده مبارک د سیرت په باب و خلګو ته بیانونه وکړي او د مسلمانانو په زړو او دماغو کښې د إسلام د پیغمبر یاد تازه کړي او د بخاري شریفي ددې روایت په مطابق چې :� اجلس بنا نؤمن ساعة � د خپل ګران پیغمبر د میني او د محبت اظهار وکړي ، او یا په دغه ورځ کښې صدقې او خیراتونه وکړي ، او یا نور نفلي عبادات وکړي او یا درودونه ووایي او ثوابونه یې د إسلام و پیغمبر ته وروبخښي .

محترمو وروڼو ! په دې مسئله کښې خلګ درې فرقې دي :

یوې فرقې دتفریط لار غوره کړېده ، چې دغه ډول لمانځنه بدعت او ناروا کار بولي ( العیاذ بالله ، العیاذ بالله ) لکه وهابیان .

او یوې فرقې بیا د إفراط لار غوره کړېده چې په دې باب له شرعي حدودو څخه تیرئ کوي او د میلاد لمانځنه په دې ډول کوي چې متضمن ډیرو ناروا کارو لره وي ، لکه إختلاط او ګډون د ښځو او نرانو او لکه ډولونه وغیره ، چې ځیني خالي په نامه پیران یا خلیفه ګان یې کوي .

دغه دواړې فرقې چې دغه ډول کارونه کوي دا د دوی د جهل یا د ضلالت نښانه ده ، لکه چې مشهور قول دئ چې : � الجاهل إما مفرط او مفـَرّط � یعني جاهل به یا إفراط کوي یا به تفریط .

دریمه معتدله ډله ده ، د حق والا ډله ده ، چې د مبتدعینو او د وهابیانو په شان تفریط هم نکوي او دارنګه ددغو خالي په نامه پیرانو په شان إفراط هم نکوي ، په دې ډول چې د إسلام د پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) د میلاد لمانځنه په مذکوره طریقه یو ډیر أفضل او أهم کار بولي او مرتب علیه د لوی أجر او ثواب یې بولي او په ذکر سوې طریقه نه لمانځنه د میلاد د ورځې له رحمة اللعامین پیغمبر سره یو قسم جفا او بې وفایي بولي او د أمتیت له شانه سره یې مخالف سلوک بولي او د خپل ګران پیغمبر د میلاد لمانځل دده مبارک د سیرت ، ولادت او د رحلت په بیانولو سره او دارنګه په صدقو او خیراتو او په نورو عبادتو سره د مسلمانانو د ترقۍ او د کفارو د غم او د درد د زیاتولو سبب یې ګڼي .

محترمو وروڼو ! د أصلي او سوچه او حقو شرعي دلائلو له مخي د همدغي دریمي ډلي رویه اسلامي او شرعي رویه ده او مخکښۍ دواړې ډلي چې په دې باب څه وایي او یا یې کوي باطلي او ناروا دي او الله ( جل جلاله ) دي موږ او تاسي د لعنت په داسي طوق نه ګرفتاره کوي لکه څرنګه چې یې دغه دواړې ډلي مبتلا کړیدي .

Download from: ketabton.com

ددې مطلب د ثابتولو دپاره په دې برخه کښې د عالم إسلام د منل سویو علماؤ او د عمده کتابو قولونه او عبارتونه وتاسي محترمو ته په دې برخه کښې نمبر واره ذکر کوم ، تر څو چې و تاسي محترمو ته حق پوره واضح سي .

در خانــــه أگر کس است یک حرف بـــس است

د عوامو دپاره ځما دغه یو څو د پښتو خبرې کفایت کوي او باید همدغه لار تعقیب کړي ، او د علماؤ دپاره دلائل ذکر کوم چې دوی له هغو څخه کار واخلي ، البته موږ به ډېر تکلیف کړئ وي چې له مختلفو منابعو څخه موږ دا دلائل راجمع کړیدي الله تعالی دي راڅخه قبول کړي ، خو د علماؤ په خدمت کښې موږ دغه دلائل له کتابو څخه راټول سوي تقدیموو چې په دې سبب به دوی د تفتیش او پلټنې له مشقت او تکلیف څخه خلاص سي .

اوس په دې اړه ودلائلو ته متوجه سئ!

)۱ : ( امام أبوشامه چې شیخ او استاذ دئ د امام نووي داسي فرمایلي دي:

و من أحسن ما ابتدع في زماننا مایفعل کل عام في الیوم الموافق لیوم مولده (صلی الله علیه وسلم) من الصدقات والمعروف واظهار الزینة والسرور . فإن ذالک مع ما فیه من الإحسان للفقرآء مشعر بمحبة النبي (صلی الله علیه وسلم) و تعظیمه في قلب فاعل ذلک و شکرالله تعالی علی ما مَن به مِنَّ به ایجاد رسوله (صلی الله علیه وسلم) الذي ارسله رحمة للعالمین .

یعني چې ځمو په زمانه کښې له یرو أفضلو او بهترینو کارو څخه چې مسلمانانو په عمل کښې راوستلئ دئ یو کار دادئ چې د اسلام د پیغمبر د میلاد په ورځ یې هر کال مسلمانان کوي ، چې هغه عبارت دئ له صدقو ، خیراتو او داسي نورو نیکو کارو څخه او دارنگه اظهار د زینت او د خوشحالۍ چې مسلمانان یې په دغه ورځ کښې کوي داهم له ډېرو نیکو کارو څخه دئ ؛ ځکه دا کارونه سره له دې چې په دغو کارو کښې له فقیرانو سره امداد او کومک او احسان موجود دئ دغه کارونه د مسلمانانو مینه او محبت له خپل پیغمبر سره او د ارنگه د دوی تعظیم خپل پیغمبر لره ښکاره کوي ، او دارنگه په دغو کارو کښې چې مسلمانان یې د میلاد په ورځ یا په شپه کوي د الله (جل جلاله ) ددغه عظیم نعمت چې پر جهانیانو باندي یې کړئ دئ چې ایجاد او پیدایښت د رحمة اللعالمین رسول دئ د شکر اداینه راځي .

)۲ : ( امام سخاوي چې یو له هغو شخصیتو څخه دئ چې په عالم اسلام کښې ددوی پر قول او خبره باندي تمام أمت مسلمه اعتماد کوي د اسلام د پیغمبر د میلاد د لمانځنې په ارتباط فرمایلي دي :

ان عمل المولد حدث بعدالقرون الثلاثة ثم لا زال أهل الإسلام في سآئرالأقطار والمدن الکبار یعملون المولد و یتصدقون في لیالیه بأنواع الصدقات و یعتنون بقرائة مولده الکریم و یظهر علیهم من برکاته کل فضل عمیم .

Download from: ketabton.com

يعني چي ښېشکه دغه عمل ( يعني دغه د مسلمانانو راغونډيدل او بيا د علمآؤ له طرفه و مسلمانانو ته د إسلام د پيغمبر د ولادت او د سيرت په باب بيانونه کيدل او دارنګه خيراتونه او نور عبادات ترسره کيدل چي د إسلام د پيغمبر د ميلاد په مناسبت کيږي دا کارونه ) د صحابه ؤ او د تابعينو او د تبع تابعينو له زماني څخه وروسته مسلمانانو عملي ګرځولي دي او بيا په داسي ډول عملي ګرځيدلي دي چي په دوامداره توګه يې ټول أهل إسلام په ټولو أقطارو او أطرافو د مځکي کښي او په ټولو غټو غټو ښارو کښي د مسلمانانو د اسلام د پيغمبر د تولد په مناسبت د ميلاد په شپو کښي تر سره کوي او له ورايه ددغو مبارکو أعمالو له برکاتو څخه قسم قسم عام فضل او کرم د الله تعالى پر مسلمانانو باندي ښکاره کيږي

)٣ : ( او ابن جوزي چي د بې مذهبه مبتدعه ؤ او د أهل مذهب والاؤ د ټولو په نزد معتمد عليه علمي شخصيت دئ په سلسله کښي د بيانولو د ګټو ، فايدو او د برکاتو د لمانځني د ميلاد د سرور کآئنات ويلي دي چي :

من خواصه إنه أمان في ذلک العام و بشرى عاجلة بنيل البغية والمرام .

يعني چي ځني له خاصو او برکتو څخه د لمانځني د ميلاد د سرور کآئنات ( يعني په شرعي طريقه چي له شرعي منکراتو څخه خالي وي ) يو برکت او خصوصيت دادئ چي هر څوک چي د ميلاد ورځ ولمانځي ( يعني يا په صدقه ، يا په عبادت ، يا په درود ويلو سره او يا په بيانولو سره د سيرت د نبي [عليه الصلاة والسلام ] او په غوږ نيولو سره و بيان د سيرت دده مبارک ته ) نو په دغه کال کښي به دغه سړئ له هره آفته په أمن وي او دارنګه به و دغه سړي ته اول دده د حاجاتو د پوره کيدو زيرئ له الهي لوري کيږي ( يعني په خوب کښي يا له يوې بلي لاري ) او وروسته بې ( يعني په همدغه کال کښي ) الله پاک حاجتونه ورپوره کوي .

و اول من أحدثه من الملوک ، الملک المظفر أبو سعيد صاحب إربل و ألف له الحافظ بن دحية تاليفًا أسماه � التنوير في مولد بشير النذير � فأجازه الملک المظفر بألف دينار . و صنع الملک المظفر المولد و کان يعمله في ربيع الأول و يحتفل به إحتفالا هائلا و کان شهما شجاعا بطلا عاقلا عادلا و قيل انه کان يصرف على المولد ثلاثمائة الف دينار.

يعني د إسلام د پيغمبر ( صلى الله عليه وسلم ) د ميلاد د لمانځني د مبارک رسم اول إحداث او پيل په إسلامي بادشاهانو کښي � ملک مظفر أبو سعيد � صاحب اربل وکړ ، بيا ددغه مبارک بادشاه ددغي مبارکي او مقدسي اختراع په تايد او خوشحالي کښي د إسلامي أمت يو ستر عالم حافظ بن دحية يو کتاب په شان کښي د عظمت او د شرافت د لمانځني د ميلاد د نبي جوړ کړ چي په � التنوير في مولد بشير النذير � سره يې مسمى کړ ، بيا دده د دغه کتاب په جائزه او انعام کښي ذکر سوي محترم بادشاه زر ديناره ودغه عالم ته ورکړل .

Download from: ketabton.com

د لاندي عربي عبارت ترجمه او بيان موږ ځكه ونه ليكئ چي دا عبارات په أصل كي موږ د علماؤ دپاره رانقل كوو او وعلماؤ ته يې د ترجمې كولو ضرورت نسته ، البته كوم ځايونه چي ترجمه كوو نو هغه د عامو مسلمانانو دپاره .

و كان سلطان أبو حمو موسى صاحب تلمسان يحتفل لیلة المولد غاية الإحتفال كما كان ملوک المغرب و الأندلس في ذلک العصر و ما قبله و من احتفاله له ما حكاه الحافظ سيدي أبوعبدالله التنسي ثم التلمساني في كتابه � راح الأرواح � فيما قاله المولى أبو حمو من الشعر و قيل فيه من الإمداح و ما يوافق ذلک على حسب الإقتراح و نصه أنه كان يقيم ليلة الميلاد النبوي على صاحبه أفضل الصلاة والسلام بمشورة من تلمسان المحروسة مدعاة حفيلة يحشر فيها الناس خاصة و عامة فما شئت من نمارق مصفوفة و زرابي مبثوثة و بسط موشاة و وسائد بالذهب مغشاة و شمع كالإسطوانات و موائد كالهالات و مباخر منصوبة كالقباب يخالها المبصر تبراً مذابًا و يفاض على الجميع أنواع الأطعمة كأنها أزهار الربيع المنمنمة فتشتهيها الأنفس و تستلذ بها النواظر و يخالط حسن رياهاالأرواح و يخامر رتب الناس فيها على مراتبهم ترتيب احتفال و قد علت الجميع أبهة الوقار و الاجلال و بعقب ذلک يحتفل المستمعون بإمداح المصطفى (صلى الله عليه وسلم) و مكفرات ترغب في الأقلاع عن الآثام يخرجون فيها من فن الى فن و من أسلوب الى أسلوب و يأتون من ذلک بما تطرب له النفوس و ترتاح الى سماعه القلوب و بالقرب من السلطان رضوان الله تعالى عليه خزانة المنجانة قد زخرفت كأنها حلة يمانيه لها أبواب موجفة على عدد ساعات الليل الزمانية فمهما مضت ساعة وقع النقر بقدر حسابها و فتح عند ذلک باب من أبوابها و برزت منه جارية صورت في أحسن صورة ، في يدها اليمنى رقعة مشتملة على نظم فيه تلک الساعة باسمها مسطورة فتصفها بين يدي السلطان بلطافة ويسراها على فمها كالمؤدية بالمبايعة حق الخلافة . هكذا حالهم الى انبلاج عمود الصباح و نداء المنادى حي على الفلاح . انتهى .

و في زماننا هذا يحتفل المسلمون بيوم مولده (صلى الله عليه وسلم) في جميع الأمم الاسلامية.وفى القطرالمصرى تتلى الاذكاروتوزع الصدقات على الفقراء والمحتاجين. وفى القهرة يتحرک موكب أرباب الطرق بعد الظهرمن ميدان باب الخلق أمام المحافظة ويسيرقاصدا ميدان الاحتفال بالعباسية مجتازا شوارع تحت البع فالسكرية فالغورية فميدان الاشراقية فالفحامين فالحسينية فالعباسية ويشتدالزحام فى هذه الشوارع وتتقدم الموكب كوكبة من فرسان رجال الشرطة وتحف به من الجانبين قوة من رجال الجيش وقدجرت عادة الحكومة أن تحتفل بهذا اليوم المبارک احتفالا رسميا فى العباسية حيث تقام سرادقات للوزارات ويتوجه جلالة الملک أونائبه الى مكان الاحتفال و هناک يعرض الحامية المصرية على أثروصوله ثم ينقتل الى السرادق الملكى ويستقبل الطرق الصوفية بأعلامهم وبعدئذ يقصد سرادق شيخ مشايخ الطرق الصوفية فيستمع تلاوة القصة النبوية وبعد سماعها يخلع على تاليها الخلعة الملكية وتدار المرطبات والحلوى على الحاضرين ثم ينصرف بعد ذلک بموكبه الحافل أثناء قصف المدافع وفى المساء تنارالزينات المقامة على السرادقات وتطلق الألعاب النارية البديعة وفى الصباح تعطل الحكومة وزارتهاومصالحها وتتلى القصة النبوية الشريفة فى المشهد الحسينى بحضور محافظ مصر.

Download from: ketabton.com

أنظر � محمد رسول الله � ص ١٤ـ١٥ـ١٦ تاليف : علامه محمد رضا.

Download from: ketabton.com

بسمه تعالی!!

اللهم صل و سلم وبارک أفضل صلاتک و سلامک و برکاتک علی سیدنا محمد و آله و صحبه أ جمعین .

محترموورونړو!په دي برخه کښي یوه بله برخه د لمانځني دمیلادالنبي دمشروعیت اواافضلیت په باره کښي ځیني نور شرعي دلیلونه درته ذکرکوم.

)۱(علامه کاشفي صاحب د تفسیر حسیني د � روضة الشهدآء � په ص ۱۰۴ کښي ذکر کړیدي چي په أکابرو د صحابه کرامو کښي له یوه صحابي څخه روایت دئ چي هغه سترګي چي پر جناب رسول أکرم ( صلی الله علیه وسلم ) باندي وژاړي ( یعني دده مبارک د وفات او رحلت په وجه ) نو هغه سترګي به د دوږخ اور نه وویني ( یعني د دوږخ اوربه پر حرام سي ) .

علامه کاشفي ( رحمه الله ) ذکر کړیدي چي دغه حکم تر أهل د زمانې د رسول علیه الصلاة والسلام پوري اختصاص نه درلودئ بلکي د قیامت تر ورځي پوري وټول أمت د إجابت ته دغه حکم ورشامل دئ ، هر څوک چي په هر وخت کښي د إسلام د پیغمبر له وفات څخه متاثر او متحیر سي او له درد څخه د فراق دده وژاړي په دغه حکم کښي داخل دئ ؛ ځکه فوت د آنحضرت ( صلی الله علیه وسلم ) د ټول أمت دپاره مصیبت ؤ او ټولو لره په همدغه مصیبت کي ژړا کول لازم دئ او غم او پریشاني کول و ټول أمت ته یو متحتم حکم دئ ، بلکي پیرانان او ملائکه ، مځکه او اسمان ، ثوابت او سیاره ستوري ، غرونه او ډبري ، واښه او درختي ، وحشي حیوانان او خزندې ، درنګان او د هوا مرغان او د دریاب ماهیان په تعزیت او غم کښي دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم مشارک او مساهم دي او ژړیدونکي ، محزون او متالم دي .

غزل:

اې زهجرانت زمین و آسمان بګریسته

سینه و دل خون شده روح وروان بګریسته

کن فکان چون قا لب اندتو چو جاني لاجرم

در عزائ تو تمام کن فکان بګریسته

ني همي ما خاکیان بهري تو ماتم داشتیم

Download from: ketabton.com

بلکي رضوان نيز در باغ جنان بگريسته

خون گري ايديده بهر سيد کز ماتمش

جبرئيل اندر فلک با قدسيان بگريسته

آدم و نوح و خليل و موسی و عيسی بهم

در عزاځ سيد آخر زمان بگريسته

أهل بيت آن دم که گريان گشته از بهر رسول

سنگ خارا بردل پر درد شان بگريسته

)۲ : ( امام سيوطي ( رحمه الله ) د خپل کتاب � الحاوي للفتاوی � په ج۱ ص ۱۸۱ کښي د إسلام د پيغمبر د مولد د لمانځني په باب داسي فرمايلي دي:

إن أصل عمل المولد الذي هو اجتماع الناس وقرآءة من القرآن ورواية الأخبار الواردة في مبدأ أمرالنبي ( صلى الله عليه وسلم ) و ما وقع في مولده من الآيات ثم يمدلهم سماط يأكلونه و ينصرفون من غير زيادة على ذلک هو من البدع الحسنة التي يثاب عليها صاحبها لما فيه من تعظيم قدر النبي ( صلى الله عليه وسلم ) و إظهار الفرح و الإستبشار بمولده الشريف .

يعني چي ځما په نزد أهل د عمل د مولد چي راټوليدل د خلګو دي او قرآئت د قرآنکريم دئ او بيانول د هغو روايتو دي چي په ابتدا کښي د شان د نبي ( صلی الله عليه وسلم ) راغلي دي او بيانول د هغه څه دي چي هغه پيښ سويدي ( يعني د تولد په وجه له خارق العادته شيانو څخه ) بيا و خلګو ته د تصدق او د خيرات سترخوان غوړولي دي چي خلګ خورک ورڅخه وکړي او وروسته بيا و خپلو ځايو ته ولاړ سي ، بېله دې چي يو نامشروع کار په دغه مجمع کي وکړ سي ، نو دا ډول عمل او لمانځنه د مولد له جملې څخه د هغو حسنه بدعتو دئ چي و عمل کونکي ته يې ثواب ورکړکيږي ؛ ځکه په دغه کار کښي اظهار د عظمت د قدر نبي ( صلی الله عليه وسلم ) را ځي او اظهار د خوشحالۍ او د استبشار په مولد شريف دده مبارک سره راځي .

Download from: ketabton.com

فاکهاني کوم چي له مالکي علماؤ څخه دئ او د إسلام د پیغمبر د میلاد د لمانځني پر خلاف یې یوه لیکنه کړېده علامه سیوطي وروسته له ذکر سوي بیان څخه په خپل کتاب کښې د فاکهاني لیکنه رانقل کړېده او جمله پر جمله یې رد کړېده او جواب یې ورکړئ دئ ، که څوک ددغه ایراد او رد خواهش لري نو و حاوي ته دې مراجعه وکړي .

)۳همدارنگه امام أبو عبدالله إبن الحاج په � مدخل � کښې د إسلام د پیغمبر د مولد د لمانځنې په هغه ډول چي موږ یې ذکر وکړمدحه کړېده ، البته که د لمانځني په اجتماع کښې کوم منکر کارونه وي نو هغه یې رد کړیدي .

)۴(د إسلام پیغمبر( صلی الله علیه وسلم ) په خپله د خپل ولادت لمانځنه کړېده ؛ خکه یو وخت یوه سأئل له ده مبارک څخه پوښتنه وکړه چي د دوشنبې په ورځ روژه نیول څنگه دي ؟ یا دا مطلب چي یا رسول الله د دوشنبي په ورځ ته روژه ولي نیسي ؟

نو ده مبارک په جواب کښي ورته وفرمایل : � ذاک یوم ولدت فیه � یعني د دوشنبې ورځ داسي ورځ ده چي په دغه ورځ کښي زه زیږیدلئ یم ( رواه مسلم رقم الحدیث ۲۷۴۷ ).

نو تشریف ددغي ورځي کوم چي له ذکر سوي حدیث څخه فهمیږي متضمن دئ تشریف د هغي میاشتي لره چي دَی مبارک په کښي زیږیدلئ دئ چي د ربیع الأول میاشت ده.

)۵(همدارنگه که د صحیحینو و یوه مبارک حدیث ته په غور وکتل سي او له تعصب او إنحراف څخه إعراض وکړ سي نو دا خبره په ډاگه ورڅخه معلومیږي چي په عبادتي أمورو سره د میلاد لمانځنه په حدیث سره ثابت عمل دئ او ودې ته ضرورت نسته چي بدعت حسنه ورته وویل سي ، د هغه مبارک حدیث مضمون دادئ چي کله چي نبي ( صلی الله علیه وسلم ) و مدینې منورې ته راغلئ نو یهود یې ولیدل چي د عاشورآء په ورځ بې روژې نیولې ، نو د إسلام پیغمبر له دوی څخه پوښتنه وکړه چي تاسي په څه سبب په دغه ورځ روژه نیسی ؟ دوی ورته وویل چي په دغه ورځ کښي الله پاک فرعون غرق کړئ دئ او موسی ته یې نجات وربخښلئ دئ نو موږ د الله تعالی ددغه نعمت د شکر ادا کولو په خاطر روژه نیسو !

Download from: ketabton.com

په ځنو روايتو کښې داسي راځي چي � و نحن أولى بموسى منكم � يعني د إسلام پيغمبر و يهودو ته وفرمايل چي په موسى خو موږ تر تاسي ډير حقدار يو ( يعني موږ خو بايد بيخي په دغه ورځي کښې روژه ونيسو ) .

)٦(و في الكاملية في ص٢٦٣ :

سئلت عن قرآئة مو لده الشريف ( صلى الله عليه وسلم ) و إجتماع الناس لذلک فرحًا بقدومه و استبشارا بمجيئه ما حكمها ؟

فالجواب أن قرآئة المولد على الوجه المشروع ممدوحة شرعًا لاشتمالها على تعظيمه و إظهار علامات نبوته .

)٧(و في المهند على المفند المشهور بعقائد ديوبند ص ٦۴:

السؤال الواحد والعشرون ما تقولون أن ذكر ولادته ( صلى الله عليه وسلم ) مستقبح شرعًا من البدعات السيئة أم غير ذلک ؟

الجواب ؟ حاشا أن يقول أحد المسلمين فضلا أن نقول نحن أن ذكر ولادته الشريفة ( صلى الله عليه وسلم ) بل ذكر غبار نعاله وبول حماره ( صلى الله عليه وسلم ) مستقبح من البدعات السيئة المحرمة فالأحوال التي لها أدنى تعلق برسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) ذكرها من أحب المندوبات و أعلى المستحبات عندنا سوآء كان ذكر ولادته الشريفة او ذكر بوله و برازه و قيامه و قعوده و نومه و نبهته كما هو مصرح في رسالتنا المسماة بالبراهين القاطعة في مواضع شتى .

)٨(سئل مولانا أحمد علي المحدث السهارنپوري تلميذ الشاه محمد إسحق الدهلوي ثم المهاجر المكي عن مجلس ميلاد بأي طريق يجوز و بأي طريق لايجوز ؟

فأجاب بأن ذكر الولادة الشريفة لسيدنا رسول الله ( صلى الله عليه وسلم ) بروايات صحيحة في أوقات خالية عن وظآئف العبادات الواجبات و بكيفيات لم تكن مخالفة عن طريقة الصحابة و أهل القرون الثلاثة المشهود لها بالخير و بالإعتقادات التي لم تكن موهمة بالشرک والبدعة و بالآداب التي لم تكن مخالفة عن سيرة الصحابة التي هي مصداق قوله عليه الصلوة و السلام

Download from: ketabton.com

Download from: ketabton.com

وفي مجموعة فتاوى ج ٣ ص ١٢٨.

السوال : هل يجوز تخصيص ذكرى المولد الشريف بشهرربيع الاول اوغيره ام لا ؟

الجواب : ان ولادة خيرالبشر عليه صلواة الله الاكبر موجب لألاف سرور وفرحة وهذه السرور والفرحة ليس له اختصاص بزمان ومكان بل استقر في عرق كل مؤمن وعصبه(وشحمه ولحمه ) وان ثويبة جارية ابي لهب لما بشّرته با لولادة السعيدة للنبي صلى الله عليه وسلم فرح واعتقها.

ثم روي في المنام بعد موته ( صاحب هذه الرويا ء هوالعباس بن عبد المطلب رضي الله عنه ) فقيل له كيف حالك ؟ فقال: من يوم الموت اعذب بالنار. الاانه يخفف عني كل ليلة الاثنين.وذالک ببرکة السرور بولادة محمد مصطفى صلى الله عليه و سلم فاذاكان ابولهب الشقي يخفف عنه العذاب لفرحه بالميلاد. فالمسلم الموحد من امته صلى الله عليه وسلم الذي يسربمولده صلى الله عليه وسلم . ويبذل ماله في محبته

\صلى الله عليه وسلم حسب استطاعته كيف لايبلغ الى الدرجة العليا. كذاقال المحدث ابوالفرج ابن الجوزي والشيخ عبدالحق الدهلوي وغيرهما فالولادة السعيدة والمعجزات والغزوات والاحوال الاخرى المتبرکة لسيد العالمين صلى الله عليه وسلم لوبينت في مجلس الوعظ اوالتعليم وشرحت مفصلاً بدون دعوة الناس . وبغيرصورة الاحتفال تكون موجبة للالوف من البركات. وقد كانت ا لصحابة رضي الله عنهم اجمعين يجعلون محافلهم متبركة ومهابط الانوار الالهية القدسية بذكر هذه الامور وبيانها وروي (اصحابي كالنجوم فبايهم اقتديتم اهتديتم.

مشكوة المصابيح .واما اجتماع الناس وانعقاد المحفل بشرط ان يكون خالياً عن المنكرات وكذا دعوة الناس الى محفل ذكر المولد ومجلس ا لسيرة النبوية. واعلان انه ينعقد في يوم كذا وموضع كذا وكذاليشتركوا في الحسنات. فالحقيقة ان ذكري المولد بهذه الصورة لم يكن في عهد صاحب الرسالة صلى الله عيه وسلم . ولافي عهد الصحابة والتابعين ومن تبعهم رضي الله عنهم . وباقي عصر المجتهدين رحمة الله تعالى عليهم . ومابلغتنا فيه رواية منهم ولعدم ثبوته بهذه الصورة في عهد النبوي المبارک يمكن ان يقال له( بدعة ) وقال الامام النووي رحمه الله تعالى عليه ان البدعة في الشرع احداث مالم يكن في عهد رسول الله صلى الله عليه وعلى اله واصحابه وسلم. كذاقال الملا علي القاري رحمه الله تعالى عليه في شرح المشكوة لكنه لما كان هذا امراً حسناً ولم يكن موجباً للمعصية والاثم . وقدثبت في الشرع اجتماع الناس للفرحة والسرور ، وكذا ثبت ان سيدنا بلال رضي الله تعالى عنه احياناً كان يطلع الناس بامر المصطفى صلى الله عليه وسلم في الطريق والسوق على موعظة الرسول الله صلى الله عليه وسلم اجازه علماء الشريعة وسموه بدعة مندوبة فيثاب فاعله.

Download from: ketabton.com

پوسه چي ددغه عبارت دترجمي له مخه د مولددلفظ وضاحت ضروردئ په دي ډول چي دمولد لفظ په اصل کښي ياصيغه دظرف زمان ده ياصيغه دظرف مکان ده معنى يې ځاى دزيږيدلو ياوخت دزيږيدلو دئ اوپه اصطلاح کښي دامت مولِد واجتماع ته دخلګواوقرائت ته دقران کريم اووبيانولوته دهغو روايتوچي واردوي په ولادت کښي ديوه نبي له انبياوو اوياديوه ولي له اولياوو اوومدح اووصفت کولو ته ددوی په نيکواقوالواوافعالوسره ددوی ويل کيږي (اعانة الطالبين جـ٣ـد ص ٣٦١)

اوس نو دمذکوره عبارت وترجمي ته ځيرسئ.

دسوال پخوږ اوخلاصه داده چي داسلام دپيغمبردسيرة بيانولو اوودده مبارک دمدح اوصفت په خاطر راغونډيدل خاص په هغه مياشت کښي چي دده مبارک زوکړه په کښي سويده چي هغه دربيع الاول ياغيره مياشت ده جائزده اوکه نه ده يعني سره له دي چي نفس داسلام دپيغمبر دسيرت بيانول اوودده مبارک مدحه اوثناکول خوپه شريعت کښي ډيرمهم کار دئ خوپه دغه خاص شکل کښي دغه کارکول چي مثلاً ودغه کارته دربيع الاول تر مياشتي تخصيص ورکړل سي اوپه قاعده سره خلګ ومحفل دمولِد شريف ته رادعوت کړل سي اوپه دي معتاد ډول وخلګوته اعلانونه وکړل سي دشريعت له نظره ځنګه کاردئ؟ دجواب خلاصه داده چي که چيري په دغه اجتماع کښي غيرشرعي کارونه وجود ونلري نوعلماوودشريعت دغه کار جائزګڼلئ اوبدعت مندوبة يې بللئ دئ اوددغه کارکونکي يې مستحقين دثواب بللي دي، همدارنګه په ذکرسوئ فتاوی کښي راغلي دي چي ډيروله غټانودرجالودطريقت کوم چي عمل دمولد يې ترسره کړيدئ په خوب کښي په داسي حال کښي داسلام پيغمبرليدلئ دئ چي په عمل دمولدخپل به راضي اوخوشحاله وو اوشيخ عبدالحق محدث دهلوي فرمايې چي ځني له هغوخواصودعمل اودلمانځني دمولد داسلام دپيغمبر کوم چي په وارو وارو په تجربه رسيدلئ دئ دادئ چي په دغه ټول کال کښي دغه ځوک چي لمانځنه دميلادېې کړي وي له امن اوامان سره مخامخ سويدئ اوپه يوه طريقه له طريقوسره دکاميابئ زيري ورکړسويدئ

وايضاً في مجموعة الفتاوى ج ١ ص ٣٩للعلامة الكنوي بعد تمهيد عدة مقدمات اقول بعدتمهيد هذه المقدمات ان ذكري المولدنفسه ليس بدعة ضلالة لوجهين:

الوجه الاول : ان المولد عبارة عن ان يقراء آية من الآيات القرانية . اويروي حديث من احاديث النبوية . ويذكرشئ من الفضائل والمعجزات النبوية . ويضاف في الشرح بعض حالات ولادته صلى الله عليه وسلم .ونسبه الشريف والخوارق التي ظهرت في حين ولادته وقبلها .ونحوها. كذاحققه ابن حجرالمكي في (نعمة الكبرى على العالم بمولد سيد ولدادم وغيره من العلماء الحذاق المهرة وهذه الحقيقة كانت موجودة في العهد النبوي وعصرالصحابه وان لم تسم بهذه التسمية ولا يخفى على المحدثين الماهرين ان الصحابة رضي الله عنهم كانوا يذكرون الفضائل والشمائل

Download from: ketabton.com

النبوية . والحالات الراهنة عند ولادة ا لرسول المعظم صلى الله عليه وسلم وقد روي في الصحاح ان رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يضع لحسان منبراً في المسجد يقول عليه قائماً يفاخرعن رسول الله صلى الله عليه وسلم وينشد اشعاره في مدح رسول الله صلى الله عليه وسلم وكان رسول الله صلى الله عليه وسلم يدعوله ويقول ::اللهم ايده بروح القدوس . ولا يخفى على من طالع ديوان حِسان رضي الله عنه ان في قصائده ذكرت المعجزات النبوية واحوال الولادة السعيدة . والنسب الشريف وغيرها . وانشاد الاشعار بهذه الصفة في المجالس هو عين المولد . وقصة انشاده الاشعار في المسجد النبوي رويت في صحيح الامام البخاري رحمة الله عليه ومن شاء الاطلاع فليرجع اليه اوالى غيره فتح الباري ج١ص٥٤٨.رقم الحديث ٤٥٣.

فلا يظهر بين الذكرالمولد الذي مربيانه وبين هذه القصة فرق معتد به . الاان هذه القصة لم تسم بمحفل المولد . وهذاامراخر. ان اعترض ان نفس ذكر المولد وبيان الفضائل وغيره ثابت لكن ذكر المولد بهذه الصورة بآن يجمع له الرجال ويدعى الاحباب من البيوت لم يثبت،يجاب بان جمع الرجال وطلبهم لتبليغ العلم ونشره ثابت في الحديث كما ذكر فقيه ابوالليث السمرقندي رحمه الله تعالى عليه في كتابه تنبيه الغافلين: عن على بن ابي طالب قال:نزلت(اذاجاء نصرالله ) في مرض رسول الله صلى الله عليه وسلم فما لبث ان خرج اليوم الخميس فرقي المنبر وجلس عليه ثم دعابلالاوقال:نادفي المدينة ان اجتمعوا لوصية رسول الله عليه وسلم فنادى بلال فاجتمع صغيرهم وكبيرهم وتركواابواب بيوتهم مفتحة حتى خرجت العذاري من خدورهن حتى خض( قوله خض يقال غض مكان باهله امتلأبهم وضاق )المسجد باهله والنبي صلى الله عليه وسلم يقول ،وسعوا لمن وراء كم ثم قام فحمدالله واثنى عليه وصلى على الانبياء . ثم قال انا محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم العربي الحرمي المكي الحديث انتهى ملخصاً . وذكره في باب رفق٢٩٩. وفوق ذالک بان الكلام في المولدنفسه . واماالتخصيصات العرفية والامورالمحيطة به فان لم تثبت من هذالاجتماع الذي ذكره في الحديث لايلزم منه عدم جوازذكرى المولد ولايستلزم منع الاحتفال به.

دوجه ثاني خلاصه داده چي داخبره په احاديثو اوپه شرعي دلائلوثابته ده چي دهرفردله افردوڅخه دعلم شرعي په هروخت کښي چي وي تعليم اوتعلم شرعي کار دئ،نو داسلام دبيغمبردميلادپه مناسبت داسلام دپيغمبر سيرت اوحالات بيانول يااوريدل هم يوفرددئ له افرادو څخه دتعليم اودتعلم دعلم شرعي نوپه دي وجه داهم شرعي کاردئ اوودي خبري ته متبحرفقهاء اومستنبطين علماء کوم چي له اهله څخه دفتوى دي لکه ابوشامه حافظ ابن حجر اوامام سيوطي اوشامي اوامثال ددوئ تللي دي اوحکم يې کړيدئ په استحباب دذکردمولِد ،اود (الانوارالمحمدية من المواهب اللدنية )په ١٢٨او٢٩ صفحه کښي په دي اړه داسي راغلي دي . وارضعته صلى الله عليه وسلم ثويبة عتيقة ابي لهب اعتقها حين بشَّرَتْه بولادته عليه السلام وقدروءي ابولهب بعدموته فى النوم فقيل له ماحالک فقال في النار الاانه خُفِّف عنى في كل ليلة اثنين وامص من بين اصبعين هاتين ماءً واشاربرأس اِصبعيه وان ّذالک باعتاقي لثويبة عندما بشرتنى بولادة النبي صلى الله عليه وسلم وبأرضاعهاله صلى الله عليه وسلم.قال ابن الجزري فأذاكان

Download from: ketabton.com

هذا أبولهب الكافر الذي نزل القران بذمه جوزي بفرحه ليلة مولد النبي صلى الله عليه وسلم فما حال المسلم الموحد من امته صلى الله عليه وسلم يُسر بمولده ويبذل ماتصل اليه قدرته في محبته صلى الله عليه وسلم لعمري انما يكون جزاءه من الله الكريم ان يدخله بفضله العميم جنات النعيم ولازال اهل الاسلام يحتلفون بشهرمولده عليه الصلاة والسلام ويعملون الولائم ويتصدقون في لياليه بانواع الصدقات ويظهرون السرور ويزيدون في المبرات ويعتنون بقرائة مولده الكريم ويظهرعليهم من بركاته كل فضل عميم ومما جُرِّب من خواصه انه امان في ذالک العام وبشرى عاجلة بنيل البغية فرحم الله امرء اتخذ ليالي شهر مولده المبارکة اعيادًا .

قدرمنوورونو داسلام دپيغمبر دميلاددلمانځني دشرعي حکم په ارتباط مي دمعتمدوکتابو په حواله داسلام اوداهل السنت والجماعت دنامتوعلماؤ قولونه درته ذکرکړل چي له ټولو څخه مثبته نتيجه ترلاسه کيږي اووهغه چاته چي دحق تلاش کوي اودحق منونکي وي اودسليم عقل خاوند وي په ډير کافي ډو ل ذکرسوي تفصيل قناعت ورکونکئ دئ ددي سلسلي په اخرکښي زه عاجزهم غواړم چي خپل نظرومسلمانانوته ديوڅوجملوپه ضمن کښي تقديم کړم.

اوله جمله داده چي داسلام دپيغمبر دميلادلمانځنه چي په دغه مروج ډول داسلام په ابتدائې درو قرنو کښي نه کيدله اوبيا دعالم اسلام په ټولو اطرافواکنافوکښي پيل سوه نود پوښتني ځائ بايد داخبره وي چي داسلام په اولو دروقرنوکښي ولي دغه عظيم الشانه عمل نه ترسره کيدي ددي دپاره بايديو عذر اوعلت پيداسي اوله کومه وخته چي دغه عمل مسلمانانورواج کړيدئ ځماپه فکر دادسوال اودپوښتني ځائ نه دئ ځکه داسلام دپيغمبر دميلا ددلمانځني په عظمت کښي که صحيح فکروکړل سي اوسياسي اواجتماعي داخلي اوخارجي ديني اواخروي ګټي يې وڅيړلي سي نوبي اختياره دهرمسلمان وجدان اوعقل اوعلم پردي باندي حکم کوي چي مسلمانان ضروربايد دغه عمل هرکال دربيع الاول په مياشت کښي په ډيرجوش اوخروش سره ترسره کوي خو البته په دي شرط چي شرعي مقررات به په نظر کئ نيسي.

دوهمه جمله داده چي دري پيړي مخکي انګريزانو ځني جاسوسان واسلامي هيوادوته دپاره دفتني اوفساداچولوپه منځ کښي دمسلمانانو وليږل چي دهغو جاسوسانو څخه يو جاسوس همفرياهمفري نوميده دغه جاسوس چي کله دجاسوسي دوري پوره کړي بيايې يوکتاب جوړکړ چي هغه کتا ب يې هم دهمفرپه نامه ياديږي اواوس هم دغه کتاب په مختلفوهيوادوکښي په مختلفوژبوکښي وجود لري په دغه کتاب کښي ده هغه ټولي وظيفي ذکرکړيدي کومي چي دانګريزانو دحکمرانانو لخواودته سپارلي سوي وي اودارنګه يې هغه ټول اجراات په دغه کتاب کښي ذکرکړيدي کوم چي په اسلامي ملکوکښي ده د انګريزحکمرانانوددستورمطابق ترسره کړي وو ده په دي کتاب کښي ذکرکړيدي چي يوه وظيفه ماته داراکړه سويوه چي ته به په اسلامي هيوادوکښي کوښښ کوي چي دمسلمانانوتعلق داسلام د پيغمبرله اولادي څخه پري کړي ځکه چي دپيغمبرپه اولاد کښي هرڅوک چي مسلمانان يې ويني نوومسلمانانوته داسلام پيغمبر اودهغه حالات ورپيادوي. ددغه جاسوس په دغه خبره کښي که فکروکړ سی

Download from: ketabton.com

نوداخبره به وهرمسلمان ته په ډاګه سي چي داسلام دپیغمبر دمیلاد لمانځنه به پرکافرانوباندي په څونه لوړه کچه دغم اوددرد اثراچوي اونه لمانځل بي دکفارو څونه غټ اومهم مطلوب وي.

دریمه جمله داده چي داحادیثو په ټولومعتبرکتابوکښي دغه روایت مذکوردئ چي یوه یهودي وحضرت عمر رضی الله عنه ته وویل چي که دغه ایت چي (الیوم اکملت...الی اخرها )پرموږ یهودونازل سوئ وای نو موږ به هغه ورځ داختر ورځ ګرځولي وای حضرت عمرورته وفرمایل چي ددغه ایت دنزول ورځ زموږ ددواختروورځ ده ځکه چي دغه ایت دجمعي په ورځ نازل سویدئ چي په اسلام کښي یوه ستره مقدسه ورځ ده اوبل دعرفي په ورځ نازل سویدئ چي په سلام کښي له ډیرومقدسوورځوڅخه یوه بله ورځ ده ،که دحضرت عمرپه دغه کلام کښي غوروکړل سي نووهرسړي ته داخبره څرګندیږي چي په مسلمانانوباندي چي په کومه ورځ کښي یوستر الهي انعام سویوي نوهغه ورځ داختردورځي په شان بایدوګڼي، نوچي ددغه مبارک ایت دنزول ورځ ددي مستحقه سوه چي داختر دورځي په شان وبلله سی نوداسلام دپیغمبر صلی الله علیه وسلم دولادت ورځ به چي مبدأاوپیل پرعالم بشریت باندي دټولودنیوی اودیني اواخروي ستروسترو نعمتوده څنګه په دي سره حقداره نه وي چي ولمانځله سي اودیوستراختر په شان وګڼله سي.

څلورمه جمله داده چي که څوک په دي قول دخدای پاک کښي چي (ویتبع غیرسبیل المؤمنین) چي دسورة النساء ۱۱۵ایت دئ صحیح فکروکړي اودارنګه داسلام دپیغمبر صلی الله علیه وسلم په دغومبارکوحدیثوکښي په شرط دلیاقت اوپه شرط دعدم دتعصب تأمل اوتدبروکړي نوداسلام دپیغمبر دمیلاد دلمانځني دمشروعیت په باب به هیڅ شک اوشبهه ورته پاته نشي ، اوداخبره به هم ورته ثابته شي چي دمیلادالنبي علیه الصلاة واسلام لمانځنه په اسلام کښی په هیڅ معنی دبدعت کارنه دئ، بلکي داسلامی اصولوله مخی په شرعي دلائلوسره ثابت سوي عمل دئ حدیثونه دادي ،

)۱(قال النبي صلی الله علیه وسلم ( ان الله لایجمع امتي علي ضلالة) رواه الترمذی . کتاب الفتن باب لزوم الجماعة.

)۲ (مارأه المسلمون حسناً فهو عندالله حسن ...) رواه الحاکم في المستدرک ج۳ص۸۷.

)۳ (من سن في الاسلام سنة حسنةً فله اجرها واجرمن عمل بها ...) رواه مسلم في کتاب الزکاة باب الحث علی الصدقة.

محترمومسلمانانو!دا اخیردهغه څه دئ چي داسلام دپیغمبر دمیلادپه مناسبت می وتاسي محترموته تقدیم کړل له الله جل جلا له څخه یې دکامل ا جر امیدواریم.

Download from: ketabton.com